# د پیدایښت کتاب

## د کتاب پېژندنه

هر انسان غواړي په دې پوه شي چې هغه د کوم ځای څخه راغلی دی او هغه دنیا چې هغه په کې پیدا شوی دی، څنګه پیدا شوې ده. د پیدایښت کتاب د تورات لومړنی کتاب دی چې مهمو سوالونو ته ځواب ورکوي.

د پیدایښت د کتاب لومړی فصل د نړۍ د پیدا کېدلو او د لومړنیو انسانانو یعنې زموږ د نیکونو آدم او حوا په پیدا کېدلو سره پیل کیږي او د عدن په باغ کې د هغوی د ښه ژوند په اړه او وروسته بیا په ګناه کې د راګیرېدلو او د خدای د حضور څخه د شړلو په اړه دوام مومي. وروسته بیا د آدم او حوا د زامنو یعنې هابیل او قاین په اړه معلومات ورکوي او د یوولسم فصل تر پایه پورې د نوح، توفان او هغې کشتۍ په اړه چې نوح یې د خدای په لارښوونې سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړوي مونږ ته معلومات راکوي. د دې کتاب د دولسم فصل په پيل کېدلو سره د اسراييلو د لومړنيو نيکونو چې لومړنی يې ابراهيم ؤ چې په ايمانداری سره د خدای څخه په اطاعت کولو يې د ايماندارانو د پلار نوم وګاټه، دوام مومي. د پيدايښت کتاب وروسته بيا د ابراهيم د زامنو اسماعيل او اسحاق او د اسحاق د زوی يعقوب او همدارنګه د يعقوب د دولسو زامنو په اړه چې د اسراييلو د دولسو قبيلو بنياد ايښودونکي شول معلومات ورکولو ته دوام ورکوي. د پيدايښت د کتاب وروستنی برخه د يعقوب د يو زوی چې يوسف نوميږي د هغه په اړه چې مصر ته يې د يعقوب او د هغه د اولادې يعنې اسراييلو د هجرت شرايط برابر کړل پای ته رسيږي.

د پيدايښت کتاب کوم افسانوی کتاب نه دی چې پيل يې له دې څخه وشي چې په تېرو زمانو کې څه وو او څه نه وو، بلکې مونږ ته معلومات راکوي چې نړی څنګه پيدا شوه او د انسان په ژوند کې ګناه څنګه راپيدا شوه. دا يو ليکل شوی تاريخ دی. دا تاريخ په پنځوسو فصلونو کې په داسې شکل سره بيان شوی دی چې د هر انسان پام ځانته را اړوي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خدای دې وکړي چې د دې کتاب لوستل ستاسو دپاره د برکت سبب وګرځي او د تلپاتې ژوندون هغه نعمت مو په برخه شي چې خدای غواړي تاسو ته یې درکړي.

## د موضوعګانو لست:


د کایناتو او انساني نسل پیدایښت ۱:۱ – ۲:۲۵

د ګناه پیل کېدل او د انسان رالوېدل ۳:۱–۲۴

د آدم څخه تر نوح پورې ۴:۱ – ۵:۳۲

نوح او سېلاب ۶:۱ – ۱۰:۳۲

د بابل برج ۱۱:۱–۹

د سام څخه تر ابراهیم پورې ۱۱:۱۰–۳۲

ابراهیم، اسحاق او یعقوب ۱۲:۱ – ۳۵:۲۹




Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د عیسو اولاده ۳۶:۱–۴۳

یوسف او د هغه ورونه ۳۷:۱ – ۴۵:۲۸

اسراییلیان په مصر کې ۴۶:۱ – ۵۰:۲۶

# نړۍ څنګه پیدا شوه

۱ په پیل کې خدای ځمکه او اسمانونه پیدا کړل. ۲ ځمکه
خالي او بېشکله وه او د ژورو اوبو په مخ باندې تیاره وه او د
خدای روح د اوبو په مخ باندې ګرځېده. ۳ خدای وویل: «رڼا دې
شي» او رڼا شوه. ۴ خدای رڼا ولیدله چې ښه ده او هغه رڼایي د
تیارې څخه بېله کړه. ۵ خدای رڼا د ورځې په نوم یاده کړه او تیاره
یې د شپې په نوم یاده کړه، ماښام ؤ او سهار شو. دا لومړۍ ورځ وه.

۶ خدای وویل: «د اوبو ترمنځ دې فضا وي چې پاسنۍ اوبه د
لاندې اوبو څخه بېلې کړي.» ۷ خدای فضا جوړه کړه او د فضا
لاندې اوبه یې د پاسنیو اوبو څخه بېلې کړې او همداسې وشول. ۸


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای فضا د اسمان په نوم یاده کړه، ماښام ؤ او سهار شو. دا
دوهمه ورځ وه.

۹ خدای وویل: «د اسمان لاندې اوبه دې په یو ځای کې
راټولې شي او وچه دې ښکاره شي» او همداسې وشول. ۱۰ خدای
وچه د ځمکې په نوم یاده کړه او اوبه یې د بحرونو په نوم یادې
کړې او خدای ولیدل چې دا ښه دي. ۱۱ خدای وویل: «ځمکه دې
بوټي راشنه کړي. هغه تخم لرونکي نباتات، مېوه لرونکې ونې چې
خپل جنس او شکل ته ورته مېوه او تخم د ځمکې په مخ ونیسي.»
او همداسې وشول. ۱۲ ځمکې هغه بوټي راشنه کړل چې د خپل
جنس په شان تخم نیسي او هغه مېوه لرونکې ونې چې د هغو تخم د
هغوی د جنس په شان وي او خدای ولیدل چې دا ښه دي. ۱۳
ماښام ؤ او سهار شو. دا درېمه ورځ وه.

۱۴ خدای وویل: «د اسمان په فضا کې دې رڼاګانې وي چې
ورځ د شپې څخه بېله کړي او هغه دې د نښو په شان د ورځو،
فصلونو او کلونو دپاره وي، ۱۵ او د اسمان په فضا کې دې رڼاګانې
وي چې ځمکه روښانه کړي» او همداسې وشول. ۱۶ خدای دوه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لويې رڼاګانې جوړې کړې، لمر يې د ورځې د رڼا ورکولو دپاره او
سپوږمۍ يې د شپې د رڼا ورکولو دپاره او ستوري يې هم جوړ کړل.
۱۷ خدای هغوی د اسمان په فضا کې ځای په ځای کړل، ترڅو
ځمکې ته رڼايي ورکړي، ۱۸ چې شپه او ورځ ورباندې رڼا شي او
رڼا د تيارې څخه بېله کړي او خدای وليدل چې دا ښه دي. ۱۹
ماښام ؤ او سهار شو، دا څلورمه ورځ وه.

۲۰ خدای وويل: «اوبه دې د ژونديو موجوداتو څخه ډکې شي او
مرغان دې د ځمکې دپاسه د اسمان په فضا کې والوزي.» ۲۱ نو
خدای لوی بحري حيوانات او د مخلوقاتو ټول ډولونه چې په اوبو
کې اوسيږي جوړ کړل. هغه همدارنګه ډول ډول مرغان پيدا کړل او
خدای وليدل چې دا ښه دي. ۲۲ خدای هغوی ته برکت ورکړ او ويې
ويل: «بارداره او زيات شئ او بحيرې ډکې کړئ او مرغان دې د
ځمکې په مخ زيات شي.» ۲۳ ماښام ؤ او سهار شو. دا پنځمه ورځ
وه.

۲۴ خدای وويل: «په ځمکه کې دې هر ډول ژوندي حيوانات د
دوی د جنس په شان راپيدا شي، کورني حيوانات او وحشي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

حیوانات او خزندې دي د هغوی د جنس په شان راپیدا کړي» او همداسې وشول. ۲۵ نو خدای وحشي حیوانات د هغو د جنس په شان او کورني حیوانات او خزندې د هغوی د جنس په شان جوړ کړل او خدای ولیدل چې دا ښه دي.

۲۶ خدای وویل: «مونږ به انسان په خپل شکل او زمونږ په شان جوړ کړو ترڅو دوی په ماهیانو، مرغانو، کورني حیواناتو، په ټوله ځمکه او خزندو باندې حکم وچلوي.» ۲۷ نو خدای انسان په خپل شکل پیدا کړ، هغه یې د خدای په شکل پیدا کړ. هغوی یې نر او ښځه پیدا کړل. ۲۸ خدای هغوی ته برکت ورکړ او ویې ویل:
«بارداره او زیات شئ او ځمکه د خلکو څخه ډکه کړئ او د خپل واک لاندې یې راولئ او په ماهیانو، مرغانو او په ټولو حیواناتو باندې حکم چلوئ.»

۲۹ خدای وویل: «ما تاسو ته د ځمکې په مخ باندې ستاسو د خوراک دپاره هغه بوټي او هغه میوه‌لرونکې ونې درکړي دي چې تخم نیسي. ۳۰ ما ټولو وحشي حیواناتو، مرغانو، خزندو او هغو ټولو ته چې د ژوندون ساه په کې ده، ټول شنه بوټي د هغوی د خوراک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ورکړل.» او همداسې وشول.

٣١ هر هغه څه چې خدای جوړ کړي وو، هغه یې ولیدل چې ټول ډېر ښه وو! ماښام ؤ او سهار شو. دا شپږمه ورځ وه.

١ نو ځمکه او اسمانونه او نور ټول شیان جوړ شول. ٢ په اوومه ورځ خدای هغه ټول کارونه چې کول یې، سرته ورسول او کار یې بس کړ. ٣ خدای اوومه ورځ مبارکه وبلله او هغه یې ځانګړې وګرځوله، ځکه چې په هغه ورځ هغه پیدایښت پوره کړ او کار یې بس کړ. ٤ په دې ډول ځمکه او اسمانونه پیدا شول.

## د عدن باغ

کله چې څښتن خدای اسمانونه او ځمکه جوړ کړل، ٥ تر هغه وخته پورې لا هېڅ واښه یا نور بوټي راشنه شوي نه وو، ځکه چې څښتن خدای باران نه ؤ اورولی او څوک نه ؤ چې په ځمکه باندې کار وکړي. ٦ نو د ځمکې څخه د اوبو ویالې راووتلې او د ځمکې مخ ته یې اوبه ورکړې.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۷ څښتن خدای خاوره راواخیستله او د هغې څخه یې انسان جوړ کړ او د هغه په پوزه کې یې د ژوندون روح پو کړ او هغه ژوندی بدن شو. ۸ څښتن خدای په عدن کې لمرخاته خواته یو باغ جوړ کړ او هغه انسان چې هغه جوړ کړی ؤ، هغه ته یې په دې باغ کې ځای ورکړ. ۹ څښتن خدای په دې باغ کې هر ډول ښایسته او مېوه لرونکې ونې راشنې کړلې او د باغ په منځ کې دوه نورې ونې وې. یوه د ژوندانه ونه او بله د ښو او بدو د پېژندلو ونه.

۱۰ د عدن څخه یو سیند جاري شو چې باغ ته اوبه ورکړي او دا سیند بیا په څلورو سیندونو باندې ووېشل شو. ۱۱ د لومړني سیند نوم فیشون دی چې د حویله په ټول هېواد باندې راتاو شوی دی او هلته سره زر دي، ۱۲ چې د هغه ځای سره زر ډېر ښه دي. د خوشبویۍ مواد او د عقیقو تیږې هم په کې پیدا کیږي. ۱۳ دوهم یې د جیحون سیند دی چې د کوش د ټولې ځمکې څخه راتاو شوی دی. ۱۴ دریم سیند د دجلې په نوم یادیږي چې د آشور لمرخاته خواته بهیږي او څلورم د فرات سیند دی.

۱۵ نو څښتن خدای آدم ته د عدن په باغ کې ځای ورکړ چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه خدمت او ساتنه وکړي. ۱۶ څښتن خدای آدم ته وویل: «د باغ
د ټولو ونو څخه مېوه خوړلی شې. ۱۷ خو د ښو او بدو د پېژندلو د
ونې څخه نه، ځکه کله چې د هغې ونې مېوه وخورې بې له شکه
چې مړ به شې.»

۱۸ څښتن خدای وویل: «دا ښه نه دی چې آدم دې یوازې
اوسي، زه به د هغه دپاره یوه مناسبه ملګرې جوړوم چې د هغه سره
مرسته وکړي.» ۱۹ نو بیا څښتن خدای د خاورې څخه ټول
حیوانات او مرغان جوړ کړل او هغه یې آدم ته راوستل، ترڅو
وګوري چې په هغوی باندې کوم نوم ږدي. په دې ډول په هغوی
ټولو باندې نومونه کېښودل شول. ۲۰ نو آدم په ټولو کورني او
وحشي حیواناتو او مرغانو باندې نومونه کېښودل.

د هغوی څخه یو هم د آدم دپاره مناسب ملګری نه ؤ. ۲۱ نو
څښتن خدای آدم په درانه خوب باندې ویده کړ او د هغه د پوښتیو
څخه یې یوه راواخیستله او د هغې ځای یې په غوښه باندې ډک کړ.
۲۲ څښتن خدای د هغې پوښتۍ څخه ښځه جوړه کړه او هغه یې
آدم ته راوستله. ۲۳ آدم وویل:


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دلته اوس شته یو ځوک زما په شان

اخیستل شوی يې هډوکی زما د هډوکو څخه

او غوښه يې زما د غوښې څخه

د هغې نوم دی ښځه

ځکه اخیستل شوې هغه د سړي څخه ده

۲۴ له همدې امله سړی خپل مور او پلار پرېږدي او د خپلې ښځې سره یوځای کیږي او دواړه یو بدن شي.

۲۵ سره د دې چې آدم او د هغه ښځه دواړه لوڅ وو، خو دوی نه شرمېدل.

## د انسان لومړنی ګناه

۱ د هغو ټولو وحشي حیواناتو د ډلې څخه چې څښتن خدای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړي وو، مار ډېر مکرجن ؤ. یوه ورځ هغه ښځې ته راغی او
پوښتنه یې ترې وکړه: «ایا په رښتیا خدای تاسو ته ویلي دي چې په
باغ کې د هېڅ یوې ونې مېوه ونه خورئ؟» ۲ ښځې ځواب ورکړ:
«خدای ویلي دي چې موږ کولای شو د باغ د ټولو ونو د مېوو
څخه وخورو، ۳ بې له هغې ونې څخه چې د باغ په منځ کې ده.
هغه موږ ته ویلي دي چې د هغې ونې مېوه مه خورئ او حتی هغې
ته لاس هم مه وروړئ، که داسې مو وکړل، نو تاسو به مړه شئ.» ۴
مار ښځې ته وویل: «ډاډه اوسئ، تاسو به مړه نه شئ. ۵ خدای
پوهیږي چې که چیرې تاسو د دې ونې مېوه وخورئ، نو ستاسو
سترګې به خلاصې شي او تاسو به د خدای په شان شئ او په ښو او
بدو شیانو باندې به پوه شئ.» ۶ ښځې ونې ته په ځیر وکتل او هغه
ونه د هغې په نظر کې ښکلې او مېوه یې خوندوره ښکاره شوه، فکر
یې وکړ چې دا ونه به د پوهې د حاصلولو دپاره ځومره ښه وي. نو
هغه مېوه یې راواخیستله او ویې خوړله او خپل مېړه ته یې چې د
هغې سره ؤ، هم ورکړه او هغه هم وخوړله. ۷ په هماغه وخت کې د
هغوی سترګې وغړېدلې او پوه شول چې لوڅ دي، نو د انځر پاڼې یې
یو تر بله سره وګنډلې او ځانونه یې ورباندې پټ کړل.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۸ مازدیګر کله چې باد لګېده، آدم او د هغه ښځې د څښتن
خدای د قدمونو اواز واورېد چې په باغ کې ګرځېده. هغوی ووېرېدل
او ځانونه يې د ونو ترشا پټ کړل. ۹ څښتن خدای په آدم باندې
غږ وکړ: «ته چېرته يې؟» ۱۰ هغه ځواب ورکړ: «په باغ کې مې ستا
د قدمونو اواز واورېد، ووېرېدم او خپل ځان مې پټ کړ، ځکه چې
لوڅ وم.» ۱۱ خدای ورڅخه پوښتنه وکړه: «چا درته وویل چې ته
لوڅ يې؟ ايا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ما درته ويلي وو
چې هغه مه خوره؟» ۱۲ آدم وويل: «هغې ښځې چې تا ماته راکړې
ده، دا مېوه راکړه او ما وخوړله.» ۱۳ نو څښتن خدای د ښځې څخه
پوښتنه وکړه: «تا څه وکړل؟» ښځې ځواب ورکړ: «مار زه وغولولم
او ما هغه مېوه وخوړله.»

۱۴ نو څښتن خدای مار ته وويل: «په دې سبب چې تا دا کار
کړی دی، ته به د نورو ټولو کورني او وحشي حيواناتو څخه زيات
لعنتي يې! ټول عمر به په سينه باندې ښويېږې او خاورې به خورې.
۱۵ زه به داسې وکړم چې ته او دا ښځه به د يو بل څخه کرکه کوئ.
ستا د نسل او د ښځې د نسل ترمنځ به تل دښمني وي. هغه به ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سر ټکوي او ته به د هغه پونده چیچې.»

۱۶ څښتن خدای ښځې ته وویل: «د اولاد د زېږولو په وخت کې
به ستا دردونه زیات کړم، خو ته به د مېړه شوق کوې او هغه به په تا
باندې حکم چلوي.»

۱۷ څښتن آدم ته وویل: «دا چې تا د خپلې ښځې خبره اورېدلې
ده او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چې ما درته ویلي وو چې هغه
ونه خورې، نو دا ځمکه ستا په سبب لعنتي شوه او ته به ټول عمر د
هغې څخه په ډېر زحمت سره خوراک لاسته راوړې. ۱۸ ځمکه به
هرزه بوټي او اغزي راشنه کوي او ته به ځنګلي بوټي خورې. ۱۹ د
خپل تندي په خولو باندې به خواړه ترلاسه کوې، تر هغه وخته
پورې چې بېرته هغې خاورې ته وروګرځې د کومې څخه چې جوړ
شوی یې، ځکه چې ته خاوره یې او بېرته به خاورې ته ورګرځې.»

۲۰ آدم په خپلې ښځې باندې حوا نوم کېښود ځکه چې هغه به د
ټولو انسانانو مور وي. ۲۱ څښتن خدای د آدم او د هغه د ښځې
دپاره د حیوان د پوستکي څخه کالي جوړ کړل او هغوی ته یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورواغوستل.

## آدم او حوا له باغ څخه شړل کیږي

٢٢ څښتن خدای وویل: «اوس چې آدم زموږ په شان شو چې
ښه او بد پېژني، باید دا اجازه ورنه کړای شي چې د ژوندانه د ونې
څخه مېوه وخوري او تر ابده پورې ژوندی پاتې شي.» ٢٣ نو
څښتن خدای دوی د عدن د باغ څخه وشړل چې لاړ شي او په
هغې ځمکې باندې کار وکړي چې د هغې د خاورې څخه آدم جوړ
شوی ؤ. ٢۴ آدم یې وشاړه او د عدن د باغ لمرخاته خواته د ننوتلو
په دروازه کې یې اسماني مخلوقات او هغه اور لرونکې توره چې
هرې خواته به تاوېدله، ودرول، ترڅو څوک ونه شي کولای چې د
ژوندانه ونې ته ورننږدې شي.

## قاین او هابیل

١ آدم د حوا سره یوځای شو او حوا امیدواره شوه او زوی یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیدا شو. حوا وویل: «زه به په هغه باندې قاین نوم کېږدم، ځکه چې هغه مې د څښتن په مرسته راوړ.» ٢ وروسته بیا د هغې بل زوی هابیل پیدا شو. هابیل شپون شو، خو قاین بزګر شو. ٣ لږه موده وروسته قاین د خپلې ځمکې د حاصلاتو یوه برخه د څښتن حضور ته نذرانه وړاندې کړه. ٤ او هابیل هم خپل لومړنی زېږول شوی وری قرباني کړ او ډېره ښه برخه یې د څښتن حضور ته نذرانه وړاندې کړه. څښتن هابیل او د هغه نذرانه قبوله کړه. ٥ خو قاین او د هغه نذرانه یې قبوله نه کړه، نو قاین ډېر په قهر شو او خپل سر یې ښکته واچاوه. ٦ څښتن قاین ته وویل: «ته ولې په قهر شوې؟ او ولې دې خپل سر ښکته اچولی دی؟ ٧ که ښه کار دې کړی وای، ایا قبول شوی به نه وای؟ خو ښه دې نه دي کړي. اوس ګناه د دې موقعې په لټه کې ده چې په تا باندې حمله وکړي، هغه غواړي چې حکم درباندې وچلوي، خو ته باید په هغې باندې غالب شې.»

٨ قاین خپل ورور هابیل ته وویل: «راځه چې پټي ته لاړ شو.» هغه وخت چې دوی په پټي کې وو، قاین په خپل ورور هابیل باندې حمله وکړه او ویې واژه. ٩ بیا څښتن د قاین څخه پوښتنه وکړه:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ستا ورور هابیل چېرته دی؟» هغه ځواب ورکړ: «زه څه خبر یم؟ ایا زه د خپل ورور ساتونکی یم؟» ۱۰ بیا څښتن ووېل: «تا څه وکړل؟ خپل ورور دې ووژلو او د هغه وینه په ځمکه باندې تویه شوه. اوس ستا د ورور وینه ماته فریاد کوي چې سزا درکړم. ۱۱ زه به په تا باندې لعنت ووایم، ځکه چې تا هابیل ووژلو او د هغه وینه دې په ځمکه باندې توی کړه. ته به هېڅکله په دې ځمکه باندې کښت ونه کړې. ۱۲ که ته په دې ځمکه باندې خواري وکړې، هغه به ستا دپاره هېڅ حاصل درنه کړي. ته به بې‌کوره یې او خپل پاتې عمر به بې‌کوره او په سرګردانۍ کې تېروې.» ۱۳ قاین ووېل: «ته ماته داسې سخته سزا راکوې چې زه یې د زغملو توان نه لرم. ۱۴ ما نن د دې خاورې څخه شړې، چې خپل کور پرېږدم او ستا د حضور څخه لیرې لاړ شم. زه به بې‌کوره او سرګردانه ګرځم او هرڅوک چې ما پیدا کړي، نو وبه مې وژني.» ۱۵ څښتن ځواب ورکړ: «نه! که څوک تا ووژني، زه به هغه ته اووه چنده سزا ورکړم.» نو څښتن په قاین باندې یوه نښه کېښودله چې دا به د هغه چا دپاره خبرداری وي څوک چې وغواړي قاین ووژني. ۱۶ قاین د څښتن د حضور څخه لاړ. هغه په نود یعنې سرګردانۍ نومې ځای کې چې د عدن لمرخاته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواته پروت ؤ، ژوند اختيار کړ.

## د قاين اولاده

١٧ قاين د خپلې ښځې سره يوځاى شو او زوى يې پيدا شو او
په هغه باندې يې خنوخ نوم کېښود. هغه يو ښار جوړ کړ او د خپل
زوى خنوخ نوم يېورباندې کېښود. ١٨ د خنوخ څخه عيراد پيدا
شو او د عيراد څخه محويايېل پيدا شو، د محويايېل څخه متوشايېل
پيدا شو او د متوشايېل څخه لمک پيدا شو. ١٩ لمک دوه ښځې
وکړې، د يوې نوم عاده ؤ او د بلې نوم ظله ؤ. ٢٠ د عادې څخه
يابال پيدا شو او هغه لومړنى کس ؤ چې کوروني حيوانات يې روزل
او په خېمو کې اوسېده. ٢١ د هغه د ورور نوم يوبال ؤ او هغه
لومړنى کس ؤ چې رباب او شپېلۍ به يې وهله. ٢٢ د ظلې څخه هم
توبل قاين پيدا شو او هغه اهنګر ؤ او د برنجو او اوسپنې څخه به يې
د کار هر ډول وسايل جوړول. نعمه د توبل قاين خور وه.

٢٣ يوه ورځ لمک خپلو ښځو ته وويل:


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ای عادې او ظلې زما خبرې واورئ

ما یو ځوان سړی وژلی ځکه زه یې وم وهلی

۲۴ که بدل د قاین اخیستل کیږي اووه واري

نو د لمک به اخیستی شي اووه اویا واري

## شیت او انوش

۲۵ آدم بیا د خپلې ښځې سره یوځای شو او زوی یې پیدا شو او
د هغه نوم یې شیت کېښود. هغې وویل: «دا ځکه چې خدای ماته د
هابیل په ځای چې د خپل ورور قاین له لاسه ووژل شو، بل زوی
راکړ.» ۲۶ د شیت زوی پیدا شو او د هغه نوم یې انوش کېښود. په
همدې وخت کې خلکو د څښتن عبادت کول پیل کړل.

## د آدم اولاده

(لومړی تواریخ ۱:۱–۴)


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ دا د آدم د اولادې لست دی. کله چې خدای انسان پیدا کړ،
هغه يې د خپل ځان په شان پیدا کړ. ٢ هغوی یې نر او ښځه پیدا
کړل او برکت يې ورته ورکړ او هغوی یې انسانان وبلل. ٣ آدم د
یوسلو دېرش کالو ؤ چې د هغه زوی پیدا شو چې د هماغه په شان
ؤ او په هغه باندې یې شیت نوم کېښود. ٤ د شیت د پیدا کېدلو
څخه وروسته آدم اته سوه کاله نور هم ژوندی ؤ او نور زامن او
لورګانې یې پیدا شوې. ٥ نو آدم د نهه سوه دېرشو کالو په عمر ؤ
چې مړ شو.

٦ شیت د یوسلو پنځو کالو ؤ چې د هغه زوی انوش پیدا شو.
٧ او وروسته له هغې چې دی د انوش پلار شو، شیت اته سوه اووه
کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا شوې ٨ او په نهه
سوه دولس کلنۍ کې مړ شو.

٩ انوش د نوي کالو په عمر ؤ چې زوی یې پیدا شو او د هغه
نوم یې قینان کېښود. ١٠ وروسته له دې چې هغه د قینان پلار شو
انوش اته سوه پنځلس کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې یې پیدا
شوې ١١ او په نهه سوه پنځه کلنۍ کې مړ شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ قينان اويا کلن ؤ چې د هغه زوی مهلليل پيدا شو. ۱۳
وروسته له دې چې هغه د مهلليل پلار شو، قينان اته سوه څلوېښت
کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې ۱۴ او په نهه
سوه لس کلنۍ کې مړ شو.

۱۵ مهلليل پنځه شپېته کلن ؤ چې د هغه زوی يارد پيدا شو. ۱۶
مهلليل د يارد د زېږېدلو څخه وروسته اته سوه دېرش کاله ژوند
وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې ۱۷ او په اته سوه پنځه
نوي کلنۍ کې مړ شو.

۱۸ يارد د يوسلو دوه شپېته کالو ؤ چې د هغه زوی خنوخ پيدا
شو. ۱۹ وروسته له دې چې هغه د خنوخ پلار شو، يارد اته سوه کاله
ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې ۲۰ او په نهه سوه
دوه شپېته کلنۍ کې مړ شو.

۲۱ خنوخ د پنځه شپېته کالو ؤ چې د هغه زوی متوشالح پيدا
شو. ۲۲ وروسته له دې چې هغه د متوشالح پلار شو، خنوخ درې
سوه کاله د خدای سره په دوستۍ کې تېر کړل او نور زامن او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لورګاني يې پيدا شوې. ۲۳ خنوخ درې سوه پنځه شپېته کاله ژوند وکړ. ۲۴ هغه د خدای سره په دوستۍ کې خپل ژوند تېر کړ او له هغې نه وروسته هغه د سترګو څخه پناه شو، ځکه چې خدای هغه پورته بوته.

۲۵ متوشالح د يوسلو اووه اتيا کالو ؤ چې د هغه زوی لمک پيدا شو. ۲۶ وروسته له دې چې هغه د لمک پلار شو، متوشالح اووه سوه دوه اتيا کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوې ۲۷ او په نهه سوه نهه شپېته کلنۍ کې مړ شو.

۲۸ لمک د يوسلو دوه اتيا کالو ؤ چې د هغه زوی پيدا شو. ۲۹ لمک وويل: «دا به زمونږ دپاره په ستونزو، په سخت کار او د لاسونو په تېاکو کې تسلي وي چې مونږ يې په هغې ځمکې باندې کوو چې ښبنتن ورباندې لعنت ويلی دی.» نو په هغه باندې يې نوح نوم کېښنود. ۳۰ وروسته له دې چې نوح پيدا شو، لمک پنځه سوه پنځه نوي کاله ژوند وکړ او نور زامن او لورګاني يې پيدا شوې ۳۱ او په اووه سوه اووه اويا کلنۍ کې مړ شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(٣٢) وروسته له دې چې نوح د پنځه سوه کالو شو، د هغه درې زامن پیدا شول چې سام، حام او یافت نومېدل.

## د انسان بدکاري

(١-٢) کله چې د انسانانو شمېر د ځمکې په مخ په زیاتېدلو شو او د هغوی لورګانې پیدا شوې، نو د هغوی څخه ځینې دومره ښکلې وې چې د اسماني مخلوقاتو ډېرې خوښې شولې او د هرې یوې سره یې چې غوښتل ودونه یې وکړل. (٣) هغه وخت څښتن وویل: «زه به انسان پرېنږدم چې هغه د تل دپاره ژوندی وي او عمر به یې د یوسلو شلو کالو څخه زیات نه وي، ځکه چې هغه فاني دی.» (٤) کله چې فرښتو د انسانانو د لورګانو سره ودونه وکړل، د هغوی څخه ډېر لوی او قوي انسانان پیدا شول او د پخوانی زمانې او حتی وروسته هم مشهور جنګیالي وو.

(٥) څښتن ولیدل چې په نړۍ کې د انسان بدکاري زیاته شوې ده او د دوی ټول خیالونه او ارادې تل بدې دي. (٦) نو څښتن پښېمانه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شو او هغه خفه شو چې انسان يې د ځمکې په مخ پيدا کړی دی.
٧ نو هغه ووېل: «زه به د ځمکې د مخ څخه ټول ژوندي مخلوقات له منځه يوسم! زه به انسانان، حيوانات، مرغان او خزندې له منځه يوسم. زه پښېمانه يم چې دوی مې پيدا کړل.» ٨ خو څښتن د نوح څخه راضي ؤ.

# نوح

٩ دا د نوح کيسه ده. نوح په خپله زمانه کې نېک او پرهېزګار سړی ؤ او خدای ته ډېر نژدې ؤ. ١٠ هغه درې زامن درلودل: سام، حام او يافت. ١١ خو د خدای په نظر کې ځمکه د فساد څخه ډکه شوې وه او د ظلم زياتي لمن هرې خواته خپره شوې وه. ١٢ خدای وليدل چې دنيا فاسده شوې ده، ځکه چې ټول انسانان بې‌لارې شوي او فاسد شوي دي.

١٣ خدای نوح ته ووېل: «ما دا پرېکړه کړې ده چې ټول انساني نسل له منځه يوسم، ځکه چې دنيا د دوی د زورزياتي د عملونو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه ډکه شوې ده. ۱۴ د ځان دپاره د ډېرو ښو لرګيو څخه کشتۍ جوړه کړه، په هغې کې کوټې جوړې کړه او دننه او دباندې ورته د قير پوښ ورکړه. ۱۵ هغه داسې جوړه کړه چې اوږدوالی يې يوسلو پنځه دېرش متره، سور يې دوه ويشت متره او لوړوالی يې ديارلس متره وي. ۱۶ په کشتۍ باندې يو بام جوړ کړه او د پنځه ځلوېښت سانتي مترو په شاوخوا کې د بام او د کشتۍ د اړخ ترمنځ فاصله پرېږده. کشتۍ درې منزله جوړه کړه او په يوه اړخ کې ورته دروازه جوړه کړه. ۱۷ زه په ځمکه باندې سېلاب راولم چې ټول ژوندي موجودات له منځه يوسي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي، مړه شي. ۱۸ خو زه به ستا سره لوظ وکړم چې ته به د خپلې ښځې، خپلو زامنو، او د خپلو زامنو د ښځو سره کشتۍ ته ورننوځې. ۱۹ د ټولو ژونديو مخلوقاتو څخه يوه يوه جوړه نر او ښځه د ځان سره کشتۍ ته راوله، ترڅو هغه ژوندي وساتې. ۲۰ د هر ډول مرغانو، حيواناتو او خزندو څخه به دوه دوه تاته راشي، ترڅو هغه ژوندي وساتې. ۲۱ د خپل ځان او هغوی دپاره هر ډول خواړه د ځان سره واخله او ذخيره يې کړه.» ۲۲ نو نوح ټول کارونه د خدای د حکم سره سم سرته ورسول.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# سېلاب

۱ څښتن نوح ته وويل: «د خپلې ټولې کورنۍ سره کشتۍ ته
ننوځه، ځکه چې په ټوله دنيا کې مې يوازېنی سړی ته وليدلې چې
نېک کارونه کوې. ۲ د ټولو پاکو حيواناتو څخه اووه، اووه جوړې
نر او ښځه او د ناپاکو حيواناتو څخه يوه يوه جوړه نر او ښځه د
ځان سره واخله. ۳ او همدارنګه د هر ډول مرغانو څخه اووه
جوړې نر او ښځه واخله، ترڅو د هغوی نسل د ځمکې په مخ باندې
ژوندی پاتې شي. ۴ ځکه چې زه به له اووه ورځو وروسته په
ځمکه باندې څلوېښت شپې او څلوېښت ورځې باران وورووم او ټول
ژوندي مخلوقات چې ما جوړ کړي دي، هغه به له منځه يوسم.» ۵
نوح هغه ټول کارونه سرته ورسول چې څښتن ورته حکم کړی ؤ.

۶ نوح د شپږ سوه کالو په عمر ؤ چې په ځمکه باندې سېلاب
راغی. ۷ نوح او د هغه زامن او ښځه او د زامنو ښځې يې د سېلاب
څخه د ژغورلو په خاطر کشتۍ ته ننوتل. ۸-۹ لکه څنګه چې خدای
نوح ته حکم کړی ؤ، د پاکو او ناپاکو حيواناتو څخه او د مرغانو او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خزندو څخه یوه یوه جوړه نر او ښځه نوح ته راغلل او کشتۍ ته
ورننوتل. ۱۰ نو اووه ورځې وروسته سېلاب راغی.

۱۱ نوح شپږ سوه کلن ؤ او د دوهمې میاشتې په اوولسمه ورځ د
ځمکې لاندې ژورو ځایونو څخه اوبه راووتلې او د اسمان دروازې
خلاصې شوې. ۱۲ څلوېښت شپې او څلوېښت ورځې په ځمکه
باندې باران واورېده. ۱۳ په هماغه ورځ نوح او د هغه زامن، سام،
حام او یافت او د نوح ښځه او د هغه د زامنو درې ښځې کشتۍ ته
ورننوتل. ۱۴ د هغوی سره د هر ډول کورني او وحشي حیواناتو،
خزندو او د هر ډول مرغانو ۱۵ یعنې د ژوندیو مخلوقاتو څخه یوه
یوه جوړه نوح ته راغله او کشتۍ ته ننوتل. ۱۶ لکه څنګه چې خدای
حکم کړی ؤ، هغوی د هر ژوندي مخلوق څخه نر او ښځه ننوتل. نو
څښتن هغوی پسې دروازه وتړله.

۱۷ باران څلوېښت ورځې واورېد او اوبه د ځمکې په مخ زیاتې
شوې او کشتۍ یې پورته کړه او د ځمکې څخه اوچته شوه. ۱۸ اوبه
ډېرې پورته شوې او کشتۍ د اوبو په مخ باندې روانه شوه. ۱۹ اوبه
تر دې اندازې زیاتې شوې چې د اسمان لاندې ټول لوړ غرونه یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پټ کړل. ۲۰ اوبه د غرونو د څوکو څخه اووه متره اوچتې شوې. ۲۱ د ځمکې په مخ هر ژوندی موجود یعنې کورنې او وحشي حیوانات، مرغان، خزندې او انسانان ټول مړه شول. ۲۲ د ځمکې په مخ ټول ساه لرونکې مړه شول. ۲۳ څښتن د ځمکې په مخ ټول ژوندي مخلوقات، انسانان او حیوانات، خزندې او مرغان له منځه یوووړل او یوازې نوح او هغوی چې په کشتۍ کې ورسره وو، پاتې شول. ۲۴ اوبه یوسلو پنځوس ورځې وروسته مخ په کمېدلو شوې.

## د سیلاب پای ته رسېدل

۱ خدای نوح او هغه ټول حیوانات چې په کشتۍ کې د هغه سره وو را په یاد کړل، نو خدای په ځمکه باندې باد راوالوزاوه او اوبه په کمېدلو شوې. ۲ خدای د ځمکې لاندې اوبه او د اسمان د اوبو دروازې بندې کړې او باران ودرېده. ۳ په یوسلو پنځوسو ورځو کې اوبه ورو، ورو د ځمکې د مخ څخه کمې شوې. ۴ او د اوومې میاشتې په اوولسمه ورځ کشتۍ د ارارات په غرونو باندې ودرېدله. ۵ اوبه کمې شوې او د لسمې میاشتې په لومړۍ ورځ د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

غرونو څوکې ښکاره شوې.

۶ وروسته له څلوېښتو ورځو نوح د کشتۍ کړکۍ خلاصه کړه
۷ او یو کارغه یې دباندې ولېږه، خو کارغه به یو خوا او بل خواته
الوت، تر هغې پورې چې ځمکه وچه شوه. ۸ نوح غوښتل پوه شي
چې ایا د ځمکې په مخ باندې اوبه کمې شوې دي یا نه، نو یوه
کوتره یې والوزوله. ۹ خو کوترې د خپل ځان دپاره د ناستې ځای
پیدا نه کړ ځکه چې د ځمکې په مخ باندې لا اوبه ولاړې وې او
هغه بېرته کشتۍ ته راستنه شوه. نوح خپل لاس وراوږد کړ، هغه یې
ونیوله او کشتۍ ته یې ننه‌ایستله. ۱۰ هغه اووه ورځې نور صبر وکړ
او بیا یې کوتره ولېږله. ۱۱ کوتره د ماښام په وخت کې بېرته هغه ته
راستنه شوه او د زیتون تازه پاڼه یې په مښوکه کې نیولې وه، نو نوح
پوه شو چې اوبه کمې شوې دي. ۱۲ هغه اووه ورځې نور انتظار وکړ
او یوځل بیا یې کوتره ولېږله، خو دا ځل هغه بېرته رانغله.

۱۳ په هغه وخت کې نوح د شپږ سوه یو کالو په عمر ؤ. د هماغه
کال د اولې میاشتې په لومړۍ نېټه ځمکه مخ په وچېدلو شوه. نوح د
کشتۍ پوښ لیرې کړ، شاوخوا یې وکتل او ویې لیدل چې د ځمکې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مخ وچ شوی ؤ. ۱۴ د دوهمې میاشتې په اوویشتمه ورځ ځمکه
بیخي وچه شوه.

۱۵ خدای نوح ته وویل: ۱۶ «د خپلې ښځې، خپلو زامنو او د
هغو د ښځو سره د کشتۍ څخه دباندې راووځئ. ۱۷ ټول مرغان او
حیوانات د ځان سره دباندې راوباسه، ترڅو دوی خپل همجنس
وزیږوي او په ټوله ځمکه باندې خپاره شي.» ۱۸ نو نوح د خپلې
ښځې، خپلو زامنو او د هغوی د ښځو سره د کشتۍ څخه راووت.
۱۹ ټول حیوانات او مرغان د خپلو جنسونو سره ډلې ډلې د کشتۍ
څخه ووتل.

## نوح قرباني وړاندې کوي

۲۰ نوح د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ او هغه د هر ډول
پاکو حیواناتو او مرغانو څخه یو یو واخیست او هغه ټول یې د
قربانۍ په ځای کې د سوځېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړل. ۲۱
او د سوځېدونکې قربانۍ بوی په څښتن باندې ښه ولګېده، هغه د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان سره وویل: «زه به بیا هېڅکله ځمکه د انسان د عملونو په سبب لعنتي نه کړم. زه پوهېږم چې د انسان خیال د هغه د ځوانۍ له وخت څخه خراب دی، خو زه به هېڅکله بیا ټول ژوندي موجودات له منځه نه وړم لکه څنګه چې مې له منځه یووړل. ۲۲ ترڅو پورې چې دنیا موجوده وي، نو د ځمکې کرل او رېبل، یخني او ګرمي، اوړی او ژمی او شپه او ورځ به هم وي.»

## د نوح سره د خدای لوظ

۱ خدای نوح او د هغه زامنو ته برکت ورکړ او ویې ویل: «ستاسو اولادونه دې زیات شي، ترڅو ټوله نړۍ ستاسو په اولادې باندې ډکه شي. ۲ ټول حیوانات، مرغان، خزندې او ماهیان به ستاسو څخه وېرېږي او دا ټول به ستاسو په اختیار کې وي. ۳ هر شی چې ژوندی دی او حرکت کوي، هغه به ستاسو د خوراک دپاره وي. لکه څنګه چې ما تاسو ته شنه بوټي درکړل، اوس هرڅه تاسو ته درکوم. ۴ یو شی چې تاسو یې باید ونه خورئ هغه داسې غوښه ده چې وینه په کې وي. دا مې منع کړې دي، ځکه چې په وینه کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندون دی. ۵ که څوک د یو انسان څخه ژوند واخلي، هغه به سزا ومومي. که چېرې کوم حیوان یو انسان ووژني، زه به هغه ته د مرګ سزا ورکوم. ۶ انسان د خدای په شکل جوړ شوی دی، نو چا چې هغه وواژه، هغه به هم د بل چا په وسیله وژل کېږي.

۷ تاسو باید زیات ماشومان وزېږوئ، ترڅو ستاسو اولاده په ټوله دنیا کې زیاته شي.»

۸ خدای نوح او د هغه زامنو ته وویل: ۹ «زه ستاسو او ستاسو د راتلونکي نسل سره ۱۰ او ټولو ژوندیو مخلوقاتو سره چې ستاسو سره وو، یعنې مرغانو، کورني او وحشي حیواناتو، هغوی ټول چې تاسو سره د کشتۍ څخه راووتل او همدارنګه د ځمکې په مخ ټولو ژوندیو مخلوقاتو سره ۱۱ لوظ کوم چې بیا به هېڅکله ټول ژوندي مخلوقات د سېلاب په وسیله له منځه نه ځي. هېڅکله به بیا سېلاب ځمکه نه خرابوي.» ۱۲ خدای وویل: «دا د هغه لوظ نښه ده چې زما او ستاسو او د هغو ټولو ژوندیو مخلوقاتو ترمنځ به وي چې تاسو سره دي او دا لوظ به د ټول راتلونکي نسل دپاره وي. ۱۳ زه د وریځو په منځ کې د بوډۍ ټال ږدم او دا به زما او د دنیا په منځ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لوظ نښه وي. ۱۴ کله چې زه په ځمکه باندې ورېځې راخپرې کړم او په هغې کې شنه او سره رانبکاره شي، ۱۵ زه به خپل هغه لوظ چې ستاسو او ټولو ژونديو مخلوقاتو سره مې کړی ؤ، رایادوم او نور به هېڅکله ټول ژوندي موجودات د سېلاب په وسیله له منځه نه ځي. ۱۶ کله چې په ورېځو کې شنه او سره رانبکاره شي، زه به هغې ته ګورم او خپل هغه ابدي لوظ به رایادوم چې زما او د ځمکې په مخ د ټولو ژونديو مخلوقاتو ترمنځ شوی ؤ.» ۱۷ نو خدای نوح ته وويل: «دا د هغه لوظ نښه ده چې ما د ځان او د ځمکې په مخ د ټولو ژونديو موجوداتو سره کړی ؤ.»

## نوح او د هغه زامن

۱۸ د نوح زامن چې د کشتۍ څخه راووتل هغه سام، حام او يافت وو. وروسته بيا د حام زوی پيدا شو او نوم يې کنعان ؤ. ۱۹ دا د نوح درې زامن وو چې د هغوی څخه د دنيا ټول خلک راپيدا شول.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ نوح بزګر ؤ او هغه لومړنی سړی ؤ چې د انګورو باغ یې
جوړ کړ. ٢١ یوه ورځ هغه شراب وڅښل او نشه شو، خپل کالي یې
وویستل او په خپله خېمه کې لوڅ پرېوت. ٢٢ حام خېمې ته ننوت
او ویې لیدل چې هغه لوڅ دی، نو هغه دباندې راووت او خپلو
ورونو ته یې هم وویل. ٢٣ بیا سام او یافت چپنه واخیستله او په
خپلو اوږو باندې یې واچوله. هغوی په شا باندې خېمې ته ورغلل،
خپل پلار یې ورباندې پټ کړ او خپل مخونه یې بلې خواته واړول،
ترڅو د خپل پلار لوڅوالی ونه ویني. ٢٤ کله چې نوح د نشې څخه
په حال شو، په دې پوه شو چې د هغه کشر زوی د هغه سره څه
کړي دي. ٢٥ هغه وویل:

وي دې لعنت په کنعان باندې

هغه به وي د خپلو ورونو غلام

٢٦ د سام څښتن خدای ته ثنا وواییځ!

کنعان به وي د سام غلام


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۷ کوم دعا زه چې ښښتن دې ورکړي

یافت ته ډېره زیاته ځمکه

او پرېږده هغه چې ونیسي سیمه د سام

کنعان دې وي د هغه غلام

۲۸ د سېلاب څخه وروسته نوح درې سوه پنځوس کاله ژوند
وکړ ۲۹ او د نهه سوه پنځوس کالو په عمر مړ شو.

## د نوح د زامنو اولاده

(لومړی تواریخ ۱:۵–۲۳)

۱ دا د نوح د زامنو حام، سام او یافت اولاده ده چې د سېلاب
څخه وروسته زېږېدلي ده.

۲ د یافت زامن: جومر، ماجوج، مادای، یاوان، توبال، ماشک او
تیراس. ۳ د جومر زامن: آشکناز، ریفات او توجرمه. ۴ د یاوان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زامن: اليشه، ترشيش، کتيان او رودانيان. ۵ دا د هغو خلکو نيکونه وو چې د بحيرې په غاړه او په جزيرو کې اوسېدل. دا ټوله د يافت اولاده وه چې خپلې ژبې، خپلې قبيلې او خپلې ځمکې يې درلودلې.

۶ د حام زامن: کوش، مصر، فوط او کنعان. ۷ د کوش اولاده سيبا، حويله، سبته، رعمه او سبتکا وه. د رعمه اولاده شيبا او ددان وه. ۸ د کوش يو زوی نمرود نومېده، هغه د نړۍ لومړنی قوي جنګيالی ؤ. ۹ هغه د څښتن په نظر کې يو ډېر قوي ښکاري ؤ، له دې امله خلک وايي: «خدای دې ستا څخه د نمرود په شان لوی ښکاري جوړ کړي.» ۱۰ د هغه په پاچاهۍ کې لومړی بابل، ارک، اکد او کلنه شامل وو، چې دا درې واړه د شنعار په خاوره کې پراته دي. ۱۱ او د هغه ځای څخه نمرود آشور ته لاړ او د نينوا، رحوبوت عير او کالح ښارونه ۱۲ او ريسن چې د نينوا او د کالح د لوی ښار ترمنځ پروت دی، جوړ کړل.

۱۳ د مصر د اولادې څخه د لوديانو، عناميانو، لهابيانو، نفتوحيانو، ۱۴ فتروسيانو، کسلوحيانو او د کريت قومونه جوړ شول. (کسلوحيان د فلسطينيانو نيکونه وو.)


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ کنعان د صیدون او حیت پلار ؤ چې صیدون د هغه مشر
زوی ؤ. همدارنګه کنعان ۱۶ د یبوسیانو، اموریانو، جرجاشیانو، ۱۷
حویانو، عرقیانو، سینیانو، ۱۸ اروادیانو، صماریانو او حماتیانو د
قومونو نیکه هم ؤ. د هغه څخه وروسته د کنعانیانو قبیلې خپرې
شوې. ۱۹ د کنعان پولې د صیدون څخه د جرار خواته تر غزې او
بیا د سدوم، عمورې، ادمه او زبوییم څخه تر لاشع پورې ورسېدلې.
۲۰ دا د حام اولاده وه چې په خپلو قبیلو او سیمو کې اوسېدل او هر
یو په خپلو ژبو خبرې کولې.

۲۱ د سام څخه چې د یافت مشر ورور ؤ هم زامن پیدا شول او
سام د ټولو عبرانیانو نیکه ؤ. ۲۲ د سام زامن عیلام، آشور، ارفکشاد،
لود او آرام وو. ۲۳ د آرام زامن عوص، حول، جاتر او ماشک وو.
۲۴ ارفکشاد د شالح پلار ؤ او شالح د عبیر پلار ؤ. ۲۵ عبیر دوه
زامن درلودل، د یو نوم فالج ؤ ځکه چې د هغه په وخت کې د نړۍ
خلک ووېشل شول. د هغه د ورور نوم یقطان ؤ. ۲۶ د یقطان څخه
الموداد، شالف، حزرموت، یارح، ۲۷ هدورام، اوزال، دقله، ۲۸ عوبال،
ابیماییل، شیبا، ۲۹ اوفیر، حویله او یوباب پیدا شول. دا ټول د یقطان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زامن وو. ۳۰ هغه سیمه چې هغوی په کې اوسېدل، هغه د میشا څخه د سفارې د لمرخاته غرنۍ سیمې پورې غزېدلې وه. ۳۱ دا د سام اولاده ده چې په خپلو قبیلو او سیمو کې اوسېدل او هر یو په خپلو ژبو خبرې کولې.

۳۲ او په دې سره د نوح د اولادې لست پوره کیږي. د سیلاب څخه وروسته د هغوی د اولادې څخه قومونه رامنځته شول او په ټوله دنیا کې خپاره شول.

# د بابل برج

۱ په هغه وخت کې د ټولې نړۍ خلکو یوه ژبه درلودله او یو قسم خبرې به یې کولې. ۲ خو وروسته هغوی د ختیځ خواته کډه وکړه او د شنعار په ځمکه کې یې یو هوار ځای پیدا کړ او هلته اوسېدل. ۳ هغوی یو بل ته وویل: «راځئ چې خښتې جوړې کړو او هغه ښې پخې کړو.» هغوی د تیږو په ځای خښتې او د مسالې په ځای د قیر نه کار واخیست. ۴ هغوی وویل: «راځئ چې د خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان دپاره يو ښار ودان کړو او په هغه کې يو لوړ برج جوړ کړو چې
سر يې اسمان ته ورسېږي، ترڅو د خپل ځان دپاره يو نوم وګټو،
داسې نه شي چې په ټوله دنيا کې خپاره شو.»

۵ خو کله چې څښتن راښکته شو چې هغه ښار او برج چې
خلکو جوړ کړی ؤ وګوري، ۶ هغه وويل: «اوس هغوی يو قوم دی
او په يوه ژبه خبرې کوي. دا يوازې د کار پيل دی. هغوی به ډېر زر
د دې توان پيدا کړي چې هرڅه وغواړي هغه به سرته ورسوي. ۷
راځئ چې ښکته شو او د هغوی ژبه سره ګډه وډه کړو، ترڅو دوی
يو د بل په خبرو باندې پوه نه شي.» ۸ نو څښتن هغوی په ټوله
دنيا کې خپاره کړل او هغوی مجبور شول چې د ښار د جوړولو
څخه لاس واخلي. ۹ په دې سبب هغه ځای د بابل په نوم ياد شو،
ځکه چې څښتن هلته د هغوی ژبه ګډه وډه کړه او هغوی يې په ټوله
دنيا کې خپاره کړل.

## د سام اولاده

(لومړی تواريخ ۱:۲۴–۲۷)


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ دا د سام اولاده ده: د سېلاب څخه دوه کاله وروسته هغه
وخت چې سام د سلو کالو په عمر ؤ، د هغه زوی ارفکشاد پيدا شو.
۱۱ د آرفکشاد د پيدا کېدلو څخه وروسته سام پنځه سوه کاله نور
هم ژوند وکړ او نور اولادونه يې پيدا شول.

۱۲ ارفکشاد د پنځه دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی شالح
پيدا شو. ۱۳ د شالح د پيدا کېدلو څخه وروسته ارفکشاد څلور سوه
درې کاله نور هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۱۴ هغه وخت چې شالح د دېرشو کالو په عمر ؤ د هغه زوی
عيبر پيدا شو. ۱۵ له هغې وروسته، شالح څلور سوه درې کاله نور
هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۱۶ عيبر د څلوردېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی فالج پيدا
شو. ۱۷ کله چې فالج پيدا شو، عيبر څلور سوه دېرش کاله نور هم
ژوند وکړ او زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۱۸ فالج د دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی رعو پيدا شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د رعو د پيدا کېدلو څخه وروسته فالج دوه سوه نهه کاله نور هم
ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۲۰ رعو د دوه دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی سروج پيدا
شو. ۲۱ د سروج د پيدا کېدلو څخه وروسته رعو دوه سوه اووه کاله
نور هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۲۲ سروج د دېرشو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی ناحور پيدا
شو. ۲۳ د ناحور د پيدا کېدلو څخه وروسته سروج دوه سوه کاله
ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۲۴ ناحور د نهه ويشتو کالو په عمر ؤ چې د هغه زوی تارح پيدا
شو. ۲۵ د تارح د پيدا کېدلو څخه وروسته ناحور يوسلو نولس کاله
نور هم ژوند وکړ او نور زامن او لورګانې يې پيدا شوې.

۲۶ وروسته له دې چې تارح د اويا کالو په عمر شو، د هغه زامن
ابرام، ناحور او هاران پيدا شول.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د تارح اولاده

۲۷ دا د تارح اولاده ده چې د هغه څخه ابرام، ناحور او هاران
پیدا شول. هاران د لوط پلار ؤ. ۲۸ د هاران پلار لا ژوندی ؤ چې
هغه خپل د زیږېدلو په ځای یعنې د کلدانیانو د اور په ښار کې مړ
شو. ۲۹ ابرام د سارای سره واده وکړ او ناحور د میلکه سره چې د
هاران لور وه، واده وکړ. هاران د یسکا پلار هم ؤ. ۳۰ سارای شنډه
وه او ماشومان یې نه درلودل.

۳۱ تارح خپل زوی ابرام، خپل لمسی لوط چې د هاران زوی ؤ
او د هغه انږور یعنې د ابرام ښځه سارای د ځان سره واخیستل او د
کلدانیانو د اور د ښار څخه ووتل چې د کنعان خاورې ته لاړ شي.
خو کله چې هغوی حران ته راغلل، نو هلته پاتې شول. ۳۲ تارح د
دوه سوه پنځو کالو په عمر په حران کې مړ شو.

# خدای ابرام غوره کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ څښتن ابرام ته وويل: «خپل وطن، خپلوان او د خپل پلار کور پرېږده او هغه هېواد ته لاړ شه چې زه يې درته ښايم. ٢ زه به ستا څخه لوی قوم جوړ کړم او برکت به درکړم. ستا نوم به مشهور کړم او د نورو دپاره به د برکت سبب وګرځې.

٣ څوک چې تاته درکوي برکت

زه به ورکړمه هغوی ته برکت

خو څوک چې وايي په تا باندې لعنت

زه به ووايم هغوی باندې لعنت

او وربه کړم ستا په وسيله برکت

ټولو قومونو د دنيا ته»

٤ لکه څنګه چې څښتن ابرام ته ويلي وو، هغه لاړ او لوط هم ورسره لاړ. ابرام د پنځه اويا کالو په عمر ؤ چې د حران څخه روان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. ۵ ابرام خپله ښځه ساراى، خپل وراره لوط، خپل غلامان او
هغه ټوله شتمني چې په حران کې يې پيدا کړې وه، د ځان سره
واخيستل او کنعان ته روان شول.

کله چې هلته ورسېدل، ۶ ابرام په هغې خاوره کې ګرځېده،
ترڅو د موره سيپڅلې ونې ته چې هغه په شکيم کې يو پاک ځاى ؤ،
ورسېده. (په هغه وخت کې په هغې خاورې کې کنعانيان اوسېدل.)
۷ څښتن ابرام ته ښکاره شو او هغه ته يې وويل: «دا هغه وطن دى
چې زه غواړم هغه ستا اولادې ته ورکړم.» نو ابرام په هغه ځاى کې
چې څښتن ورته ورښکاره شوى ؤ، د قربانۍ ځاى جوړ کړ. ۸ بيا
يې هغې غرنۍ سيمې ته کډه وکړه چې د لمرپرېواته خوا څخه
بيت‌ييل او د لمرخاته خوا څخه عاى ته رسېږي. ابرام په هغه ځاى
کې خپلې خېمې ودرولې او هلته يې د قربانۍ ځاى جوړ کړ او د
څښتن عبادت يې وکړ. ۹ بيا هغه د يو ځاى څخه بل ځاى ته کډه
کوله او د کنعان جنوب خواته لاړ.

# ابرام په مصر کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ خو په کنعان کې قحطي راغله او هغه دومره سخته شوه چې
ابرام مصر ته لاړ چې هلته د لږ وخت دپاره واوسيږي. ۱۱ کله چې
هغه د مصر سرحد ته ورنژدې شو، خپلې ښځې ساراى ته يې وويل:
«ته ښايسته ښځه يې. ۱۲ کله چې مصريان تا ووينې، وبه وايي: ‹دا
د هغه ښځه ده.› نو دوی به ما ووژني او تا به ژوندی پرېږدي. ۱۳
هغوی ته ووايه چې ته زما خور يې، نو ستا په خاطر به هغوی زما
سره ښه چلند وکړي او ما به ژوندی پرېږدي.» ۱۴ کله چې هغه
مصر ته ورننوت، مصريانو وليدل چې د هغه ښځه ډېره ښايسته وه.
۱۵ کله چې د فرعون درباريانو هغه وليدله، هغوی د فرعون په
مخکې د هغې صفت وکړ او هغه يې د فرعون ماڼۍ ته وروستله. ۱۶
فرعون د هغې په خاطر د ابرام سره ښه چلند وکړ او هغه ته يې
رمې او پادې، خره او خرې، اوښان، وينځې او غلامان ورکړل.

۱۷ خو څښتن فرعون او د هغه درباريان د ابرام د ښځې ساراى
په سبب په خطرناکو ناروغيو باندې اخته کړل. ۱۸ نو فرعون ابرام
راوغوښت او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه: «زما سره دې څه وکړل؟
ولې دې ماته ونه ويل چې هغه ستا ښځه ده؟ ۱۹ ولې دې وويل چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه ستا خور ده، کېدای شو چې ما د هغې سره واده کړی وای؟
ګوره، دا ستا ښځه ده. هغه واخله او لاړ شه!» ٢٠ فرعون خپلو
کسانو ته حکم وکړ چې ابرام او د هغه ښځه د هر هغه څه سره چې
درلودل يې، ولېږي.

## لوط او ابرام سره بېلېږي

١ ابرام د خپلې ښځې او خپلو ټولو شيانو سره چې درلودل يې
د مصر څخه د کنعان جنوبي خواته لاړ او لوط د هغه سره لاړ. ٢
ابرام شتمن سړی ؤ او هغه ډېر حيوانات، سره زر او سپين زر
درلودل. ٣ هغه يو ځای او بل ځای ګرځېده او د بيت‌ييل خوا ته
لاړ او هغه ځای ته ورسېده چې د بيت‌ييل او عای ترمنځ پروت دی
او ابرام پخوا هلته خپلې خېمې ودرولې وې. ٤ چېرته چې هغه د
قربانۍ ځای جوړ کړی ؤ، هلته هغه د څښتن عبادت وکړ.

٥ لوط هم چې د ابرام سره ؤ، رمې او پادې او خېمې درلودلې.
٦ په دې خاطر چې هغوی دواړو ډېر زيات حيوانات درلودل او د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی دپاره په پوره اندازه د څرځایونه نه وو، نو دوی نه شو کولای
چې دواړه یوځای سره واوسیږي. ۷ نو د ابرام او لوط د شپنو
ترمنځ شخړه رامنځته شوه. په هغه وخت کې کنعانیان او فرزیان هم
په دې خاوره کې اوسېدل.

۸ نو ابرام لوط ته وویل: «زما او ستا، یا زما د شپنو او ستا د
شپنو ترمنځ باید شخړه نه وي، ځکه چې مونږ سره خپلوان یو. ۹
نو بیا راځئ چې سره بېل شو. د ځمکې هره برخه چې ته غواړې
هغه غوره کړه. ته یو خوا لاړ شه او زه به بلې خواته لاړ شم.»

۱۰ لوط شاوخوا ته وکتل او د اردن تېوله دره یې ولیدله چې د
سوغر پورې لکه د څښتن د باغ او مصر په شان شنه وه. دا هغه
وخت ؤ چې څښتن لا سدوم او عموره له منځه نه وو وړي. ۱۱ نو
لوط د اردن ټوله دره د خپل ځان دپاره خوښه کړه او د لمرخاته
خواته یې کډه وکړه. په دې ډول هغوی یو د بل څخه بېل شول. ۱۲
ابرام د کنعان په خاوره کې پاتې شو او لوط د هغو ښارونو په منځ
کې چې په دره کې پراته وو، ځای په ځای شو او سدوم ته نژدې یې
خیمې ودرولې. ۱۳ د سدوم خلک ډېر بدکاره وو او د څښتن په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې يې ډېر سخت ګناهونه کول.

## ابرام حبرون ته کډه کوي

۱۴ د ابرام څخه د لوط له بېلېدلو وروسته څښتن ابرام ته وويل:
«اوس دې خپلې سترګې پورته کړه او د هغه ځای څخه چې ته په
کې يې، شمال، جنوب، لمرخاته او لمرپرېواته خواته وګوره. ۱۵ دا
ټوله ځمکه چې ته يې وينې زه به يې تا او ستا اولادې ته درکړم او
دا به تر ابده پورې ستاسو وي. ۱۶ زه به دومره زياته اولاده درکړم
چې د دښتې د شګو په شان وي چې څوک يې نه شي شمارلی. ۱۷
اوس لاړ شه او ټول هېواد وګوره، ځکه چې هغه ټول تاته درکوم.»
۱۸ نو ابرام خپلې خېمې واخيستلې او د ممرې لويو ونو ته نژدې
چې په حبرون کې دي ځای په ځای شو او په هغه ځای کې يې د
څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ.

## ابرام لوط ژغوري


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ په هغه وخت کې د شنعار پاچا امرافل، د الاسار پاچا اریوک،
د عیلام پاچا کدرلاعمر او د قوییم پاچا تدعال ٢ لاړل چې د نورو
پنځو پاچاهانو یعني د سدوم د پاچا بارع، د عمورې د پاچا برشاع،
د ادمه د پاچا شنعاب، د زبوییم د پاچا شمیبر او د بالع د پاچا سره
(بالع هماغه صوغر دی) جنګ وکړي. ٣ دغو پنځو پاچاهانو خپل
ځواکونه د سدیم په دره کې چې اوس د مړې بحیرې په نوم یادېږي
سره یوځای کړل. ٤ هغوی دولس کاله د کدرلاعمر تر لاس لاندې
وو، خو په دیارلسم کال هغوی یاغي شول. ٥ په څوارلسم کال
کدرلاعمر د هغو پاچاهانو سره چې د ده سره ملګري شوي وو، لاړ
او رفاییانو ته یې په عشتروت قرنین، زوزیانو ته یې په هام او
ایمیانو ته یې په شاوه قیریتایم کې ٦ او حوریانو ته یې د ادوم په
غرنۍ سیمه کې تر ایل فاران پورې چې دښتې ته نژدې دی، ماتې
ورکړه. ٧ بیا هغوی بېرته راوګرځېدل او عین مشفاط ته چې
وروسته د قادش په نوم یاد شو، راغلل او د عمالیقیانو ټوله خاوره
یې فتح کړه او اموریانو ته یې چې په حززون تامار کې اوسېدل،
ماتې ورکړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ په هغه وخت کې د سدوم، عموره، ادمه، زبوييم او د بالع (صوغر) پاچاهان ووتل او د سديم په دره کې يې خپلې جنګي ليکې جوړې کړې ۹ ترڅو د عيلام د پاچا کدرلاعمر، د قوييم د پاچا تدعال، د شنعار د پاچا امرافل او د الاسار د پاچا اريوک په وړاندې جنګ وکړي، يعني څلور پاچاهان د پنځو په وړاندې. ۱۰ د سديم په دره کې د قير ډېرې کندې وې. کله چې د سدوم او عمورې پاچاهان د جګړې څخه وتښتېدل، هغوی په دې کندو کې وغورځېدل او پاتې پاچاهان غرونو ته وتښتېدل. ۱۱ نو څلورو پاچاهانو د سدوم او عمورې ټول شيان چې په هغو کې د هغوی خواړه هم شامل وو، واخيستل او لاړل. ۱۲ هغوی د ابرام وراره لوط هم د هغه د ټول مال او جايداد سره د ځان سره يووړ، ځکه چې هغه په سدوم کې اوسېده.

۱۳ يو کس چې د هغو څخه تښتېدلی ؤ، عبراني ابرام ته خبر ورکړ. په دې وخت کې ابرام هغو لويو ونو ته نژدې چې د اموري ممري پورې يې اړه درلودله اوسېده. ممری او د هغه ورونه اشکول او عانر ټول د ابرام سره ملګري وو. ۱۴ کله چې ابرام خبر شو چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وراره نیول شوی دی، نو هغه خپل درې سوه اتلس جنګي کسان راوغوښتل او تر دان پورې په هغو څلورو پاچاهانو پسې شول.

۱۵ د شپې ابرام خپل کسان سره ووېشل چې په دښمن باندې حمله وکړي او هغوی ته يې ماتې ورکړه او تر حوبې پورې چې د دمشق په شمال کې ده، ورپسې شول. ۱۶ ابرام هغه ټول سامان چې هغوی لوټ کړی ؤ او د ځان سره يې وړی ؤ، بېرته راوګرځاوه. همدارنګه هغه خپل وراره لوط د هغه د شتمنۍ سره او ښځې او نور بنديان د ځان سره بېرته راوستل.

## ملک‌صدق ابرام ته برکت ورکوي

۱۷ کله چې ابرام کدرلاعمر او د هغه سره ملګرو پاچاهانو ته ماتې ورکړه او بېرته راستون شو، د سدوم پاچا د شاوه د درې پورې (چې د پاچا د درې په نوم هم يادېږي) د هغه د ليدلو دپاره راغی. ۱۸ ملک‌صدق چې د ساليم پاچا او د خدای تعالی کاهن ؤ، د ابرام


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ډوډۍ او شراب راوړل. ١٩ هغه ابرام ته برکت ورکړ او ويې
ويل: «خدای تعالی چې د ځمکې او اسمانونو پيدا کوونکی دی، تاته
برکت درکړي. ٢٠ د خدای تعالی ثنا دې وي چې ستا دښمنان يې
تاته تسليم کړل.» نو ابرام ملک‌صدق ته د هغو شيانو چې هغه بېرته
اخيستي وو، لسمه برخه ورکړه. ٢١ د سدوم پاچا ابرام ته وويل:
«زما ټول خلک بېرته ماته راکړه او شيان دې خپل ځان ته وساته.»
٢٢ ابرام ځواب ورکړ: «زه د څښتن يعنې خدای تعالی په حضور کې
چې د ځمکې او اسمانونو پيدا کوونکی دی، په کلکه قسم خورم ٢٣
چې زه به ستا د شيانو څخه هېڅ شی حتی يو تار يا د څپلۍ تسمه
هم وانخلم، هسې نه چې بيا ووايې چې ابرام ما شتمن کړ. ٢٤ زه به
د خپل ځان دپاره هېڅ شی وانخلم. يوازېنی شی چې زه به يې قبول
کړم دا هغه څه دي چې زما خلکو خوړلي دي او د هغه چا برخه
چې زما سره تللي وو يعنې د عانر، اشکول او ممري برخه هغوی ته
ورکړه.»

## د ابرام سره د خدای لوظ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ څه موده وروسته څښتن په رويا کې ابرام ته وويل: «ای
ابرامه مه ويرېږه، زه ستا سپر يم او ډېر لوی اجر به درکړم.» ٢ ابرام
وويل: «ای څښتن تعالی، ماته به څه راکړې، ځکه چې زه بې‌اولاده
پاتې شوم. زما يوازېنی وارث دمشقي اليعازر دی. ٣ ماته دې
اولادونه نه دي راکړي، نو زما د کورنۍ نوکر به زما ميراث خور
شي.»

٤ څښتن په ځواب کې وويل: «دا سړی به ستا ميراث خور نه
وي، بلکې ستا خپل زوی چې په خپله ستا څخه به پيدا شي، ستا
ميراث خور وي.» ٥ څښتن هغه دباندې وويست او ورته ويې ويل:
«اسمان ته وګوره او هڅه وکړه چې ستوري وشمارې، نو ستا اولاده
به د هغو په شان دومره زياته وي.» ٦ ابرام په څښتن باندې ايمان
راوړ او د هغه ايمان له امله څښتن هغه عادل وګاڼه.

٧ بيا څښتن هغه ته وويل: «زه هغه څښتن يم چې ته مې د
کلدانيانو د اور د ښار څخه راوويستلې چې دا ځمکه درکړم او ستا
ملکيت شي.» ٨ خو ابرام وويل: «ای څښتن تعالی، زه به څنګه پوه
شم چې هغه به زما شي؟»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ نو خښتن هغه ته ووېل: «ماته يوه درې کلنه غوا، درې کلنه
وزه، درې کلن پسه، يوه کوتره او يوه قمري راوړه.» ۱۰ ابرام دا ټول
هغه ته راوړل او هر يو يې په منځ کې دوه ټوټې کړ او هره نيمه
شوې ټوټه يې بلې ټوټې ته مخامخ کېښودله، خو مرغان يې دوه
ټوټې نه کړل. ۱۱ کله چې ټپوسان د دې مړو حيواناتو په تنو باندې
راښکته شول، ابرام هغه وشړل.

۱۲ کله چې لمر په پرېوتلو شو، په ابرام باندې ډېر درونډ خوب
راغی او سخته وېرووونکې تيارهورباندې راغله. ۱۳ خښتن هغه ته
ووېل: «په دې پوه شه چې ستا اولاده به په پردۍ خاوره کې مسافره
شي او هغوی به هلته غلامان شي او په دوی باندې به څلور سوه
کاله ظلم کېږي. ۱۴ خو زه به هغه قوم ته چې دوی يې غلامي کوي،
سزا ورکړم او له هغې وروسته به دوی د ډېرې شتمنۍ سره ووځي.
۱۵ ته به په پاخه عمر کې په ارامۍ سره مړ شې او ښخ به شې. ۱۶
ستا اولاده به له څلورم نسل څخه وروسته بېرته دلته راشي، ځکه
زه به تر هغې پورې اموريان ونه شړم، ترڅو پورې چې هغوی دومره
بدکاره شي چې بايد سزا ومومي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ کله چې لمر پرېوت او تياره شوه، د لوګي ښخه ډک يو تنور او بلېدونکی څراغ رابښکاره شول او د دې ټوټو له منځ څخه تېر شول. ۱۸ په هماغه ورځ څښتن د ابرام سره لوظ وکړ او ويې ويل: «زه ستا اولادې ته دا ټوله خاوره د مصر د سيند څخه نيولې د فرات تر لوی سيند پورې ورکوم ۱۹ يعنې د قينيانو، قنزيانو، قدمونيانو، ۲۰ حيتيانو، فرزيانو، رفاييانو، ۲۱ اموريانو، کنعانيانو، جرجاشيانو او يبوسيانو خاوره.»

# هاجره او اسماعيل

۱ نو د ابرام ښځه سارای شنډه وه او هېڅ اولاد يې نه درلود. خو هغې يوه مصري وينځه درلودله چې هاجره نومېدله. ۲ نو هغې ابرام ته وويل: «څښتن زه د اولادونو د راوړلو څخه محرومه کړې يم. لاړ شه او زما د وينځې سره يوځای شه، کېدای شي چې هغه زما دپاره اولاد وزېږوي.» ابرام د سارای خبره ومنله. ۳ نو د ابرام ښځې سارای خپله وينځه هاجره خپل مېړه ته ورکړه چې د هغه ښځه شي. (دا کار هغه وخت وشو چې د کنعان په خاوره کې د ابرام


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د اوسپېدلو لس کاله شوي وُ.) ۴ ابرام د هاجرې سره یوځای شو او هغه امیدواره شوه او کله چې هاجره پوه شوه چې امیدواره ده، نو مغروره شوه او سارای ته یې په سپک نظر کتل.

۵ نو سارای ابرام ته وویل: «دا ستا ګناه ده چې دغه وینځه زما سپکاوی کوي. ما په خپله هغه درکړه او له هغه وخت څخه چې هغه پوه شوه چې امیدواره ده، نو زه د هغې په نظر کې سپکه ښکاره شوم. څښتن دې زما او ستا ترمنځ انصاف وکړي.» ۶ ابرام ځواب ورکړ: «ډېر ښه، ستا وینځه ستا په لاس کې ده، نو څه چې غواړې د هغې سره یې وکړه.» نو سارای هاجره دومره وځوروله چې د هغې څخه وتښتېدله.

۷ د څښتن فرښته هاجرې ته په دښته کې هغې چینې ته نژدې چې د شور په لاره کې وه، راغله. ۸ فرښتې وویل: «ای هاجرې د سارای وینځې! له کوم ځای نه راغلې یې او چېرته روانه یې؟» هغې ځواب ورکړ: «زه د خپلې بادارې سارای څخه تښتېدلې یم.» ۹ د څښتن فرښتې هغې ته وویل: «بېرته خپلې بادارې ته ورشه او د هغې غلامي کوه.» ۱۰ د څښتن فرښتې زیاته کړه: «زه به ستا اولاده


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دومره زیاته کړم چې هېڅوک یې ونه شمېرلی شي.» ۱۱ د ښتن
فرښتې هغې ته وویل: «ستا به زوی پیدا شي او په هغه باندې به
اسماعیل نوم کېږدې، ځکه چې ښتن ستا د غم فریاد اورېدلی دی.
۱۲ ستا زوی به په خپل سر وي. هغه به د ټولو خلکو په ضد وي او
ټول خلک به د هغه په ضد وي او د ټولو خپلو خپلوانو څخه به بېل
اوسیږي.»

۱۳ هاجرې د خپل ځان څخه پوښتنه وکړه: «ایا په رښتیا مې
خدای ولیده او زه تراوسه پورې ژوندی یم؟» نو هغې په ښتن
باندې چې خبرې یې ورسره کړې وې د «هغه خدای چې ما ویني»
نوم کېښود. ۱۴ په دې خاطر خلکو هغه څاه د بئرلحي ریي په نوم
یاده کړه چې معنی یې ده «د هغه ژوندي ذات څاه چې ما ویني» او
هغه تراوسه پورې د قادش او بارد په منځ کې ده.

۱۵ د هاجرې څخه د ابرام زوی پیدا شو او ابرام په هغه باندې
اسماعیل نوم کېښود. ۱۶ ابرام د شپږ اتیاو کالو په عمر ؤ چې د
هاجرې څخه هغه ته زوی پیدا شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# سنتول يعني د لوظ نښنه

١ هغه وخت چې ابرام د نهه نوي کالو په عمر ؤ، څښتن هغه ته
ښکاره شو او ويې ويل: «زه مطلق قادر خدای يم. زما منونکی او
بې‌ګناه اوسه. ٢ زه به ستا سره يو لوظ وکړم او ډېره اولاده به
درکړم.» ٣ نو هغه وخت ابرام هغه ته سجده وکړه او خدای هغه ته
وويل: ٤ «ستا سره دا لوظ کوم چې ته به د ډېرو قومونو پلار شې.
٥ له دې وروسته به ستا نوم ابرام نه، بلکې ابراهيم وي، ځکه چې
ته مې د ډېرو قومونو پلار کړی يې. ٦ زه به ستا نسل زيات کړم او
ستا څخه به قومونه پيدا کړم او د هغوی څخه به ځينې پاچاهان
شي. ٧ زه به خپل لوظ ستا، ستا د اولادې او ستا څخه وروسته
ستا د راتلونکې نسل سره ټينګ وساتم او دا به ابدي لوظ وي. زه به
ستا خدای يم او ستا څخه وروسته به ستا د اولادې خدای يم. ٨
زه به د کنعان ټوله خاوره په کومه کې چې ته اوس مسافر يې، ستا
څخه وروسته ستا اولادې ته د ابدي ملکيت په توګه ورکړم او زه به
د هغوی خدای يم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ خدای ابراهیم ته وویل: «ته او ستا ځخه وروسته ستا ټوله
اولاده باید زما په لوظ باندې ټینګ ودرېږئ. ۱۰ ته او ستا اولاده
باید سره موافقه وکړئ چې ستاسو هر یو نارینه دې سنت شي. ۱۱-۱۲
له همدااوس نه تاسو باید هر اته ورځنی هلک سنت کړئ. په دې
کې هغه غلامان چې ستاسو په کورنیو کې پیدا شوي وي او هغه
غلامان چې د پردیو خلکو ځخه په بیه اخیستل شوي وي، هم شامل
دي. په دې کار سره به دا معلومه شي چې زما او ستاسو ترمنځ یو
لوظ شته. ۱۳ هر یو کس باید سنت شي. دا به ستاسو په بدن باندې
زما د ابدي لوظ نښه وي. ۱۴ هر یو نارینه چې سنت شوی نه وي
باید زما د قوم ځخه وشړل شي، ځکه چې هغه زما لوظ مات کړی
دی.»

۱۵ خدای ابراهیم ته وویل: «له دې وروسته خپلې ښځې ته
سارای مه وایه، د هغې نوم دې له همدااوس ځخه ساره شي. ۱۶ زه
به هغې ته برکت ورکړم او د هغې په وسیله به زوی درکړم. هغه به د
قومونو مور شي او د هغې ځخه به د قومونو پاچاهان راپیدا شي.»
۱۷ ابراهیم خدای ته سجده وکړه او ویې خندل او د خپل ځان سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې وويل: «ايا د سل کلن سړي څخه به زوی پیدا شي؟ ایا ساره به
په نوي کلنۍ کې ماشوم وزیږوي؟» ۱۸ ابراهيم خدای ته وويل:
«اسماعیل ولې زما میراث خور نه شي؟»

۱۹ خو خدای وويل: «نه، خو ستا ښځه ساره به ستا دپاره زوی
راوړي او ته به په هغه باندې اسحاق نوم کېږدې. زه به ستا د زوی
اسحاق سره خپل لوظ ټینګ وساتم، ترڅو د هغه څخه وروسته د
هغه د نسل دپاره یو ابدي لوظ وي. ۲۰ ما د اسماعیل په هکله ستا
غوښتنه واورېدله. نو زه به هغه ته هم برکت ورکړم او هغه ته به
زیات ماشومان او ډېره اولاده ورکړم. هغه به د دولسو زامنو پلار وي
چې مشران به وي او زه به د هغه د اولادې څخه یو لوی قوم جوړ
کړم. ۲۱ خو خپل لوظ به ستا د زوی اسحاق سره چې ساره به يې
په راتلونکي کال کې په همدې وخت وزيږوي، ټینګ وساتم.» ۲۲
کله چې خدای د ابراهیم سره خپلې خبرې خلاصې کړې، نو د هغه
څخه لاړ.

۲۳ ابراهیم خپل زوی اسماعیل او نور ټول نارینه چې د هغه په
کورنۍ کې وو او هغه غلامان چې د هغه په کورنۍ کې زیږیدلي وو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه غلامان چې په پیسو باندې اخیستل شوي وو لکه څنګه چې خدای هغه ته ویلي وو، په هماغه ورځ سنت کړل. ۲۴ ابراهیم د نهه نوي کالو په عمر ؤ چې سنت کړای شو ۲۵ او د هغه زوی اسماعیل د دیارلسو کالو په عمر ؤ. ۲۶ ابراهیم او د هغه زوی اسماعیل دواړه په یوه ورځ سنت شول. ۲۷ د ابراهیم د کورنۍ هر نارینه او هغه غلامان چې د هغوی په کورنۍ کې زیږېدلي وو یا هغوی چې په پیسو اخیستل شوي وو، د هغه سره یوځای سنت شول.

## ابراهیم او ساره ته د زوی ورکولو وعده

۱ څښتن ابراهیم ته د ممرې لویو ونو ته نژدې ښکاره شو. په هغه وخت کې هغه د ورځې په ګرمۍ کې د خېمې د دروازې په خوله کې ناست ؤ. ۲ ابراهیم پورته وکتل او ویې لیدل چې هلته درې کسان ولاړ دي او چې څنګه یې هغوی ولیدل، هغه په منډه د خېمې د دروازې څخه د هغوی د لیدلو دپاره ورغی او د درناوي په خاطر ورته په ځمکه باندې پړمخې پرېوت. ۳ هغه وویل: «ای بادارانو! مهرباني وکړئ ودرېږئ او زما د کور څخه مه تېرېږئ. زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حاضر یم چې ستاسو خدمت وکړم. ۴ که اجازه وي، تاسو ته به لږې اوبه راوړم چې خپلې پښې ووینځئ. تاسو کولای شئ چې د دې ونې لاندې ارام وکړئ. ۵ زه به یو څه خواړه هم راوړم. هغه به تاسو ته قوت درکړي چې خپل سفر ته دوام ورکړئ. تاسو زما کور ته په راتللو سره ماته عزت راکړ. نو اجازه راکړئ چې خدمت مو وکړم.» هغوی ځواب ورکړ: «ډېر ښه، لکه څنګه چې وایې همداسې وکړه.»

۶ ابراهیم په ډېرې چټکۍ سره خېمې ته ننوت او ساره ته یې وویل: «زر شه او د خپلو ښو اوړو څخه درې پیمانې راواخله او ډوډۍ ورڅخه پخې کړه.» ۷ بیا ابراهیم په منډه د پادې خواته ورغی او یو ښه ځوان او چاغ خوسی یې ونیوه او خپل نوکر ته یې ورکړ چې هغه ډېر زر پوخ کړي. ۸ بیا هغه یو څه مستې، شیدې او هغه خوسی چې پوخ کړی یې ؤ، راوړ او د هغوی په مخکې یې کېښودل. کله چې هغوی ډوډۍ خوړله، ابراهیم د هغوی ترڅنګه د یوې ونې لاندې ولاړ ؤ.

۹ نو هغوی د ابراهیم څخه پوښتنه وکړه: «ستا ښځه ساره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چېرته ده؟» هغه ځواب ورکړ: «هغه په خېمه کې ده.» ۱۰ د هغو درېو کسانو څخه يو څښتن ؤ، هغه وويل: «زه به په راتلونکي کال کې په همدې وخت بېرته راشم او ستا د ښځې ساره به زوی پيدا شي.» ساره د خېمې په دروازه کې د هغه ترشا ولاړه وه او د هغوی خبرو ته يې غوږ نيولی ؤ. ۱۱ ابراهيم او ساره ډېر زاړه وو او ساره د اولاد د راوړلو نه وه. ۱۲ نو ساره د خپل ځان سره وخندل او ويې ويل: «اوس زه زړه يم او د کاره لوېدلې يم، ايا دا کېدای شي چې په ما باندې دا خوشحالي راشي؟ بله دا چې زما مېړه هم زوړ دی.» ۱۳ بيا څښتن د ابراهيم څخه پوښتنه وکړه: «ساره ولې وخندل او ويې ويل چې اوس خو زه زړه شوې يم، ايا دا کېدای شي چې زه اوس ماشوم وزېږوم؟ ۱۴ ايا داسې کوم کار شته چې د څښتن دپاره ګران وي؟ لکه څنګه چې مې وويل، زه به په راتلونکي کال کې په همدې وخت بېرته راشم او ساره به زوی ولري.»

۱۵ ساره ډېره ووېرېدله، نو منکره شوه او ويې ويل: «ما نه دي خندلي.» خو هغه ورته وويل: «هو، تا وخندل.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ابراهیم د سدوم دپاره شفاعت کوي

۱۶ بیا هغه خلک پاڅېدل چې لاړ شي. هغوی ښکته د سدوم
خواته وکتل او ابراهیم ورسره لاړ چې هغوی رخصت کړي. ۱۷ بیا
څښتن د خپل ځان سره وویل: «څه چې زه غواړم ویې کړم هغه به
د ابراهیم څخه پټ نه کړم. ۱۸ په یقین سره به د ابراهیم څخه لوی
او زورور قوم جوړ شي او د ځمکې ټول قومونه به د هغه په وسیله
برکت ومومي. ۱۹ ځکه چې ما هغه غوره کړی دی چې هغه به خپلو
ماشومانو او خپلې کورنۍ ته داسې لارښوونه وکړي، ترڅو د هغه
څخه وروسته زما اطاعت وکړي او هغه څه وکړي چې سم او
عادلانه وي، ترڅو هغه وعده چې ما د ابراهیم سره کړې ده، سرته
ورسوم.»

۲۰ بیا څښتن ابراهیم ته وویل: «د سدوم او عمورې په ضد
زیات تورونه موجود دي او د هغوی ګناهونه ډېر زیات شوي دي.
۲۱ اوس به زه لاندې راښکته شم چې دا معلومه کړم چې ایا د هغو
تورونو په اړه چې ما اورېدلي دي، هغه رښتیا دي یا نه.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ هغه دوه کسان روان شول او د سدوم خوا ته لاړل، خو
څښتن د ابراهیم سره پاتې شو. ۲۳ ابراهیم څښتن ته ورنژدې شو او
ویې ویل: «ایا نیک خلک به د بدکارانو سره یوځای له منځه وړې؟
۲۴ که چېرې په دې ښار کې پنځوس تنه نیک خلک وي ایا هغه
ښار به په رښتیا له منځه یوسې او هغه ځای به د هغو پنځوسو نیکو
خلکو په خاطر پرېنږدې؟ ۲۵ زه یقین لرم چې ته به نیک خلک د
بدکارانو سره یوځای نه وژنې. دا نه شي کېدای! ته داسې نه شې
کولای، که تا داسې وکړل، نو نیکو خلکو ته به د بدکارانو سره
یوځای سزا ورکړای شي. دا نه شي کېدای. د ټولې دنیا قاضي به
خامخا انصاف کوي.»

۲۶ څښتن ځواب ورکړ: «که چېرې زه په سدوم کې پنځوس تنه
نیک خلک پیدا کړم، نو زه به د هغوی په خاطر ټول ښار معاف
کړم.» ۲۷ ابراهیم یوځل بیا وویل: «څښتنه، ما وبخښه چې ستا سره
په جرات سره خبرې کوم. زه یوازې یو عادي انسان یم او حق نه
لرم چې څه ووایم. ۲۸ خو که چېرې هلته د پنځوسو تنو په ځای
یوازې پنځه څلوېښت تنه نیک خلک وي، ایا ټول ښار به د هغو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پنځو تنو په خاطر چې کم دي، له منځه يوسې؟» ښښتن ځواب ورکړ: «که چېرې هلته پنځه څلوېښت تنه نېک خلک پيدا کړم، نو زه به ښار له منځه نه وړم.» ۲۹ ابراهيم بيا خبرې وکړې: «کېدای شي چې هلته يوازې څلوېښت تنه وي.» هغه ځواب ورکړ: «زه به د هغو څلوېښتو تنو په خاطر هغه ښار وران نه کړم.» ۳۰ ابراهيم وويل: «ښښتنه، په ما باندې په قهر نه شې، اجازه راکړه چې خبرې وکړم. که چېرې هلته يوازې دېرش تنه وي؟» هغه وويل: «که چېرې هلته دېرش تنه پيدا کړم، زه به هغه ځای له منځه نه وړم.» ۳۱

ابراهيم وويل: «ښښتنه، ما وبخښه چې په جرات سره ستا سره خبرې کوم. که يوازې شل تنه هلته پيدا شي؟» هغه وويل: «که چېرې شل تنه پيدا کړم، زه به ښار وران نه کړم.» ۳۲ ابراهيم وويل: «ښښتنه، په ما باندې په قهر نه شې، زه به يوازې يو وار بيا خبرې وکړم. کېدای شي چې لس تنه هلته پيدا شي؟» هغه وويل: «که لس تنه هلته پيدا شي، نو زه به ښار وران نه کړم.»

۳۳ له هغې وروسته چې ښښتن د ابراهيم سره خبرې خلاصې کړې، هغه لاړ او ابراهيم خپل کور ته ستون شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د سدوم د خلکو ګناهونه

۱ کله چې هغه دوه فرښتې د ماښام په وخت کې سدوم ته
ورسېدلې، لوط د ښار په دروازه کې ناست ؤ. څنګه چې لوط هغوی
ولیدلې، راپاڅېده او د هغوی د هرکلي دپاره ورغی او د درناوي په
خاطر یې ورته خپل سر ټیټ کړ ۲ او ویې ویل: «ای زما بادارانو،
د خپل خدمتګار کور ته راشئ. تاسو کولای شئ خپلې پښې
ووینځئ او دلته شپه تېره کړئ. سهار وختي پاڅېږئ او په خپله لاره
روان شئ.» خو هغوی ورته په ځواب کې وویل: «نه، مونږ به د ښار
په چوک کې شپه تېره کړو.» ۳ خو لوط په هغوی باندې ډېر سخت
ټینګار وکړ، ترڅو هغوی ورسره د هغه کور ته لاړلې. هغه د هغوی
دپاره خوراک تیار کړ او فطیره ډوډی یې ورته پخه کړه او هغوی
وخوړله.

۴ هغوی لا ویده شوي نه وو چې د سدوم د ښار خلک له هرې
خوا د ځوان څخه نیولې تر زاړه پورې ټول د کور څخه راچاپېر
شول. ۵ هغوی لوط ته غږ وکړ: «هغه دوه کسان چې نن شپه ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره راغلي وو، چېرته دي؟ هغوی مونږ له راوباسه چې بد کار
ورسره وکړو.» ۶ لوط دباندې ووت او دروازه يې د ځان پسې بنده
کړه ۷ او هغوی ته يې وويل: «ای ورونو! زه تاسو ته زاري کوم
چې داسې بد کار مه کوئ. ۸ ګورئ، زه دوه لورګانې لرم چې
تراوسه پورې لا پېغلې دي. هغوی به تاسو ته راوباسم، هرڅه چې
غواړئ د هغوی سره يې وکړئ، خو د دې خلکو سره هېڅ مه کوئ،
ځکه چې هغوی ماته پناه راوړې ده.»

۹ هغوی ځواب ورکړ: «زمونږ د لارې څخه لېرې شه» او ويې
ويل: «ای پردی سړيه! زمونږ له مخې څخه لېرې شه، ته څوک يې
چې مونږ ته وايې چې څه بايد وکړو؟ زمونږ د مخې څخه لېرې شه.
که نه، نو ستا سره به تر هغوی بد عمل وکړو.» هغوی لوط بېرته ټېل
واهه او نږدې شول چې دروازه ماته کړي. ۱۰ خو هغو دوو کسانو
خپل لاسونه دباندې راوويستل او لوط يې د ځان سره کور ته دننه
کړ او دروازه يې بنده کړه. ۱۱ نو بيا هغوی هغه ټول خلک چې
دباندې ولاړ وو ړانده کړل، ترڅو هغوی ونه شي کولای چې دروازه
پيدا کړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# لوط د سدوم څخه ځي

۱۲ هغو دوه کسانو لوط ته وویل: «که دلته ستا نور څوک یعنې
زامن، لورګانې، زومان او نور خپلوان په دې ښار کې اوسیږي، نو د
دې ښار څخه یې وباسه. ۱۳ ځکه چې مونږ غواړو دغه ځای وران
کړو. د دې خلکو په ضد څښتن ډېر فریادونه اورېدلي دي او مونږ
یې رالیږلي یو چې سدوم له منځه یوسو.»

۱۴ نو لوط دباندې ووت، د خپلو زومانو سره یې چې د هغه د
لورګانو سره یې کوژدنې شوې وې، خبرې وکړې او ویې ویل: «زر
پاڅئ او د دې ځای څخه ووځئ. څښتن غواړي چې دا ځای له
منځه یوسي.» خو د هغه زومانو فکر کاوه چې هغه ټوکې کوي.

۱۵ سهار وختي فرښتو لوط وهڅاوه او ورته ویې ویل: «پاڅه!
خپله ښځه او دواړه لورګانې دې واخله او ووځه، ترڅو د دې ښار
په ورانېدلو سره تاسو خپل ژوند له لاسه ورنه کړئ.» ۱۶ هغه وخت
لوط زړه نازړه کېده، خو بیاهم څښتن په هغه باندې مهربانه شو او
هغو کسانو د ده او د ده د ښځې او لورګانو لاسونه ونیول او هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

يې په امن سره د ښار څخه دباندې وويستل. ۱۷ بيا يوې فرښتې
ورته وويل: «د دې دپاره چې ژوندي پاتې شئ، نو وتښتئ! شاته مه
ګورئ او په ټوله دره کې ونه دريږئ. غرونو ته وتښتئ چې ونه وژل
شئ.»

۱۸ خو لوط هغوی ته وويل: «نه، ای زما بادارانو په مونږ باندې
داسې مه کوئ. ۱۹ تاسو زما سره ډېر لوی احسان کړی دی او زما
ژوند مو ژغورلی دی، خو زه نه شم کولای چې غرونو ته وتښتم. نو
مخکې له دې چې هغه ځای ته ورسيږم، دا بدبختي به په ما باندې
راشي او زه به مړ شم. ۲۰ ايا تاسو هغه وړوکی ښار وينئ؟ هغه ډېر
نږدې دی، اجازه راکړئ چې هلته لاړ شم. تاسو ګورئ چې هغه يو
وړوکی ځای دی. زه به هلته په امن کې يم.» ۲۱ هغه ځواب ورکړ:
«ډېر ښه، زه به ستا دغه غوښتنه هم پوره کړم. زه به دغه ښار وران
نه کړم. ۲۲ زر شه، هلته وتښته. ځکه ترڅو ته هلته رسېدلی نه يې،
زه هېڅ کار نه شم کولای.» (په دې خاطر هغه ښار د صوغر په نوم
ياد شو.)


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د سدوم او عمورې ورانېدل

۲۳ کله چې لوط صوغر ته ورسېده، لمر راوخوت. ۲۴ په هغه
وخت کې څښتن د اسمان څخه په سدوم او عموره باندې
سوځوونکي ګوګړ وورول. ۲۵ هغه ښاروونه، ټوله دره او د ښارونو
ټول اوسېدونکي او د ځمکې نباتات يې په بل مخ واړول. ۲۶ خو د
لوط ښځې شاته وکتل او د هغې څخه د مالګې ستنه جوړه شوه.

۲۷ بله ورځ سهار وختي ابراهيم پاڅېده او بېرته هغه ځای ته
چې د څښتن په مخکې ودرېدلی ؤ او خبرې يې ورسره کړې وې،
لاړ. ۲۸ هغه د سدوم، عمورې او د ټولې درې خوا ته وکتل او ويې
ليدل چې د ځمکې څخه د يو ډېر لوی تنور د لوګي په شان لوګی
پورته کيږي. ۲۹ نو کله چې خدای د درې ښاروونه چې لوط په کې
اوسېده وران کړل، نو هغه ابراهيم رایاد کړ او لوط يې د هغه افت
څخه خلاص کړ.

# د موآبيانو او عمونيانو اصليت


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ لوط وېرېده چې په صوغر کې پاتې شي. هغه د خپلو دواړو لورګانو سره غرونو ته لاړ او په يوې سمخې کې اوسېدل. ۳۱ مشرې لور يې خپلې کشرې خور ته وويل: «زمونږ پلار زوړ شوی دی، دلته په دې شاوخوا کې داسې سړی نه پيدا کيږي چې زمونږ سره واده وکړي لکه څنګه چې په ټوله دنيا کې رواج دی. ۳۲ راځئ چې خپل پلار نشه کړو او د هغه سره څملو، ترڅو د هغه نه اولادونه ولرو او د خپل پلار نسل ژوندی وساتو.» ۳۳ نو په هماغه شپه يې په خپل پلار شراب وڅښل او مشره لور يې د خپل پلار سره څملاستله او دی د هغې په څملاستو او پاڅېدلو باندې پوه نه شو.

۳۴ په بله ورځ مشرې لور کشرې ته وويل: «تېره شپه زه د خپل پلار سره څملاستم، راځئ چې نن شپه هم په هغه باندې شراب وڅښو او ته ورسره څمله. نو مونږ هر يو به د خپل پلار نه اولاد ولرو.» ۳۵ نو هغه شپه يې هم په خپل پلار باندې شراب وڅښل او کشره لور يې لاړه او د خپل پلار سره څملاستله. هغه بياهم د هغې په څملاستو او پاڅېدلو باندې پوه نه شو. ۳۶ په دې ډول د لوط دواړه لورګانې د خپل پلار په وسيله اميدوارې شوې. ۳۷ د مشرې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لور زوی پیدا شو او په هغه باندې يې موآب نوم کېښود او هغه د
اوسنيو موآبيانو پلار دی. ۳۸ کشرې لور يې هم زوی راوړ او په هغه
باندې يې بن‌عمي نوم کېښود او هغه د اوسنيو عمونيانو پلار دی.

# ابراهيم او ابي‌ملک

۱ ابراهيم د ممرې ځخه د کنعان جنوب خواته کډه وکړه او د
قادش او شور په منځ کې يې اوسېده او د يو څه وخت دپاره په
جرار کې پاتې شو. ۲ هلته ابراهيم د خپلې ښځې ساره په هکله
وويل: «هغه زما خور ده.» د جرار پاچا ابي‌ملک په ساره پسې
کسان ولېږل او هغه يې راوستله. ۳ يوه شپه خدای په خوب کې
ابي‌ملک ته ښکاره شو او ويې ويل: «ته به مړ شې، ځکه هغه ښځه
چې تا خپل ځان ته راوستلې ده، هغه واده شوې ښځه ده.»

۴ خو ابي‌ملک لا هغې ته ورنژدې شوی نه ؤ، هغه وويل: «ای
ښښتنه، ايا ته به بې‌ګناه خلک ووژنې؟ ۵ ابراهيم په خپله وويل
چې هغه زما خور ده او هغې هم همدا خبره وکړه چې دی زما ورور


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی او دا کار ما د پاک وجدان له مخې کړی دی او هېڅ غلطي مې
نه ده کړې.»

۶ خدای په خوب کې هغه ته وویل: «هو، زه پوهېږم چې تا دا
کار د پاک وجدان له مخې کړی دی او ته مې د دې څخه وساتلې
چې زما په وړاندې کومه ګناه وکړې او دې ته مې پرېنښودلې چې
هغې ته لاس وروړې. ۷ اوس هغه ښځه بېرته خپل مېړه ته ورکړه.
هغه نبي دی او هغه به ستا دپاره دعا وکړي، ترڅو ژوندی پاتې شې.
خو که چېرې هغه بېرته ورنه کړې، په دې پوه شه چې ته او ستا
ټول خلک به مړه شئ.»

۸ سبا سهار وختي ابي‌ملک خپل ټول درباریان راوغوښتل او
څه چې پېښ شوي وو هغوی ته يې بيان کړل او هغوی ډېر
ووېرېدل. ۹ بيا ابي‌ملک ابراهیم راوغوښت او پوښتنه يې ترې
وکړه: «زمونږ سره دې څه وکړل؟ ما ستا سره څه بد کړي وو چې
داسې لوی مصيبت دې په ما او زما په پاچاهۍ باندې راوست؟ تا
زما سره داسې کار وکړ چې د کولو نه ؤ.» ۱۰ بيا ابي‌ملک د ابراهیم
څخه پوښتنه وکړه: «داسې کار دې ولې وکړ؟» ۱۱ ابراهیم ځواب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړ: «ما فکر وکړ چې د دې ځای خلک د خدای څخه نه وېرېږي
او ما به د خپلې ښځې په خاطر ووژني. ۱۲ هغه په رښتیا سره زما
خور ده، هغه زما ناسکه خور ده. هغه زما د پلار لور ده، خو زما د
مور لور نه ده او ما د هغې سره واده کړی دی. ۱۳ کله چې خدای زه
د خپل پلار د کور څخه پردي هېواد ته ولېږلم، ما هغې ته وویل: ‹دا
به زما سره ستا وفاداري وي چې مونږ هرځای ته لاړ شو، زما په
هکله به وایې چې هغه زما ورور دی.›»

۱۴ نو ابي‌ملک ابراهیم ته پسونه او غویان، غلامان او وینځې
ورکړل او د هغه ښځه ساره یې بېرته هغه ته وسپارله. ۱۵ ابي‌ملک
وویل: «زما ټوله ځمکه ستا په مخکې ده، هرځای چې ستا خوښ
وي هلته واوسېږه.» ۱۶ هغه ساره ته وویل: «زه ستا ورور ته د
سپینو زرو زر سیکې ورکوم، ترڅو هغو ټولو خلکو ته چې ستا سره
دي دا ثابته شي چې ته بې‌ګناه یې او هر یو په دې باندې پوه شي
چې تا کومه غلطي نه ده کړې.»

۱۷–۱۸ د هغه څه په خاطر چې د ابراهیم په ښځې ساره باندې
شوي وو، څښتن د ابي‌ملک د کورنۍ ټولې ښځې شنډې کړې وې.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ابراهیم د ابي‌ملک دپاره دعا وکړه او خدای هغه ته شفا ورکړه. هغه همدارنګه د هغه ښځې او د هغه وینځو ته هم شفا ورکړه چې ماشومان وزیږوي.

## د اسحاق زیږېدنه

۱ لکه څنګه چې څښتن ویلي وو، هغه په ساره باندې مهربانه شو. څښتن هغه وعده سرته ورسوله چې د ساره سره یې کړې وه.
۲ ساره امیدواره شوه او زوی یې پیدا شو. په هغه وخت کې ابراهیم زوړ ؤ. دا هلک په هماغه وخت کې پیدا شو چې خدای یې وعده کړې وه. ۳ ابراهیم د خپل زوی نوم اسحاق کېښود ۴ او لکه څنګه چې خدای هغه ته حکم کړی ؤ، اسحاق د اتو ورځو ؤ چې ابراهیم هغه سنت کړ. ۵ ابراهیم د سلو کالو ؤ چې د هغه زوی اسحاق پیدا شو. ۶ ساره وویل: «خدای ماته خوشحالي او خندا راکړې ده او هرڅوک چې دا خبره واوري، نو زما سره به وخاندي.»
۷ هغې وویل: «هیچا فکر نه کاوه چې زه به د دې لایقه شم چې ابراهیم ته اولاد وزیږوم. خو سره له دې چې ابراهیم زوړ دی، ما


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته زوی وزېږاوه.»

## هاجره او اسماعیل د کور څخه شړل کیږي

٨ هلک لوی شو او هغه یې د تي څخه بېل کړ. په هماغه ورځ چې اسحاق یې د تي څخه بېل کړ، ابراهیم ډېره لویه مېلمستیا جوړه کړه. ٩ خو ساره ولیدل چې د مصری هاجرې زوی په اسحاق باندې ملنډې وهي، ١٠ نو هغې ابراهیم ته وویل: «دغه وینځه او د هغې زوی وشړه، ځکه چې د دې وینځې زوی دې زما د زوی اسحاق سره هېڅکله په میراث کې شریک نه شي.» ١١ ابراهیم په دې خبرې باندې ډېر خفه شو، ځکه چې اسماعیل هم د هغه زوی ؤ. ١٢ خو خدای ابراهیم ته وویل: «د دې هلک او د خپلې وینځې په اړه مه خفه کیږه، هرڅه چې ساره درته وایي هغه واوره، ځکه چې ستا نسل به د اسحاق څخه حساب شي. ١٣ زه به د وینځې د زوی څخه هم یو قوم جوړ کړم، ځکه چې هغه هم ستا اولاد دی.»

١۴ ابراهیم سهار وختي یو څه ډوډی او د اوبو ژی واخیستل او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هاجرې ته يې ورکړل او د هغې په اوږو يې کېښودل او هغه يې د
خپل زوی سره رخصت کړه. هغه لاړله او د بيرشبع په دښته کې
سرګردانه ګرځېدله. ۱۵ کله چې د ژې اوبه خلاصې شوې، هغې خپل
زوی د يو بوټي لاندې پرېښود ۱۶ او شاوخوا د سلو مترو په فاصله
د هغه څخه لېرې کښېناستله او د ځان سره يې وويل: «زه دا نه شم
زغملی چې د خپل زوی مرګ ووينم.» هغه هلته ناسته وه او سلګۍ
يې وهلې.

۱۷ خدای د هلک ژړا واورېدله او د خدای فرښتې د اسمان
څخه په هاجرې باندې غږ وکړ: «ای هاجرې، ولې خفه يې؟ مه
وېرېږه، خدای د هلک ژړا اورېدلې ده. ۱۸ پاڅه او هلک پورته کړه
او هغه ته تسلي ورکړه. زه به د هغه د نسل څخه ډېر لوی قوم جوړ
کړم.» ۱۹ بيا خدای د هغې سترګې پرانيستلې او هغې څاه وليدله.
هغه لاړله او د اوبو ژې يې ډک کړ او په خپل زوی يې وڅښلې. ۲۰
خدای د هلک سره مل ؤ او هغه غټېده. هغه د فاران په دښته کې
اوسېده او يو غشي ويشتونکی شو. ۲۱ کله چې هغه هلته اوسېده،
مور يې ورته يوه مصری ښځه وکړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ابراهیم او ابي‌ملک ترمنځ تړون

۲۲ په هغه وخت کې ابي‌ملک او د هغه د لښکر مشر فیکول
ابراهیم ته وویل: «په هر کار کې چې ته یې کوې خدای درسره مل
دی! ۲۳ اوس د خدای په حضور کې ماته قسم وخوره چې زما سره،
زما د اولادونو او زما د نسل سره به ټګي نه کوې. لکه څنګه چې زه
تاته وفادار وم، نو قسم وخوره چې ته به هم زما سره او د دې هېواد
سره چې په کې اوسېږې، وفادار اوسې.» ۲۴ ابراهیم وویل: «زه قسم
خورم.»

۲۵ ابراهیم ابي‌ملک ته د هغې څاه په اړه چې د هغه نوکرانو د ده
څخه په زور اخیستې وه، ګیله وکړه. ۲۶ ابي‌ملک وویل: «زه نه
پوهېږم چې دا کار چا کړی دی. تا ماته په دې هکله څه نه دي
ویلي او دا لومړی ځل دی چې زه دا خبره اورم.» ۲۷ نو ابراهیم څو
پسونه او غویان ابي‌ملک ته ورکړل او دواړو یو د بله سره یو تړون
وکړ. ۲۸ ابراهیم د خپلې رمې څخه اووه مېږې بېلې کړې. ۲۹
ابي‌ملک د ابراهیم څخه پوښتنه وکړه: «د څه دپاره دې دا اووه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مېږې ببلې کړې؟» ۳۰ ابراهیم ځواب ورکړ: «دا اووه مېږې قبولې
کړه. په دې کار سره به ته شاهد يې چې دا څاه ما کیندلې ده.» ۳۱
په دې سبب هغه ځای د بیرشبع په نوم یاد شو، چې هغو دواړو
هلته یو د بل سره قسم خوړلی ؤ.

۳۲ په بیرشبع کې د تړون جوړولو څخه وروسته ابي‌ملک او د
هغه د لښکر مشر فیکول بېرته د فلسطینیانو هېواد ته راستانه شول.
۳۳ ابراهیم په بیرشبع کې د غز ونه وکرله او هلته يې څښتن یعنې
ابدي خدای ته عبادت وکړ. ۳۴ ابراهیم د فلسطینیانو په هېواد کې د
اوږدې مودې دپاره پاتې شو.

# خدای ابراهیم ته امر کوي چې اسحاق قرباني کړي

۱ څه موده وروسته خدای په ابراهیم باندې ازمېښت وکړ او
هغه ته يې وويل: «ای ابراهیمه!» او ابراهیم ځواب ورکړ: «هو، زه
حاضر یم!»

۲ خدای وويل: «خپل زوی اسحاق چې ستا یوازینی زوی دی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او په تا باندې ډېر ګران دی، واخله او د موريا سيمې ته لاړ شه او
هغه په هغه غره باندې چې زه يې درته ښايم زما دپاره د
سوځېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړه.» ۳ ابراهيم سهار وختي
پاڅېد، د سوځېدونکې نذرانې دپاره يې لرګي مات کړل او هغه يې په
خره باندې بار کړل. خپل دوه نوکران او خپل زوی اسحاق يې د
ځان سره واخيستل او هغه ځای ته روان شول چې خدای ورته
ويلي وو. ۴ په درېمه ورځ ابراهيم هغه ځای د لېرې څخه وليده.
۵ بيا هغه خپلو نوکرانو ته وويل: «تاسو دلته د خره سره پاتې شئ،
زه او هلک به هلته لاړ شو. مونږ به هلته عبادت وکړو او بېرته به بيا
تاسو ته راشو.»

۶ ابراهيم د قربانۍ لرګي خپل زوی ته په اوږو باندې کېښودل
او خپله يې چاړه او د اور بلولو دپاره يې سکاره واخيستل او دواړه
يوځای سره روان شول. ۷ اسحاق خپل پلار ته وويل: «ای پلاره!»
هغه ځواب ورکړ: «وايه زما زويه!» هغه وويل: «زه پوهېږم چې ستا
سره اور او لرګي شته، خو د سوځېدونکې نذرانې دپاره ورى چېرته
دی؟» ۸ ابراهيم ځواب ورکړ: «ای زما زويه، خدای به په خپله د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوځېدونکې نذرانې دپاره ورى تيار کړي.» او دواړه يوځاى سره
روان شول.

۹ کله چې هغه ځاى ته چې خداى ورته ويلي وو ورسېدل،
ابراهيم هلته د قربانۍ ځاى جوړ کړ او په هغه باندې يې لرګي په
ترتيب سره کېښودل. هغه خپل زوى اسحاق وتاړه او د لرګيو دپاسه
يې څملاوه. ۱۰ بيا هغه چاړه راواخيستله چې خپل زوى حلال
کړي. ۱۱ خو د څښتن فرښتې د اسمان څخه هغه ته غږ وکړ: «اى
ابراهيمه، اى ابراهيمه!» هغه ځواب ورکړ: «زه حاضر يم.» ۱۲ هغه
وويل: «هلک ژوبل نه کړې او په هغه باندې هيڅ ونه کړې! زه اوس
پوه شوم چې ته د خداى څخه وېرېږې، ځکه چې خپل يوازېنى
زوى دې زما څخه دريغ نه کړ.»

۱۳ ابراهيم سترګې پورته کړې او ويې ليدل چې شاته يې يو پسه
دى چې ښکرونه يې په بوټي کې نښتي وو. ابراهيم ورغى، هغه يې
راونيوه او د خپل زوى په ځاى يې د سوځېدونکې نذرانې په توګه
قرباني کړ. ۱۴ ابراهيم دغه ځاى د «څښتن به يې تياروي» په نوم
ياد کړ او حتى تر نن ورځې پورې داسې ويل کيږي: «هغه به د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن په غره کې تیار شي.»

۱۵ د ښښتن فرښتې د دوهم ځل دپاره د اسمان څخه په ابراهیم
باندې غږ وکړ ۱۶ او ویې ویل: «ښښتن داسې وايي: په دې خاطر
چې تا دا کار وکړ او خپل یوازېنی زوی دې زما څخه دریغ نه کړ،
زه په خپل ذات باندې قسم خورم، ۱۷ زه به په رښتیا سره برکت
درکړم او ستا نسل به لکه د اسمان د ستورو او هغو شګو په شان
چې د بحیرې په غاړه پرتې دي، زیات کړم. هغوی به خپلو دښمنانو
ته ماتې ورکړي او د هغوی ښارونه به ونیسي. ۱۸ د ځمکې ټول
قومونه به ستا د اولادې په وسیله برکت ومومي، ځکه چې تا زما
حکم منلی دی.» ۱۹ نو ابراهیم بېرته خپلو نوکرانو ته راستون شو او
هغوی ټول یوځای بیرشبع ته لاړل او ابراهیم په بیرشبع کې پاتې
شو.

## د ناحور اولاده

۲۰ څه موده وروسته ابراهیم خبر شو چې د ده د ورور ناحور


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه میلکه هم مور شوه او زامن يې زیږولي دي: ٢١ د هغه لومړنی
اولاد عوص، د هغه ورور بوز، قموییل د آرام پلار، ٢٢ او د هغې نور
پنځه زامن دا وو: کاسد، حزو، فلداش، یدلاف او بتوییل. ٢٣ د
بتوییل څخه ربکا پیدا شوه. میلکې د ابراهیم ورور ناحور ته دا اته
زامن وزیږول. ٢٤ ریومه د ناحور وینځې هم طابح، جاحم، تاحش
او معکه وزیږول.

## د ساره مړینه

١ ساره یوسلو اووه ویشت کاله ژوندی وه. ٢ هغه په
قریت‌اربع (حبرون) کې چې د کنعان په هېواد کې دی، مړه شوه او
ابراهیم د ساره دپاره غمجن شو او په هغې پسې يې وژړل.

٣ بیا ابراهیم د خپلې ښځې د مړي له څنګه پاڅېده او حیتیانو
ته ورغی او ویې ویل: ٤ «زه دلته ستاسو په منځ کې پردی او
مسافر یم. یو څه ځمکه په ما باندې خرڅه کړئ، ترڅو خپله ښځه
په کې ښخه کړم.» ٥ هغوی ځواب ورکړ: ٦ «باداره، زمونږ خبره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

واوره. مونږ تاته د یو قوي مشر په سترګه ګورو. زمونږ په یوه ډېره
ښه هدیره کې خپل مړی ښخ کړه. مونږ هر یو به خوشحاله شو چې
د قبر دپاره ځای درکړو، ترڅو خپله ښځه په کې ښخه کړې.» ٧ نو
ابراهیم پاڅېد او د درناوي په خاطر یې هغوی ته خپل سر ټیټ کړ
٨ او ورته ویې ویل: «که ستاسو خوښه وي، نو پرېږدئ چې خپل
مړی ښخ کړم. تاسو زما په خاطر د صوحار د زوی عفرون څخه
وغواړئ ٩ چې د مکفیلې سمڅه چې د هغه جایداد دی او د هغه د
پټي سرته پرته ده، په پوره بیه په ما باندې خرڅه کړي. دا به ستاسو
په منځ کې زمونږ هدیره وي.»

١٠ عفرون په خپله د نورو حیتیانو سره د ښار په دروازه کې د
غونډې په ځای کې ناست ؤ. هغه ابراهیم ته د ټولو حیتیانو په
مخکې چې هلته حاضر وو ځواب ورکړ، ١١ هغه وویل: «نه، زما
باداره! زما خبره واوره. زه دا پټی او هغه سمڅه چې په هغه کې ده د
خپل قوم په مخکې تاته درکوم، خپل مړی دې په کې ښخ کړه.» ١٢
ابراهیم یوځل بیا د حیتیانو په وړاندې د درناوي په خاطر سر ټیټ
کړ. ١٣ هغه د ټولو په مخکې عفرون ته وویل: «زما خبره واوره. که


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چېرې ستا رضا وي، زه به د پټي بيه درکړم. دا زما له خوا قبوله کړه،
ترڅو خپل مړی هلته ښخ کړم.» ۱۴ عفرون ځواب ورکړ: ۱۵ «ای
زما باداره، زما خبره واوره. د دې ځمکې بيه څلور سوه د سپينو زرو
سکې دي، خو دا زما او ستا ترمنځ هېڅ شی نه دی. خپل مړی دې
په کې ښخ کړه.» ۱۶ نو ابراهيم د عفرون خبره قبوله کړه او هغه بيه
چې عفرون د حيتيانو په مخکې ټاکلې وه، يعنې څلور سوه د سپينو
زرو سکې عفرون ته وتللې. دا د هغه وزن سره سم وو چې په هغه
وخت کې يې د سوداګرانو په منځ کې رواج درلود.

۱۷ په دې ډول د عفرون جايداد چې په مکفيله کې د ممرې په
لمرخاته کې ؤ، هغه د ابراهيم شو. په هغه کې پټی او هغه سمڅه چې
په هغه پټي کې وه او د هغې ځمکې شاوخوا ټولې ونې شاملې وې.
۱۸ دا ځمکه د ټولو حيتيانو په مخکې چې په هغې غونډې کې
حاضر وو، د ابراهيم د جايداد په توګه وپېژندل شوه.

۱۹ نو ابراهيم خپله ښځه ساره ممرې ته نژدې چې په حبرون کې
ده، د کنعان په خاوره کې د مکفيله په سمڅه کې ښخه کړه. ۲۰ نو
هغه پټی او سمڅه چې په هغې کې وه، د حيتيانو له خوا ابراهيم ته د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هدیرې دپاره د هغه د ملکیت په توګه ورکړل شول.

## د اسحاق دپاره ښځه

١ ابراهیم ډېر زوړ شوی ؤ او ښتن هغه ته په هر کار کې برکت ورکاوه. ٢ ابراهیم خپل ناظر ته چې د هغه په کورنۍ کې د هرڅه واکدار ؤ، وویل: «خپل لاس دې زما د ورون لاندې کېږده. ٣ په دې ډول زه د ښتن یعنې د اسمانونو او ځمکې د خدای په نوم قسم درکوم چې زما زوی ته به په دې ځای یعنې د کنعان په خلکو کې ښځه نه کوې، ٤ بلکې زما وطن او زما خپلو خپلوانو ته لاړ شه او هلته زما زوی اسحاق ته ښځه وکړه.»

٥ ناظر پوښتنه وکړه: «که چېرې انجلۍ ونه غواړي چې خپل کور پرېږدي او زما سره دې وطن ته راشي، نو بیا به څنګه کېږي؟ ایا ستا زوی بېرته هغه وطن ته بوځم چې ته ورڅخه راوتلی یې؟» ٦ ابراهیم ځواب ورکړ: «پام کوه چې زما زوی به بېرته هلته نه بیایې. ٧ ښتن د اسمانونو خدای زه د خپل پلار د کور او اصلي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وطن څخه راوویستلم او زما سره یې قسم وخوړ چې دا وطن به ستا اولادې ته ورکوم. هغه به خپله فرښته ستا څخه مخکې ولیږي، ترڅو
ته وکولای شې چې په هغه ځای کې زما زوی ته ښځه وکړې. ۸
که چیرې هغه انجلۍ په دې رضا نه شي چې ستا سره راشي، نو ته به د هغه قسم څخه چې زما سره دې کړی دی، خلاص یې. خو په
هیڅ حالت کې به زما زوی هلته نه وروليې.» ۹
نو ناظر خپل لاس د خپل بادار د ورون لاندې کېښود او قسم یې وخوړ چې څه چې ابراهیم د هغه څخه غواړي هغه به وکړي.

۱۰ ناظر د خپل بادار له اوښانو څخه لس اوښان او هر ډول ښه شیان د ځان سره واخیستل او د بین‌النهرین شمال ته هغه ښار ته لاړ
چې ناحور په کې اوسېده. ۱۱
هغه مازدیګر، یعني کله چې ښځې د اوبو د راوړلو دپاره راوتلې، هلته ورسېده او خپل اوښان یې د ښار
څخه دباندې د څاه په غاړه ګونډه کړل. ۱۲
بیا هغه دعا وکړه: «ای څښتنه، زما د بادار ابراهیم خدایه! نن ما بریالی کړه او زما د بادار
ابراهیم سره خپله وعده پوره کړه. ۱۳
دا دی زه دلته د څاه په څنګ
کې ولاړ یم، د ښار نجونې د اوبو وړلو دپاره راځي. ۱۴
نو داسې دې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشي چې کله زه هغې انجلۍ ته ووايم چې خپل منګی رابښکته کړه
چې اوبه وڅښم او هغه ووايي: ‹وڅښه او ستا اوښانو ته به هم اوبه
ورکړم،› نو دا دې هماغه انجلۍ وي چې د خپل خدمتګار اسحاق
دپاره دې غوره کړې ده. نو که چېرې داسې وشول، زه به پوه شم
چې تا هغه وعده پوره کړې ده چې زما د بادار سره دې کړې وه.»

۱۵ د هغه دعا لا خلاصه شوې نه وه چې ربکا راورسېدله او د
اوبو منګی یې په اوږو باندې ایښی ؤ. هغه د بتوییل لور وه او بتوییل
د میلکه زوی ؤ او ملکه د ابراهیم د ورور ناحور ښځه وه. ۱۶ هغه
یوه ډېره ښکلې انجلۍ وه او پېغله وه. هغه څاه ته ورښکته شوه،
خپل منګی یې د اوبو څخه ډک کړ او بېرته راپورته شوه. ۱۷ ناظر د
هغې د لیدلو دپاره په منډه ورغی او ویې ویل: «مهرباني وکړه د خپل
منګي څخه لږې اوبه ماته راکړه.»

۱۸ هغې وویل: «ای زما باداره، وڅښه.» نو زر یې خپل منګی له
اوږو څخه رابښکته کړ او هغه ته یې اوبه ورکړې چې ویې څښي. ۱۹
کله چې هغه اوبه وڅښلې، هغې وویل: «زه به ستا د اوښانو دپاره
هم اوبه راوباسم، ترڅو هغوی هم په اوبو ماړه شي.» ۲۰ هغې زر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل منګکی په اخور کې خالي کړ او بېرته په منډه د اوبو ویستلو دپاره څاه ته لاړه او د ټولو اوښانو دپاره یې اوبه راوویستلې. ۲۱
سړي په خاموشۍ سره هغې ته کتل چې په دې پوه شي چې څښتن د ده سفر بریالی کړی دی او که نه.

۲۲ کله چې هغې انجلۍ خپل کار خلاص کړ، نو هغه سړي د سرو زرو یو قیمتي پېزوان راواخیست او هغې ته یې په پوزه کړ او همدارنګه دوه د سرو زرو غټې کړۍګانې یې راواخیستلې او هغې ته یې په لاس کړلې. ۲۳ بیا هغه پوښتنه وکړه: «ماته ووایه چې ته د چا لور یې؟ ایا ستا د پلار په کور کې زمونږ دپاره کوم ځای شته چې شپه په کې تېره کړو؟» ۲۴ هغې ځواب ورکړ: «زه د بتوییل لور او د ناحور او میلکې لمسۍ یم.» ۲۵ هغې زیاته کړه: «زمونږ سره بوس او واښه پرېمانه دي او د شپې د تېرولو دپاره ځای هم شته.»

۲۶ بیا هغه سړی په سجده پرېوت او د څښتن عبادت یې وکړ، ۲۷ ویې ویل: «ثنا دې وي څښتن ته، زما د بادار ابراهیم خدای ته چې هغه وعده یې پوره کړه چې زما د بادار سره یې کړې وه. څښتن ماته په دې سفر کې د خپل بادار د خپلوانو کور ته لارښوونه وکړه.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ هغه پېغله په منډه خپل کور ته لاړه او خپلې کورنۍ ته يې ټوله کيسه وکړه. ۲۹ نو د ربکا يو ورور ؤ چې لابان نومېده. لابان په منډه دباندې ووت او د ابراهيم د ناظر پسې څاه ته ورغی. ۳۰ لابان د خپلې خور ربکا په پوزه پېزوان او په لاسونو باندې کړۍ ګانې وليدلې او د هغې څخه يې هغه خبرې واورېدلې چې هغه سړي ورته کړې وې. نو دی ورغی او ويې ليدل چې د ابراهيم ناظر د څاه په غاړه د اوښانو سره ولاړ دی. ۳۱ هغه وويل: «زما سره کور ته راشه. ته داسې سړی يې چې څښتن درته برکت درکړی دی. ولې دباندې ولاړ يې؟ ما ستا دپاره په خپل کور کې کوټه او ستا د اوښانو دپاره ځای تيار کړی دی.»

۳۲ نو هغه سړی کور ته ننوت او هغوی د اوښانو څخه بارونه راښکته کړل او اوښانو ته يې بوس او واښه ورکړل. بيا لابان د ابراهيم ناظر او د هغه کسانو ته اوبه راوړلې چې خپلې پښې ووينځي. ۳۳ بيا د ناظر په مخکې ډوډۍ کېښودله شوه، خو هغه وويل: «تر هغې پورې به زه ډوډۍ ونه خورم، ترڅو مې خپله خبره نه وي کړې.» لابان وويل: «نو بيا ووايه.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ نو هغه ویل: «زه د ابراهیم ناظر یم. ۳۵ څښتن زما بادار ته
زیات برکت ورکړی دی او هغه شتمن شوی دی او هغه ته یې رمې
او پادې، سپین زر او سره زر، غلامان او وینځې، اوښان او خره
ورکړي دي. ۳۶ زما د بادار د ښځې ساره څخه په زوړ عمر کې
زوی پیدا شو او هرڅه چې زما بادار درلودل هغه ته یې ورکړل. ۳۷
زما بادار ماته قسم راکړ او ویې ویل چې زما زوی ته به د کنعانیانو
د لورګانو څخه چې زه د هغو په منځ کې اوسېږم، ښځه نه کوې. ۳۸
بلکې زما د پلار کورنۍ او زما خپلې قبیلې ته لاړ شه او زما زوی
ته ښځه وکړه. ۳۹ بیا ما د خپل بادار څخه پوښتنه وکړه: ‹که چېرې
انجلۍ زما سره رانه شي، نو بیا څه وکړم؟› ۴۰ هغه ځواب راکړ:
‹هغه څښتن چې زه یې پیروي کوم هغه به خپله فرښته ستا سره
ولیږي او ستا سفر به بریالی کړي، ترڅو ته وکولای شې چې زما
زوی ته زما د خپلې قبیلې او زما د پلار د کورنۍ څخه ښځه وکړې.
۴۱ کله چې ته زما قبیلې ته ورشې، نو زما د قسم څخه به خلاص
شې، حتی که هغوی د انجلۍ د ورکولو څخه انکار هم وکړي، ته به
زما د قسم څخه خلاص یې.›


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٤٢ کله چې نن زه څاه ته راغلم، ما وویل: ‹ای څښتنه، زما د
بادار ابراهیم خدایه! که ستا رضا وي، نو ماته په دې سفر کې چې
راغلی یم بری راکړه. ٤٣ دا دی زه دلته د دې څاه په غاړه ولاړ یم.
نو داسې دې وشي چې کومه انجلۍ چې د اوبو د وړلو دپاره راځي،
نو زه به د هغې څخه وغواړم چې د خپل منګي څخه ماته لږې اوبه
راکړې. ٤٤ که چېرې هغه راته ووايي چې وڅښه او زه به ستا د
اوښانو دپاره هم اوبه راوباسم، نو دا دې هماغه انجلۍ وي چې
څښتن زما د بادار د زوی دپاره غوره کړې ده.› ٤٥ مخکې له دې
چې زما دعا خلاصه شي، ربکا د خپل منګي سره چې په اوږو يې
ايښی ؤ، راغله. هغه څاه ته ښکته شوه او اوبه يې راوويستلې او ما
هغې ته وويل: ‹لږې اوبه راکړه چې زه يې وڅښم.› ٤٦ هغې زر
خپل منګی د اوږو څخه راښکته کړ او ويې ويل: ‹وڅښه. زه به ستا
اوښانو ته هم اوبه ورکړم.› نو بيا ما وڅښلې او هغې اوښانو ته هم
اوبه ورکړې. ٤٧ د هغې څخه مې پوښتنه وکړه: ‹ته د چا لور يې؟›
نو هغې وويل: ‹زه د بتوييل لور يم او د ناحور او ميلکه لمسی يم.›
نو د هغې په پوزه کې مې پېزوان واچاوه او په لاسونو کې مې ورته
کړۍګانې واچولې. ٤٨ ما سجده وکړه او د څښتن عبادت مې وکړ او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د خپل بادار ابراهیم څښتن خدای مې وستایه چې ماته یې سمه لاره
وښودله چې د خپل بادار د ورور لمسۍ د هغه زوی ته وکړم. ۴۹ نو
اوس که چېرې زما د بادار سره وفاداري او تلپاتې مینه کوې هم راته
ووایه او که نه یې کوې هم ماته ووایه، ترڅو زه پرېکړه وکړم چې
بل چېرته لاړ شم.»

۵۰ لابان او بتوییل ځواب ورکړ: «څرنګه چې دا خبره د څښتن
له خوا ده، نو مونږ په دې هکله پرېکړه نه شو کولای. ۵۱ دا دی
ربکا حاضره ده هغه درسره واخله او ځه. لکه څنګه چې څښتن په
خپله ویلي دي، هغه دې ستا د بادار د زوی ښځه شي.» ۵۲ څنګه
چې د ابراهیم ناظر دا خبره واورېدله، نو سجده یې وکړه او د څښتن
عبادت یې وکړ. ۵۳ بیا ناظر کالي، د سپینو زرو او سرو زرو ګاڼې
راوویستل او ربکا ته یې ورکړل او د هغې ورور او مور ته یې هم
قیمتي سوغاتونه ورکړل.

۵۴ بیا د ابراهیم ناظر او د هغه کسانو وخوړل او وڅښل او شپه
یې هلته تېره کړه. کله چې هغوی سهار پاڅېدل، ناظر وویل: «ما
رخصت کړه چې بېرته خپل بادار ته لاړ شم.» ۵۵ خو د ربکا ورور


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او مور وویل: «انجلۍ دې یوه هفته یا لس ورځې زمونږ سره پاتې شي، بیا تاسو کولای شئ چې لاړ شئ.» ۵۶ خو هغه وویل: «مونږ مه ایساروئ. څښتن زما سفر بریالی کړی دی، پرېږدئ چې بېرته خپل بادار ته لاړ شم.» ۵۷ هغوی وویل: «راځئ چې انجلۍ راوغواړو او په دې هکله د هغې څخه پوښتنه وکړو.» ۵۸ نو هغوی ربکا راوغوښتله او پوښتنه یې ترې وکړه: «ایا د دې سړي سره ځې؟» هغې وویل: «هو، ځم.»

۵۹ نو هغوی خپله خور ربکا او د هغې زړه نوکره د ابراهیم د ناظر او د هغه د کسانو سره ولېږلې. ۶۰ هغوی د ربکا دپاره برکت وغوښت او ورته یې وویل:

ای زمونږ خورې! ته دې شې مور د میلیونونو اولادونو

فتح دې کړي ښارونه ستا اولاده د دښمنانو خپلو

۶۱ بیا ربکا او د هغې وینځې تیارې شوې او په اوښانو باندې سپرې شوې او د سړي سره روانې شوې. نو ناظر ربکا د ځان سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واخیستله او لاړ.

۶۲ په دې وخت کې اسحاق د بئرلحي رېي څخه راغلی ؤ او د کنعان په جنوب کې اوسېده. ۶۳ يو ماښام اسحاق په پټيو کې چکر واهه. څنګه چې هغه خپلې سترګې پورته کړې ويې ليدل چې اوښان راروان دي. ۶۴ ربکا هم خپلې سترګې پورته کړې او اسحاق يې وليده، نو د اوښ څخه راښکته شوه ۶۵ او د ناظر څخه يې پوښتنه وکړه: «هغه سړی څوک دی چې په پټي کې زمونږ خوا ته راروان دی؟» ناظر ځواب ورکړ: «هغه زما بادار دی.» نو هغې خپل څادر راواخيست او خپل ځان يې ورباندې پټ کړ.

۶۶ کوم کارونه چې ناظر کړي وو، هغه ټول يې اسحاق ته بيان کړل. ۶۷ اسحاق ربکا د خپلې مور ساره خېمې ته راوستله او د هغې سره يې واده وکړ. نو ربکا د هغه ښځه شوه او د هغې سره يې مينه کوله او اسحاق د خپلې مور د مړينې څخه وروسته تسلي وموندله.

## د ابراهيم نور اولادونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱ ابراهیم بله ښځه وکړه چې نوم یې قطوره ؤ. ۲ د هغې څخه
د ابراهیم زامن زمران، یقشان، مدان، مدیان، یشباق او شوحا پیدا
شول. ۳ یقشان د شیبا او ددان پلار ؤ او آشوریم، لطوشیم او لیومیم
د ددان اولاده وه. ۴ عیفه، عیفر، حنوک، ابیداع او الداعه د مدیان
زامن وو. دا ټول د قطورې اولاده وه.

۵ ابراهیم خپله ټوله شتمني اسحاق ته پرېښودله. ۶ خو هغه لا
ژوندی ؤ چې د خپلو وینځو زامنو ته یې سوغاتونه ورکړل او هغوی
یې د خپل زوی اسحاق څخه د ختیځ خواته لېرې ولېږل.

## د ابراهیم مړینه

۷ ابراهیم پوره یوسلو پنځه اویا کاله ژوند وکړ. ۸ هغه په پاخه
عمر کې مړ شو او د خپلو نیکونو سره یوځای شو. ۹ د هغه زامنو
اسحاق او اسماعیل هغه ممرې ته نژدې د حیتي صوحار د زوی
عفرون په پټي کې د مکفیله په سمڅه کې ښخ کړ. ۱۰ دا هغه پټی ؤ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ابراهیم د حیتیانو څخه په بیه اخیستی ؤ. ابراهیم او د هغه ښځه
ساره دواړه په هغه کې ښخ کړای شول. ۱۱ د ابراهیم د مرګ څخه
وروسته خدای د هغه زوی اسحاق ته برکت ورکړ او اسحاق بئرلحي
ريي ته نژدې اوسېده.

## د اسماعیل اولاده

(لومړی تواریخ ۱:۲۸-۳۱)

۱۲ دا د ابراهیم د زوی اسماعیل اولاده ده. دا هغه اسماعیل ؤ
چې د ساره د مصرۍ وینځې هاجرې څخه پیدا شوی ؤ. ۱۳ د
اسماعیل د زامنو نومونه د هغوی د زیږېدلو د ترتیب له مخې چې په
لست کې لیکل شوي دي دا دي: د اسماعیل مشر زوی نبایوت،
قیدار، ادبیل، مبسام، ۱۴ مشماع، دومه، مسا، ۱۵ حداد، تیما، یطور،
نافیش او قدمه. ۱۶ دا د اسماعیل زامن وو او دا د دولسو قبیلو د
مشرانو نومونه وو چې د هغوی د کلیو او کمپونو له مخې وو. ۱۷
اسماعیل پوره د یوسلو اووه دېرشو کالو په عمر مړ شو او د خپلو
نیکونو سره یوځای شو. ۱۸ د هغه اولاده د شور او حویلې ترمنځ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سیمه کې اوسېدله چې د مصر پولې ته نژدې د آشور په لاره پرته ده. هغوی د خپلو ټولو ورونو سره په دښمنۍ کې ژوند کاوه.

## یعقوب او عیسو

۱۹ دا د ابراهیم د زوی اسحاق اولاده ده: د ابراهیم څخه اسحاق
پیدا شو. ۲۰ اسحاق د څلوېښتو کالو په عمر ؤ چې د ربکا سره یې
واده وکړ. هغه د آرامي بتوییل چې د بین‌النهرین څخه ؤ، لور او د
لابان خور وه. ۲۱ اسحاق د خپلې ښځې په خاطر چې شنډه وه،
څښتن ته دعا وکړه. څښتن د هغه دعا قبوله کړه او د هغه ښځه ربکا
امیدواره شوه. ۲۲ مخکې له دې چې ربکا اولاد وزېږوي، هغه پوه
شوه چې هغه به غبرګوني وزېږوي، ځکه چې هغې دا احساس کړه
چې هغوی د مور په نس کې یو د بل سره جګړه کوي. هغې وویل:
«زما سره ولې داسې کیږي؟» نو هغې د څښتن څخه پوښتنه وکړه.

۲۳ څښتن هغې ته وویل:

ستا دواړو زامنو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

جوړ به شي دوه رقيب قومونه

هغو دواړو کې به کشر وي قوي

او مشر به وي غلام د هغه

٢٤ کله چې د هغې د اولاد د زېږولو وخت راورسېد، د هغې
خخه غبرګوني پيدا شول. ٢٥ لومړنی زوی چې پيدا شو، هغه سور ؤ
او د هغه ټول بدن لکه د ببرې چپنې په شان ؤ، نو د هغه نوم يې
عيسو کېښود. ٢٦ د هغه څخه وروسته د هغه ورور پيدا شو او هغه د
عيسو پونده په خپل لاس کې کلکه نيولې وه، نو ځکه د هغه نوم
يعقوب شو. اسحاق د شپېتو کالو په عمر ؤ چې دوی پيدا شول.

## عيسو خپل د مشرتوب حق خرڅوي

٢٧ هلکان لوی شول. عيسو يو تکړه ښکاري او داسې سړی ؤ
چې صحرا يې خوښېدله، خو يعقوب يو ارام سړی ؤ او د کور څخه
به نه وت. ٢٨ اسحاق د عيسو سره مينه کوله، ځکه چې هغه د هغو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حیواناتو غوښه خوړله چې عیسو به ښکار کول. خو په ربکا باندې
یعقوب ګران ؤ.

۲۹ یوه ورځ یعقوب د قورمې په پخولو باندې بوخت ؤ. عیسو د
ښکار څخه راغی او ډېر وږی ؤ ۳۰ او یعقوب ته یې وویل: «زه د
لوږې له لاسه مړ کېږم، د دې لوبیا له قورمې څخه لږه راکړه!» (په
دې خاطر یې په هغه باندې د ادوم نوم هم کېښود.) ۳۱ یعقوب
ځواب ورکړ: «لومړی په ما باندې خپل د مشرتوب حق خرخ کړه.»

۳۲ عیسو وویل: «ګوره، زه مړ کېږم. دا مشرتوب ماته څه ګټه
رسوي؟» ۳۳ خو یعقوب وویل: «لومړی ماته قسم وخوره.» نو هغه
قسم وخوړ او خپل د مشرتوب حق یې په یعقوب باندې خرخ کړ.
۳۴ بیا یعقوب عیسو ته لږه ډوډی او قورمه ورکړه. هغه خوراک او
څښاک وکړ، بیا پاڅېده او لاړ. نو عیسو د خپل مشرتوب حق ته په
سپکه سترګه وکتل.

## اسحاق او ابي‌ملک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ په هغه وطن کې برسېره په هغې قحطۍ باندې چې پخوا د
ابراهيم په وخت کې راغلې وه، بله قحطي هم راغله. اسحاق د
فلسطينيانو پاچا ابي‌ملک ته چې په جرار کې ؤ، ورغی. ٢ څښتن
اسحاق ته ښکاره شو او ويې ويل: «مصر ته مه ځه. په همدې وطن
کې په هغه ځای کې چې زه يې درته وايم، اوسېږه. ٣ همدلته
اوسېږه. زه به ستا سره مل يم او برکت به درکړم. زه به تا او ستا
اولادې ته دا ټوله سيمه درکړم او په هغې وعدې باندې به ټينګ
ولاړ يم چې ستا د پلار ابراهيم سره مې کړې وه. ٤ ستا اولاده به د
اسمان د ستورو په شان زياته کړم او هغوی ته به دا ټوله سيمه
ورکړم. ستا د اولادې په وسيله به د ځمکې په مخ ټول قومونه برکت
ومومي، ٥ ځکه چې ابراهيم زما اطاعت کړی دی او زما په ټولو
حکمونو او قوانينو باندې يې عمل کړی دی.»

٦ نو اسحاق په جرار کې پاتې شو. ٧ کله چې د هغه ځای
خلکو د اسحاق ښځه د ربکا په اړه پوښتنه وکړه، هغه وويل: «هغه
زما خور ده.» ځکه هغه وېرېده چې داسې ووايي چې هغه زما ښځه
ده. هغه فکر کاوه چې د هغه ځای خلک به هغه د ربکا په خاطر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ووژني، ځکه چې هغه ډېره ښکلې وه. ۸ څرنګه چې اسحاق هلته زيات وخت تېر کړ، نو ابي‌ملک د فلسطينيانو پاچا د کړکۍ څخه لاندې وکتل او ويې ليدل چې اسحاق خپله ښځه ربکا په غېږ کې نيولې وه او هغه يې ښکلوله. ۹ نو ابي‌ملک اسحاق راوغوښت او ورته ويې ويل: «هغه په رښتيا سره ستا ښځه ده! نو ولې دې وويل چې هغه ستا خور ده؟» اسحاق ځواب ورکړ: «ما فکر وکړ چې کېدای شي د هغې په خاطر ووژل شم.» ۱۰ ابي‌ملک وويل: «تا زمونږ سره څه وکړل؟ کېدای شو چې زما د کسانو څخه کوم يو ستا د ښځې سره څملاستلی وای او مونږ به دې ګناهکار کړي وای.» ۱۱ ابي‌ملک ټولو خلکو ته خبرداری ورکړ: «که هرڅوک د دې سړي يا دې ښځې سره بد چلند وکړي هغه به ووژل شي.»

۱۲ اسحاق په هغې ځمکې کې فصل وکاره او په هغه کال يې چې څه کرلي وو د هغې څخه يې يو په سل حاصل واخيست، ځکه چې څښتن هغه ته برکت ورکړ. ۱۳ اسحاق ورځ په ورځ نېکمرغه کېده او هغه ډېر شتمن سړی شو. ۱۴ هغه دومره زياتې رمې، پادې او غلامان درلودل چې فلسطينيانو ورباندې بخيلي کوله. ۱۵ نو هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولې څاګانې چې د هغه د پلار ابراهيم غلامانو د هغه د پلار په
وخت کې کيندلې وې، فلسطينيانو هغه د خاورو څخه ډکې کړلې.

۱۶ نو بيا ابيملک اسحاق ته وويل: «ته زمونږ څخه ډېر قوي
شوی يې، نو زمونږ د وطن څخه لاړ شه.» ۱۷ نو اسحاق د هغه
ځای څخه لاړ او د جرار په دره کې يې خيمې ودرولې او هلته پاتې
شو. ۱۸ اسحاق هغه څاګانې چې د هغه د پلار ابراهيم په وخت کې
کيندل شوې وې او فلسطينيانو هغه د ابراهيم د مرګ څخه وروسته
بندې کړې وې، بېرته وکيندلې او هماغه نومونه يې ورباندې کېښودل
چې پلار يې ورباندې ايښي وو.

۱۹ د اسحاق غلامانو په دې دره کې يوه څاه وکيندله چې تازه
اوبه يې درلودلې. ۲۰ خو د جرار شپنو د اسحاق د شپنو سره دعوه
پيل کړه او ويې ويل: «دا زمونږ اوبه دي!» نو اسحاق هغه څاه د
عسق يعنې دعوې په نوم ياده کړه.

۲۱ د اسحاق غلامانو بله څاه وکيندله او په هغې باندې يې هم
دعوه وکړه او هغه يې د سيتنه په نوم ياده کړه. ۲۲ او له هغه ځای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه يې کډه وکړه او بله ښاه يې وکيندله، خو په هغې باندې چا دعوه ونه کړه او هغه يې د رحوبوت په نوم ياده کړه او ويې ويل: «اوس ښښتن مونږ ته ځای راکړی دی او په دې خاوره کې به نېکمرغه شو.»

۲۳ اسحاق له هغه ځای څخه بيرشبع ته لاړ. ۲۴ په هماغه شپه ښښتن هغه ته ښکاره شو او ورته ويې ويل: «زه ستا د پلار ابراهيم خدای يم. مه وېرېږه، ځکه چې زه ستا سره مل يم او برکت به درکړم او ستا اولاده به د خپل خدمتګار ابراهيم په خاطر زياته کړم.» ۲۵ اسحاق هلته د قربانۍ ځای جوړ کړ او د ښښتن عبادت يې وکړ. بيا يې په هغه ځای کې خپلې خېمې ودرولې او د هغه غلامانو هلته يوه بله ښاه وکيندله.

## د اسحاق او ابي‌ملک ترمنځ د روغې جوړې تړون

۲۶ يوه ورځ ابي‌ملک د خپل مشاور احوزات او د خپلو لښکرو د مشر فيکول سره د جرار څخه د اسحاق د ليدلو دپاره راغی. ۲۷


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اسحاق د هغوی شخه پوښتنه وکړه: «تاسو خو زما سره دښمني کوله او زه مو د خپل وطن څخه وشړلم. نو اوس ولې زما د لیدلو دپاره راغلي یئ؟» ۲۸ هغوی ځواب ورکړ: «مونږ ولیدل چې څښتن په رښتیا ستا سره مل دی، نو مونږ وویل چې زمونږ او ستاسو ترمنځ دې داسې یو قوي تړون وي ۲۹ چې مونږ ته زیان راونه رسوئ، لکه څنګه چې مونږ زیان نه دی دررسولی، بلکې ستا سره مو ښه چلند کړی دی او ته مو په سلامتۍ سره لېږلی یې. اوس څښتن برکت درکړی دی.» ۳۰ اسحاق د هغوی دپاره مېلمستیا تیاره کړه او هغوی وخوړل او وڅښل. ۳۱ سهار وختي هغوی پاڅېدل او یو بل ته یې قسم ورکړ. اسحاق هغوی رخصت کړل او په سلامتۍ سره د هغه څخه لاړل.

۳۲ په هماغه ورځ د اسحاق غلامان راغلل او هغه ته یې د هغې څاه په اړه خبر ورکړ چې دوی کیندلې وه. هغوی وویل: «مونږ اوبه وموندلې.» ۳۳ نو هغه یې د شبع په نوم یاده کړه. تر نن ورځې پورې هغه ښار د بیرشبع په نوم یادیږي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## د عیسو ښځې

۳۴ کله چې عیسو څلوېښت کلن شو، د بیري حیتي د لور یودیه
او د ایلون حیتي لور بسمې سره یې واده وکړ. ۳۵ خو هغوی د
اسحاق او ربکا ژوند تریخ کړ.

## یعقوب د اسحاق څخه برکت اخلي

۱ کله چې اسحاق زوړ شو، نو د هغه سترګې دومره کمزورې
شوې چې نور یې څه شی نه شو لیدلی. هغه خپل مشر زوی عیسو
راوغوښت او هغه ته یې وویل: «ای زما زویه!» هغه ځواب ورکړ:
«څه وایې؟» ۲ اسحاق وویل: «زه اوس زوړ شوی یم او مرګ ته
نژدې شوی یم. ۳ نو اوس خپله لینده او غشي واخله، صحرا ته لاړ
شه او زما دپاره ښکار وکړه. ۴ زما دپاره داسې خوندور خوراک
چې زه یې خوښوم تیار کړه او ماته یې راوړه چې ویې خورم، ترڅو
د خپل مرګ څخه مخکې برکت درکړم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵ کله چې اسحاق د خپل زوی عیسو سره خبرې کولې، ربکا
هغه واورېدلې. نو عیسو د ښکار دپاره صحرا ته لاړ. ۶ ربکا خپل
زوی یعقوب ته ووېل: «ګوره، ما واورېدل چې ستا پلار ستا ورور
عیسو ته ووېل: ۷ ‹زما دپاره د ښکار غوښه راوړه او خوندور
خوراک ورځخه تیار کړه چې وېې خورم او د خپل مرګ څخه
مخکې د څښتن په حضور کې برکت درکړم.› ۸ نو اوس ای زما
زویه، په غور سره واوره او څه چې درته وایم هماغسې وکړه. ۹
رمې ته ورشه او دوه ډېر ښه سېرلي راته راوله، ترڅو ستا د پلار
دپاره داسې خوندور خوراک تیار کړم چې هغه یې خوښوي. ۱۰ بیا
هغه دې پلار ته یوسه چې وېې خوري، ترڅو د خپل مرګ څخه
مخکې برکت درکړي.»

۱۱ یعقوب خپلې مور ربکا ته ووېل: «خو زما ورور عیسو ببر
سړی دی او زه ښویه پوستکی لرم. ۱۲ که پلار مې په ما باندې لاس
ووهي، نو بیا به څه کېږي؟ دی به پوه شي چې زه هغه غولوم، نو د
برکت په ځای به په ځان باندې لعنت راولم.» ۱۳ مور یې ځواب
ورکړ: «ای زما زویه! ستا لعنت دې په ما باندې وي، ته یوازې هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه وکړه چې زه يې درته وايم. لاړ شه او ماته سېرلي راوله.» ۱۴ نو
يعقوب لاړ او هغه يې خپلې مور ته راوستل او هغې داسې خوندور
خوراک تيار کړ چې د هغه د پلار خوښېده. ۱۵ بيا ربکا د خپل مشر
زوی عيسو تر ټولو ښه کالي چې د هغې سره په کور کې وو،
راواخيستل او خپل کشر زوی يعقوب ته يې واغوستل. ۱۶ همدارنګه
هغې د سېرلي په پوستکي باندې د هغه لاسونه او د ورمېږ هغه ځای
پټ کړ چې ويښتان يې نه درلودل. ۱۷ هغې هغه خوندور خوراک او
ډوډۍ چې پخه کړې يې وه، خپل زوی يعقوب ته ورکړل.

۱۸ هغه خپل پلار ته ورغی او ويې ويل: «ای زما پلاره!» هغه
ځواب ورکړ: «څه وايې، ای زما زويه؟ ته څوک يې؟» ۱۹ يعقوب
خپل پلار ته وويل: «زه ستا مشر زوی عيسو يم، تا چې څنګه راته
ويلي وو، ما هماغسې وکړل. کښېنه او زما د ښکار غوښه وخوره،
ترڅو ماته خپل برکت راکړې.» ۲۰ اسحاق د خپل زوی څخه
پوښتنه وکړه: «ای زما زويه، دومره زر دې څنګه پيدا کړه؟» يعقوب
ځواب ورکړ: «ستا څښتن خدای زما سره مرسته وکړه او هغه مې
پيدا کړه.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ بیا اسحاق یعقوب ته وویل: «ای زما زویه، رانژدې شه چې
لاس درباندې ووهم، ترڅو پوه شم چې ته رښتیا زما زوی عیسو یې
که نه.» ۲۲ یعقوب خپل پلار اسحاق ته ورنژدې شو او پلار یې په
هغه باندې لاس وواهه او ویې ویل: «اواز دې د یعقوب د اواز په
شان دی، خو لاسونه دې د عیسو د لاسونو په شان دي.» ۲۳
اسحاق هغه ونه پېژانده، ځکه چې د هغه لاسونه د عیسو د لاسونو
په شان ببر وو، نو ورنژدې شو چې هغه ته برکت ورکړي. ۲۴ هغه
پوښتنه وکړه: «ایا ته په رښتیا سره زما زوی عیسو یې؟» یعقوب
ځواب ورکړ: «هو، زه یم.»

۲۵ اسحاق وویل: «ماته ستا د ښکار غوښه راوړه چې ویې
خورم، ترڅو خپل برکت درکړم.» یعقوب هغه اسحاق ته راوړله او
هغه وخوړله او یو څه شراب یې هم راوړل او هغه وڅښل. ۲۶ بیا د
هغه پلار اسحاق ورته وویل: «ای زما زویه، رانژدې شه او ما ښکل
کړه.» ۲۷ نو یعقوب ورنژدې شو او هغه یې ښکل کړ. نو کله چې
اسحاق د هغه کالي بوی کړل، نو ده ته یې برکت ورکړ او ویې ویل:
«زما د زوی خوږ بوی د هغې صحرا د بوی په شان دی چې څښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغې ته برکت ورکړی دی. ۲۸ خدای دې تاته د اسمان نه پرخه
درکړي او ستا ځمکه دې حاصلخېزه کړي! او پرېمانه غلې دانې او
شراب دې درکړي. ۲۹ قومونه دې ستا غلامان شي او تاته دې د
درناوي په خاطر سر ټيټوي او ته دې په خپلو خپلوانو باندې حکم
چلوې او ستا د مور اولاده دې تاته سر ټيټوي. څوک چې په تا
باندې لعنت ووايي، په هغه باندې دې لعنت وي او څوک چې برکت
درکوي، په هغه دې برکت وي.»

## عيسو د اسحاق څخه برکت غواړي

۳۰ سمدلاسه وروسته له دې چې هغه له برکت ورکولو څخه
وزګار شو او يعقوب لاړ، د يعقوب ورور عيسو د ښکار څخه راغی.
۳۱ هغه هم خوندور خوراک تيار کړ او خپل پلار ته يې راوړ او ويې
ويل: «ای پلاره، راپاڅېږه او زما د ښکار لړه غوښه وخوره، ترڅو
ماته برکت راکړې.»

۳۲ اسحاق د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ته څوک يې؟» هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځواب ورکړ: «زه ستا زوی یم، ستا مشر زوی عیسو.» ۳۳ اسحاق سخت ولړزېده او ویې ویل: «نو بیا هغه څوک ؤ چې ښکار یې کړی ؤ او غوښه یې ماته راوړې وه؟ او همدااوس ستا د راتللو څخه مخکې مې هغه وخوړله او هغه ته مې برکت ورکړ او هغه بېرته نه اخیستل کیږي.»

۳۴ کله چې عیسو د خپل پلار خبرې واورېدلې، هغه په لوړ او سخت اواز سره چیغې ووهلې او خپل پلار ته یې وویل: «ای زما پلاره، ماته هم برکت راکړه.» ۳۵ اسحاق ځواب ورکړ: «ستا ورور دلته راغی، زه یې وغولولم او ستا برکت یې واخیست.»

۳۶ عیسو وویل: «ایا په هغه باندې یې د یعقوب نوم په حقه نه دی ایښی؟ ځکه چې هغه زه دوه وارې وغولولم. لومړی یې زما څخه د مشرتوب حق واخیست او اوس یې زما برکت واخیست.» نو هغه پوښتنه وکړه: «ایا ماته دې کوم برکت نه دی ساتلی؟»

۳۷ اسحاق عیسو ته په ځواب کې وویل: «هغه مې په تا باندې بادار کړی دی او د هغه ټول خپلوان مې د هغه غلامان کړل او هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته مې غلې دانې او شراب ورکړي دي. نو ای زویه! اوس زه ستا
دپاره څه وکړم؟»

۳۸ عیسو بیا خپل پلار ته وویل: «ای زما پلاره، ایا ستا سره
یوازې یو برکت ؤ؟ ماته هم برکت راکړه!» بیا عیسو په لوړ اواز سره
وژړل.

۳۹ اسحاق هغه ته وویل:

پرخه به نه وي له اسمانه ستا دپاره

نه به ځمکه حاصلخېزه وي د ستا

۴۰ ژوند به کړې په خپله توره

یې غلام به د خپل ورور

خو چې ته کله یاغي شې

کړې به مات د هغه جغ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## يعقوب لابان ته تښتي

۴۱ عيسو د يعقوب سره د هغه برکت له امله چې پلار يې يعقوب
ته ورکړی ؤ، کينه پيدا کړه. هغه د خپل ځان سره وويل: «زما پلار
مرګ ته نژدې دی او هغه به مړ شي، بيا به خپل ورور يعقوب
ووژنم.»

۴۲ کله چې ربکا د خپل مشر زوی عيسو د پلان څخه خبره
شوه، هغې خپل کشر زوی يعقوب راوغوښت او ورته ويې ويل:
«غوږ ونيسه، ستا ورور عيسو تاته دسيسه جوړوي چې ستا څخه د
هغو کارونو بدل واخلي چې تا کړي دي او تا ووژني. ۴۳ نو اوس
ای زما زويه، هغه کار وکړه چې زه يې درته وايم. سمدلاسه زما
ورور لابان ته چې په حران کې دی، وتښته. ۴۴ د هغه سره د لږ
وخت دپاره پاتې شه، ترڅو ستا د ورور قهر سوړ شي ۴۵ او هغه
څه چې تا ورسره کړي دي، هغه هېر کړي. نو بيا به خبر درولېږم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې له هغه ځای ښځه بېرته راشي. تاسو دواړه ولې په یوه ورځ کې له لاسه ورکړم؟»

## اسحاق یعقوب لابان ته ورلېږي

۴۶ ربکا اسحاق ته وویل: «د دې حیتي ښځو له لاسه د خپل ژوند څخه بېزاره شوې یم. که چېرې یعقوب د دې حیتي ښځو څخه د کوم حیتي انجلۍ سره واده وکړي، نو د دې ژوند څخه به ماته مرګ ښه وي.»

۱ اسحاق یعقوب راوغوښت، هغه ته یې برکت ورکړ او حکم یې
ورته وکړ: «د کنعانی انجلۍ سره واده ونه کړې. ۲ همداوس
بین‌النهرین ته د خپل نیکه بتوییل کور ته لاړ شه او هلته د خپل ماما
لابان د لورګانو څخه خپل ځان ته ښځه وکړه. ۳ مطلق قادر خدای
دې برکت درکړي او ډېر اولادونه دې درکړي، ترڅو ستا څخه ډېر
قومونه پیدا شي. ۴ هغه دې تا او ستا اولادې ته د ابراهیم په شان
برکت درکړي او د هغې ځمکې خاوند شې چې خدای ابراهیم ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړي ده او ته په کې اوس د یو پردي په شان اوسېږې.» ۵ نو
اسحاق یعقوب ولېږه او هغه بین‌النهرین ته د بتوییل آرامي زوی د
یعقوب او عیسو د مور ربکا وروړ لابان ته ورغی.

## عیسو بله ښځه کوي

۶ عیسو پوه شو چې اسحاق یعقوب ته برکت ورکړ او هغه یې
بین‌النهرین ته ولېږه چې په هغه ځای کې ځان ته ښځه وکړي. هغه
په دې هم پوه شو چې کله اسحاق هغه ته برکت ورکاوه، هغه ته یې
حکم وکړ چې د کنعانی انجلۍ سره به واده نه کوي. ۷ هغه خبر شو
چې یعقوب د خپل مور او پلار اطاعت وکړ او بین‌النهرین ته لاړ. ۸
عیسو په دې پوهېده چې د هغه پلار اسحاق کنعانی ښځې نه
خوښوي. ۹ نو هغه د ابراهیم زوی اسماعیل ته لاړ او سره له دې
چې نورې ښځې یې هم درلودلې، د اسماعیل د لور محلت سره یې
چې د نبایوت خور وه، واده وکړ.

## په بیت‌ییل کې د یعقوب خوب لیدل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ یعقوب د بیرشبع څخه حران ته روان شو. ۱۱ کله چې
نومړی یو ځای ته ورسېده، لمر پرېوتی ؤ. هغه د شپې هلته پاتې
شو او یوه تیږه یې راواخیستله، د خپل سر لاندې یې کېښودله او په
هغه ځای کې ویده شو. ۱۲ هغه په خوب کې یوه زینه ولیدله چې په
ځمکه باندې ولاړه وه او سر یې اسمان ته رسېده او د خدای فرښتې
په هغې باندې ښکته او پورته تللې. ۱۳ څښتن د یعقوب په څنګ
کې ولاړ ؤ او ویې ویل: «زه څښتن یم، ستا د نیکه ابراهیم خدای او
د اسحاق خدای یم. دغه ځمکه چې تهورباندې پروت یې، تا او ستا
اولادې ته به یې ورکړم. ۱۴ ستا اولاده به د دښتې د شګو په شان
زیاته کړم او تاسو به د خپل هېواد لمرپرېواته، لمرخاته، شمال او
جنوب خواته خپاره شئ او د دنیا ټول قومونه به ستا او ستا د
اولادې په وسیله برکت مومي. ۱۵ زه به ستا سره مل یم او هرچېرته
چې ځې، زه به تا ساتم او بېرته به دې دې وطن ته راولم. تر هغې
پورې به زه تا پرېنږدم، ترڅو مې هغه ټول کارونه نه وي کړي چې
ستا سره مې وعده کړې وه.»

۱۶ کله چې یعقوب له خوبه راویښ شو، ویې ویل: «څښتن په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ځای کې دی، خو زه په دې پوه نه وم.» ۱۷ هغه وویرېده او
ویې ویل: «دا څومره ویروونکی ځای دی. په رښتیا سره دا د خدای
کور دی او دا د اسمان دروازه ده.»

۱۸ سهار وختي یعقوب هغه تیږه چې هغه د خپل سر لاندې
ایښې وه، راواخیستله او د یادګار په توګه یې ودروله او د هغې په
سر یې د زیتونو تېل واچول. ۱۹ هغه دا ځای د بیت‌ییل په نوم یاد
کړ. خو پخوا د هغه ښار نوم لوز ؤ. ۲۰ بیا یعقوب نذر کېښود، ویې
ویل: «که چېرې خدای زما سره مل وي او په دې سفر کې چې زه
روان یم ما وساتي او ډوډۍ او کالي راته راکړي، ۲۱ ترڅو په خیر
سره بېرته د خپل پلار کور ته ورستون شم، نو بیا به ته زما خدای
یې. ۲۲ او دغه تیږه چې ما د یادګار په توګه ودرولې ده، هغه به د
خدای کور شي او هرڅه چې ماته یې راکوې، د هغو لسمه برخه به
تاته درکوم.»

## یعقوب د لابان کور ته رسیږي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١ نو یعقوب خپل سفر ته دوام ورکړ او د مشرق د خلکو
خاورې ته راغی. ٢ هغه په صحرا کې یوه ثاه ولیدله چې د پسونو
درې رمې یې په ثنګ کې پنډې وې. له دې ثاه ثخه به رمو اوبه
ثبنلې او د ثاه خولې ته یوه لویه تیږه ایبنې وه. ٣ کله چې به
ټولې رمې هلته راټولې شوې، نو شپنو به دغه تیږه د ثاه د خولې
ثخه لیرې کوله او رمو ته به یې اوبه ورکولې. بیا به یې تیږه بېرته د
ثاه خولې ته ایبنوده.

٤ یعقوب د شپنو ثخه پوبنتنه وکړه: «ای زما ورونو، تاسو د
کوم ځای یئ؟» هغوی ځواب ورکړ: «مونږ د حران یو.» ٥ هغه
پوبنتنه وکړه: «تاسو د ناحور لمسی لابان پېژنئ؟» هغوی ځواب
ورکړ: «هو، مونږ هغه پېژنو.» ٦ هغه پوبنتنه وکړه: «هغه بنه دی؟»
هغوی ځواب ورکړ: «هغه بنه دی. وګوره، دا د هغه لور راحیل ده
چې د خپلې رمې سره راروانه ده.»

٧ یعقوب وویل: «تراوسه پورې لا لمر جګ ولاړ دی او د رمو
د راټولېدلو وخت نه دی. پسونو ته اوبه ورکړئ او هغه بېرته
ثرځای ته بوځئ.» ٨ هغوی وویل: «دا کار مونږ نه شو کولای.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې تولې رمې راټولې شي او د شاه د خولې څخه تيږه لېرې
کړای شي، بيا به پسونو ته اوبه ورکړو.»

۹ يعقوب لا د هغوی سره خبرې کولې چې راحيل د رمې سره
راغله، ځکه چې هغه شپونکې وه. ۱۰ کله چې يعقوب راحيل وليدله
چې د هغه د ماما لابان رمه ورسره وه، هغه شاه ته ورغی او تيږه يې
د شاه د خولې څخه لېرې کړه او د لابان پسونو ته يې اوبه ورکړې.
۱۱ بيا يعقوب راحيل ښکل کړه او په لوړ اواز سره يې وژړل. ۱۲
يعقوب راحيل ته وويل: «زه ستا د پلار د خپلوانو څخه يم او د
ربکا زوی يم.»

هغه په منډه لاړه او خپل پلار يې خبر کړ. ۱۳ څنګه چې لابان د
خپل خوريي يعقوب خبر واورېد، نو په منډه د هغه ليدلو ته ورغی.
هغه يې په غېږ کې ونيوه، ښکل يې کړ او خپل کور ته يې راوست.
بيا هرڅه چې پېښ شوي وو، يعقوب لابان ته بيان کړل. ۱۴ لابان
هغه ته وويل: «په رښتيا سره ته زما خپله وينه او خپل هډوکی يې.»
يعقوب پوره يوه مياشت د هغه سره پاتې شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# یعقوب د لیه او راحیل سره واده کوي

۱۵ لابان یعقوب ته وویل: «ایا په دې خاطر چې ته زما خپل
یې، نو ماته به وړیا خدمت کوې؟ ووایه چې ته څومره مزدوري
غواړې؟» ۱۶ لابان دوه لورګانې درلودلې، د مشرې نوم لیه او د
کشرې نوم راحیل ؤ. ۱۷ د لیه سترګې ښکلې وې، خو راحیل
ښایسته وه او ښکلی اندام یې درلود. ۱۸ یعقوب په راحیل باندې
مین شوی ؤ او ویې ویل: «که چېرې خپله کشره لور ماته راکړې، نو
زه به اووه کاله ستا خدمت وکړم.»

۱۹ لابان وویل: «دا به ښه وي چې هغه تاته درکړم، نه کوم بل
چاته. زما سره دلته پاتې شه.» ۲۰ نو یعقوب د راحیل دپاره اووه
کاله خدمت وکړ، خو دا کلونه هغه ته لکه د ډېرو لږو ورځو په شان
ښکاره شول، ځکه چې هغه د راحیل سره ډېره مینه درلودله.

۲۱ نو یعقوب لابان ته وویل: «هغه موده پوره شوې ده، نو اجازه
راکړه چې ستا د لور سره واده وکړم.» ۲۲ نو لابان د هغه ځای ټول
خلک راټول کړل او مېلمستیا یې ورکړه. ۲۳ خو کله چې شپه شوه،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د راحیل په ځای لیه یعقوب ته وروستله او یعقوب د هغې سره یوځای شو. ۲۴ لابان خپله وینځه زلفه خپلې لور لیه ته د نوکرۍ په توګه ورکړه. ۲۵ کله چې سهار شو، یعقوب ته معلومه شوه چې هغه لیه وه. هغه لابان ته ورغی او ورته ویې ویل: «زما سره دې ولې داسې وکړل؟ ما د دې دپاره کار کاوه چې راحیل ماته راکړې، زه دې ولې وغولولم؟» ۲۶ لابان ځواب ورکړ: «دلته زمونږ په ځای کې داسې رواج نه دی چې کشره لور دې د مشرې څخه مخکې واده کړي. ۲۷ صبر وکړه چې د لیه د واده اوومه ورځ پوره شي بیا به راحیل هم درکړم، خو ته به اووه کاله نور هم زما خدمت کوې.»

۲۸ یعقوب قبوله کړه او د لیه سره یې د واده اوومه ورځ پوره کړه او لابان خپله لور راحیل هم هغه ته ورکړه. ۲۹ لابان خپله وینځه بلهه خپلې لور راحیل ته د نوکرۍ په توګه ورکړه. ۳۰ یعقوب د راحیل سره هم یوځای شو. په هغه باندې د لیه څخه راحیل ډیره ګرانه وه. هغه لابان ته اووه کاله نور خدمت وکړ.

## د یعقوب اولادونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ کله چې ښځينتن وليدل چې يعقوب د ليه سره ډېره مينه نه
کوي، خدای هغې ته اولادونه ورکړل، خو راحيل شنډه وه. ٣٢ ليه
اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه او په هغه باندې يې روبين نوم
کېښود، ځکه هغې وويل: «ښځينتن زما سختې ليدلې ده. اوس به مې
مېړه راسره مينه کوي.» ٣٣ هغه بيا اميدواره شوه، زوی يې وزېږاوه
او ويې ويل: «دا ځکه چې ښځينتن پوهېږي چې يعقوب زما سره مينه
نه کوي، نو دا يې هم راکړ.» نو په هغه باندې يې شمعون نوم کېښود.
٣٤ هغه بيا اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه، ويې ويل: «اوس به د
خپل مېړه زړه ته ورنژدې شم، ځکه چې درې زامن مې ورته
وزېږول.» نو په دې خاطر يې په هغه باندې لاوي نوم کېښود. ٣٥
هغه بيا اميدواره شوه او کله چې د هغې زوی پيدا شو، هغې وويل:
«دا ځل به زه د ښځينتن ستاينه وکړم.» نو هغې په هغه باندې يهودا
نوم کېښود. وروسته له هغې ښځه ليه د اولاد د زېږولو څخه ولوېدله.

١ کله چې راحيل وليدل چې د هغې څخه د يعقوب هېڅ اولاد
پيدا نه شو، نو په خپلې خور باندې يې بخيلي وکړه او يعقوب ته يې
وويل: «ماته اولاد راکړه او که نه، نو زه به مړه شم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ یعقوب په راحیل باندې په قهر شو او ویې ویل: «زه خو
خدای نه یم چې ته یې د اولاد راوړلو څخه بېبرخې کړې یې.»

٣ نو هغې وویل: «دا زما وینځه بلهه ده. د هغې سره یوځای
شه، ترڅو هغه زما دپاره اولاد وزېږوي. په دې ډول به زه هم
وکولای شم چې د هغې په وسیله مور شم.» ٤ نو خپله وینځه بلهه
یې ورکړه چې د هغه ښځه شي او یعقوب د هغې سره یوځای شو.
٥ بلهه امیدواره شوه او یعقوب ته یې زوی وزېږاوه. ٦ نو راحیل
وویل: «خدای زما په حق کې انصاف وکړ، هغه زما دعا قبوله کړه او
ماته یې زوی راکړ.» په دې خاطر یې په هغه باندې دان نوم کېښود.
٧ بلهه د راحیل وینځه بیا امیدواره شوه او د هغې څخه د یعقوب
دوهم زوی پیدا شو. ٨ راحیل وویل: «د خپلې خور سره مې سخته
شخړه وکړه او زه بریالۍ شوې یم.» نو ځکه یې په هغه باندې نفتالي
نوم کېښود.

٩ کله چې لیه پوه شوه چې د اولاد راوړلو څخه ولوېدله، نو
خپله وینځه زلفه یې یعقوب ته ورکړه چې د هغه ښځه شي. ١٠ د لیه
د وینځې زلفې څخه د یعقوب زوی پیدا شو. ١١ لیه وویل: «زه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بختوره یم.» نو ځکه يې په هغه باندې جاد نوم کېښود. ۱۲ د لیه د
وینځې زلفې څخه د یعقوب بل زوی پیدا شو. ۱۳ لیه وویل: «زه
ډېره خوشحاله یم! ټولې ښځې به ماته خوشحاله وايي.» نو په هغه
باندې يې اشیر نوم کېښود.

۱۴ د غنمو د لو کولو په وخت کې روبین پټیو ته لاړ او هلته يې
مېره‌غونې يې وموندلې. هغه يې خپلې مور لیه ته راوړلې. راحیل لیه
ته وویل: «د خپل زوی د مېره‌غونو څخه یو څه ماته راکړه.»

۱۵ خو لیه هغې ته ځواب ورکړ: «ایا دا دې بس نه دی چې مېړه
دې راڅخه واخیست؟ اوس غواړې چې زما د زوی مېره‌غونې هم
راڅخه واخلې؟»

راحیل وویل: «ډېر ښه، هغه به نن شپه ستا د زوی د مېره‌غونو په
بدل کې ستا سره څملې.»

۱۶ نو کله چې مابنام یعقوب د پټیو څخه راغی، لیه د هغه مخې
ته ورووتله. هغه ته يې وویل: «ته باید نن شپه زما سره څملې، ځکه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې د خپل زوی د مړه‌غونو په بدل کې مې اخیستی یې.» نو یعقوب
په هغه شپه له لیه سره څملاست.

۱۷ خدای د لیه دعا قبوله کړه او هغه امیدواره شوه او د هغې
څخه د یعقوب پنځم زوی پیدا شو. ۱۸ لیه وویل: «په دې خاطر چې
ما خپله وینځه خپل مېړه ته ورکړه، خدای ماته اجر راکړ.» نو په
هغه باندې یې یساکار نوم کېښود. ۱۹ لیه بیا امیدواره شوه او یعقوب
ته یې شپږم زوی وزېږاوه. ۲۰ هغې وویل: «خدای ماته ښه قیمتي
سوغات راکړ. اوس به مې مېړه عزت کوي، ځکه چې شپږ زامن مې
ورته زېږولي دي.» نو په هغه باندې یې زبولون نوم کېښود. ۲۱
وروسته له هغه یې لور پیدا شوه او په هغې یې دینه نوم کېښود.

۲۲ بیا خدای راحیل رایاده کړه، د هغې دعا یې قبوله کړه او هغې
ته یې اولاد ورکړ. ۲۳ هغه امیدواره شوه او زوی یې وزېږاوه. هغې
وویل: «خدای زما رسوایي لېرې کړه.» ۲۴ نو په هغه باندې یې
یوسف نوم کېښود او ویې ویل: «څښتن دې بل زوی راته راکړي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د یعقوب رمې زیاتېږي

۲۵ وروسته له هغې چې راحیل یوسف وزېږاوه، یعقوب لابان ته
وویل: «ما رخصت کړه چې بېرته خپل وطن ته لاړ شم. ۲۶ زما
ښځې او زما اولادونه چې د هغوی دپاره مې ستا خدمت کړی دی
ماته راکړه چې لاړ شم، ځکه ته پوهېږې چې څومره کار مې درته
کړی دی.»

۲۷ خو لابان هغه ته وویل: «که ته زما څخه خوشحاله یې،
مهرباني وکړه پاتې شه. زه د فال په وسیله پوه شوم چې څښتن ستا
په خاطر ماته برکت راکړی دی. ۲۸ خپله مزدوري دې ووایه، زه به
یې درکړم.»

۲۹ یعقوب هغه ته وویل: «ته پوهېږې چې څنګه مې درته کار
کړی دی او څنګه مې ستا رمې او پادې ساتلې دي. ۳۰ زما د راتللو
څخه مخکې تا لږ څه درلودل، خو کوم کارونه چې ما ستا دپاره
کړي دي څښتن په هغو کې برکت اچولی دی او ستا شتمني ډېره
زیاته شوې ده. اوس د دې وخت رارسېدلی چې د خپلې کورنۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره یو څه وکړم.»

۳۱ لابان پوښتنه وکړه: «څه درکړم؟»

یعقوب ځواب ورکړ: «ماته هیڅ شی مه راکوه. که دا کار زما
دپاره وکړې زه به ستا د رمو ساتلو او روزلو ته دوام ورکړم. ۳۲
اجازه راکړه چې نن ستا د ټولو رمو په منځ کې وګرځم او د مېږو
څخه هره یوه خالداره مېږه او هر توربخن ورى او د وزو څخه هره
خالداره وزه بېله کړم، نو دا به زما مزدوري وي. ۳۳ کله چې راشې
او هغه مزدوري چې ماته یې راکوې وګورې، نو په اسانۍ سره به
درته معلومه شي چې زه صادق یم. که چېرې زما سره کومه وزه
چې خالداره نه وي یا یو ورى چې توربخن نه وي، نو ته به پوه شې
چې هغه غلا شوى دى.»

۳۴ لابان وویل: «زما خوښه ده، لکه څنګه چې تا وویل همداسې
دې وي.» ۳۵ په هماغه ورځ لابان ټول خطداره او خالداره سېرلي
او ټولې برګې او خالداره وزې یا هغه وزې چې سپین رنګ یې
درلود او ټول توربخن ورې بېل کړل او هغه یې خپلو زامنو ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسپارل. ۳۶ بیا لابان د خپلې رمې سره د یعقوب څخه د درې
ورځو په فاصله لیرې لاړ او یعقوب د لابان پاتې رمې ساتلې.

۳۷ یعقوب د چنار، بادام او سپېدار شنې څانګې راواخیستلې او د
هغوی څخه یې پوستکي لیرې کړل او سپینې سپینې لیکې په کې
راښکاره شوې. ۳۸ نو هغه دا سپینې شوې څانګې د رمو په مخامخ
د هغوی د اوبو په لګښونو کې کېښودلې، ځکه چې کله به رمې د اوبو
څښلو دپاره راتللې، نو یو د بل سره به جوړه کېدلې. ۳۹ او د څانګو
په مخکې به یو د بله سره یوځای کېدلې او خطداره یا برګ او
خالداره بچي به یې زیږول.

۴۰ یعقوب پسونه او مېږې د وزو څخه بېل کړل او د هغو مخونه
یې د لابان د رمو خطدارو او توربخنو حیواناتو خواته کړل. نو په
دې ډول هغه د خپلو رمو خاوند شو او هغه یې د لابان د رمو څخه
بېل کړلې.

۴۱ کله به چې قوي ښځینه حیوانات د نرو حیواناتو سره یوځای
کېدل، نو یعقوب به د اوبو په لګښونو کې د حیواناتو مخې ته هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څانګې اېښودلې چې د څانګو په منځ کې يو د بله سره يوځاى شي. ۴۲ خو که حيوانات به کمزوري وو، نو څانګې به يې هلته نه اېښودلې. نو کمزورې به د لابان او قوي به د يعقوب شول. ۴۳ په دې ډول يعقوب ډېر شتمن شو او د ډېرو رمو، وينځو، غلامانو، اوښانو او خرو خاوند شو.

## يعقوب د لابان څخه تښتي

۱ يعقوب واورېدل چې د لابان زامنو ويلي دي چې «هرڅه چې زموږ د پلار سره وو، هغه يعقوب واخيستل او دا ټوله شتمني يې زموږ د پلار د شتمنۍ څخه لاسته راوړه.» ۲ هغه وليدل چې د لابان چلند د هغه سره د پخوا په شان دوستانه نه دى. ۳ بيا څښتن يعقوب ته وويل: «بېرته خپل پلرني وطن او خپلو خپلوانو ته لاړ شه. زه به ستا سره مل يم.»

۴ نو يعقوب راحيل او ليې ته خبر ولېږه چې صحرا ته يعنې هغه ځاى ته راشي چې د هغه رمې په کې وې. ۵ يعقوب هغوى ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وويل: «زه وینم چې ستاسو د پلار چلند زما سره د پخوا په شان دوستانه نه دی، خو زما د پلار خدای زما سره مل دی. ۶ تاسې دواړه پوهېږئ چې ما په خپل ټول قوت سره ستاسو د پلار خدمت کړی دی. ۷ سره له دې چې ستاسو پلار زما سره ټګي کړې ده او لس ځله یې زما مزدوري بدله کړه، خو خدای هغه پرېنښود چې ماته زیان راورسوي. ۸ کله چې به لابان وویل: ‹خالداره وزې دې ستا مزدوري وي،› نو ټولو رمو به خالداره بچي زېږول او چې کله به یې وویل: ‹خطداره دې ستا وي،› نو ټولو رمو به خطداره بچي زېږول. ۹ نو خدای ستاسو د پلار څخه رمې واخیستلې او ماته یې راکړې.

۱۰ د بچیو د زېږولو په موسم کې ما یو خوب ولیده. سترګې مې پورته کړې او ومې لیدل هغه سېرلي چې د وزو سره جوړه کېدل خطداره او خالداره وو. ۱۱ د خدای فرښتې په خوب کې راته وویل: ‹ای یعقوبه!› ما ځواب ورکړ: ‹زه حاضر یم.› ۱۲ هغه وویل: ‹سترګې پورته کړه او وګوره. هغه ټول سېرلي چې د وزو سره جوړه کیږي ټول خالداره او خطداره دي، ځکه هرڅه چې لابان ستا سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي دي، هغه مې ليدلي دي. ۱۳ زه هماغه خدای يم چې په بيت‌ييل
کې درښکاره شوم. په هغه ځای کې چې تا په هغې تيږې باندې د
زيتونو تيل واچول او زما دپاره دې نذر ورکړ. اوس دا خاوره پرېږده
او هغه وطن ته لاړ شه چې ته په کې پيدا شوی يې.›»

۱۴ راحيل او ليه يعقوب ته په ځواب کې وويل: «مونږ ته د خپل
پلار څخه هيڅ شی په ميراث کې راپاتې نه دی. ۱۵ هغه زمونږ سره
د پرديو په شان چلند کوي. هغه مونږ خرڅې کړې يو او هغه پيسې
چې زمونږ دپاره هغه ته ورکړل شوې وې، ټولې يې مصرف کړې
دي. ۱۶ هغه ټول مال او دولت چې خدای زمونږ د پلار څخه
اخيستی دی، هغه زمونږ او زمونږ د اولادونو دی. نو هرڅه چې
خدای درته ويلي دي، هماغسې وکړه.»

۱۷ نو يعقوب خپل اولادونه او خپلې ښځې په اوښانو باندې
سپرې کړې. ۱۸ هغه خپل ټول حيوانات مخکې کړل او هغه څه چې
په بين‌النهرين کې يې ګټلي وو ټول واخيستل، ترڅو خپل پلار
اسحاق ته چې په کنعان کې ؤ، لاړ شي. ۱۹ په هغه وخت کې چې
لابان د خپلو پسونو د سکولولو دپاره تللی ؤ، راحيل د خپل پلار د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کورنی بتان غلا کړل. ۲۰ یعقوب لابان وغولاوه، ځکه چې هغه یې
په دې باندې خبر نه کړ چې دی د تللو نیت لري. ۲۱ هرڅه چې
هغه درلودل هغه یې واخیستل او وتښتېده. هغوی د فرات د سیند
څخه تېر شول او د جلعاد د غرنۍ سیمې په لور روان شول.

## لابان یعقوب تعقیبوي

۲۲ په درېمه ورځ لابان ته خبر ورسېده چې یعقوب تښتېدلی
دی. ۲۳ هغه خپل خپلوان د ځان سره واخیستل او اووه ورځې یې
په هغه پسې لاره ووهله او د جلعاد په غرنۍ سیمه کې هغه ته
وروړسېد. ۲۴ خو خدای د شپې په خوب کې لابان ته ښکاره شو او
هغه ته یې وویل: «پام کوه چې یعقوب ته هېڅ ونه وایې. نه ورته ښه
ووایې او نه بد.» ۲۵ یعقوب د جلعاد په غرنۍ سیمه کې خپلې خېمې
ودرولې وې چې لابان وروړسېد او هغه هم د خپلو خپلوانو سره په
هغه ځای کې خېمې ودرولې.

۲۶ لابان یعقوب ته وویل: «څه دې وکړل؟ زه دې وغولولم او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زما لورګانې دې د جنګي اسیرانو په شان بوتللې. ۲۷ ولې دې زه
وغولولم او په پټه وتښتېدلې؟ ولې دې زه خبر نه کړم چې تاسو مې
په خوشحالی، په سندرو او د چمبو او رباب په ساز سره رخصت
کړې وای. ۲۸ زه دې پرېنښودم چې خپل لمسیان او لورګانې ښکل
کړم او خدای پاماني ورسره وکړم. بېعقله کار دې وکړ. ۲۹ زه دا
توان لرم چې زیان دروړسوم، خو ستا د پلار خدای تېره شپه ماته
وویل چې پام کوه چې یعقوب ته هېڅ ونه وایې. نه ورته ښه ووایې
او نه بد. ۳۰ اوس ته روان یې، ځکه چې تا دا ارمان درلود چې
بېرته د خپل پلار کور ته لاړ شې، نو زما بتان دې ولې غلا کړي
دي؟»

۳۱ یعقوب لابان ته په ځواب کې وویل: «زه ووېرېدم، ځکه چې
ما فکر وکړ چې خپلې لورګانې به په زور زما څخه واخلې. ۳۲ خو
که د هرچا سره دې خپل بتان پیدا کړل، هغه دې ووژل شي. زمونږ د
خپلوانو په مخکې یې وګوره. که چېرې ستا کوم شی زمونږ سره وي،
خپل ځان ته یې واخله.» خو یعقوب په دې باندې نه پوهېده چې
راحیل هغه بتان غلا کړي وو.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ نو لابان د یعقوب خېمې ته ننوت او هغه یې ولټوله. بیا د لیه خېمې ته او د دواړو وینځو خېمو ته ننوت او هېڅ یې پیدا نه کړل. بیا هغه د راحیل خېمې ته ننوت. ۳۴ راحیل بتان د اوښ د زین لاندې ایښې وو او ورباندې ناسته وه. لابان ټوله خېمه ولټوله، هېڅ یې ونه موندل. ۳۵ راحیل خپل پلار ته وویل: «پلاره، خفه نه شې. زه ستا په مخکې نه شم پاڅېدلی، ځکه چې په ما باندې میاشتینی ناروغي راغلې ده.» لابان خېمه ولټوله، خو بتان یې پیدا نه کړل.

۳۶ یعقوب په قهر شو او د لابان سره یې شخړه وکړه او د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: «ما څه جرم کړی دی؟ او کومه خطا مې کړې ده چې راپسې یې؟ ۳۷ اوس چې تا زما ټول سامان ولټاوه که د خپل کور سامان دې موندلی وي، دلته یې زما د خپلوانو او ستا د خپلوانو په مخکې کېږده او پرېږده چې هغوی دا پرېکړه وکړي چې زمونږ دواړو څخه کوم یو په حقه دی. ۳۸ شل کاله کېږي چې زه ستا سره وم. ستا مېږو او وزو بچې زیان نه کړل او ستا د رمو څخه مې یو پسه هم نه دی خوړلی. ۳۹ هغه حیوانات چې وحشي ځناورو به دارلې وو، هغه مې نه دي راوړي. د هغوی تاوان مې په خپل ځان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منلی دی او هغه چې د ورځې یا به د شپې غلا شوي وو، د هغو بیه به دې زما څخه غوښتله. ۴۰ دا زما حال ؤ چې د ورځې په ګرمۍ او د شپې په یخنۍ کې به ځورېدلم او خوب مې نه شو کولای. ۴۱ په دې ډول زه شل کاله ستا په کور کې وم. څوارلس کاله مې ستا د لورګانو په خاطر ستا خدمت وکړ او شپږ کاله مې ستا د رمو دپاره. لس ځلې دې زما مزدوري بدله کړه. ۴۲ که چېرې زما د نیکونو خدای، د ابراهیم او د اسحاق خدای زما سره مل نه وای، نو زه به دې په یقین سره تش لاس لېږلی وای. خو خدای زما سختۍ او د لاسونو خواري ولیدله او تېره شپه یې ملامته کړې.»

## د یعقوب او لابان ترمنځ تړون

۴۳ لابان یعقوب ته ځواب ورکړ: «دا ښځې زما لورګانې دي. د هغوی اولادونه زما اولادونه دي او دا رمې زما رمې دي او دا هرڅه چې دلته وینې زما دي. خو زه ستا څخه خپلې لورګانې او د هغوی اولادونه نه شم اخیستلی. ۴۴ زه تیار یم چې ستا سره یو تړون وکړم. راځئ چې د تیږو یوه ډېرۍ جوړه کړو چې مونږ ته به زمونږ تړون


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

رايادوي.»

۴۵ نو يعقوب تيږه راواخيستله او هغه يې د يادګار په توګه
ودروله. ۴۶ هغه خپلو خپلوانو ته وويل چې تيږې راټولې کړي. نو
هغوی تيږې راواخيستلې او ډېری يې کړې. بيا يعقوب او لابان د
هغې ډېری په څنګ کې سره ډوډۍ وخوړله. ۴۷ لابان په هغه باندې
يجر سهدوتا نوم کېښود. خو يعقوب هغه د جلعيد په نوم ياد کړ. ۴۸
لابان وويل: «دا د تيږو ډېری به زمونږ دواړو دپاره يو يادګار وي.»
په دې خاطر هغه د جلعيد په نوم ياده شوه. ۴۹ همدارنګه هغه د
مصفه په نوم هم ياده شوه، ځکه چې لابان وويل: «کله چې مونږ يو
د بل څخه بېل شو، نو څښتن دې زمونږ دواړو ناظر اوسي. ۵۰ که ته
زما د لورګانو سره بد چلند وکړې او يا نورې ښځې وکړې، حتی که
زه له دې څخه خبر هم نه شم، نو ياد ساته چې خدای زما او ستا
ترمنځ شاهد دی.»

۵۱ همدارنګه لابان يعقوب ته وويل: «دا هغه ډېری او هغه
يادګاري تيږه ده چې زما او ستا ترمنځ مې ودرولې ده. ۵۲ دا ډېری
او دا تيږه دواړه زمونږ دپاره د يادګار په توګه دي. زه به د دې ډېری


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښځه ستا خواته نه درتېرېږم چې حمله درباندې وکړم او ته به د دې
ډېرۍ او د دې تیږې ښځه نه راتېرېږې چې حمله راباندې وکړې.
۵۳ د ابراهیم او د ناحور خدای به زمونږ ترمنځ قضاوت کوي.» بیا
یعقوب د هغه خدای په نوم چې د هغه پلار اسحاق ورته عبادت
کاوه، سخت قسم وخوړ چې په دې وعدې باندې به ودرېږي. ۵۴
یعقوب هلته په هغې غرنۍ سیمه کې قرباني وکړه او خپل خپلوان
یې ډوډۍ خوړلو ته راوبلل. د ډوډۍ خوړلو ښځه وروسته هغوی
هلته شپه تېره کړه. ۵۵ لابان سهار وختي پاڅېد، خپل لمسیان او
لورګانې یې ښکل کړل، خدای پاماني یې ورسره وکړه او بېرته خپل
کور ته روان شو.

## یعقوب د عیسو سره د مخامخ کېدلو دپاره تیاری نیسي

۱ یعقوب هم په خپله مخه لاړ او د خدای فرښتې ورسره
مخامخ شوې. ۲ کله چې یعقوب هغوی ولیدلې، ویې ویل: «دا د
خدای کمپ دی.» نو د هغه ځای نوم یې محنایم کېښود.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ یعقوب د ځان څخه مخکې خپل ورور عیسو ته چې د ادوم
په خاوره کې اوسېده، استازي ولېږل. ۴ هغوی ته یې وویل: «زما
بادار عیسو ته ووایئ چې ستا غلام یعقوب داسې وايي: ‹زه د لابان
سره اوسېدم او تراوسه پورې هلته پاتې وم. ۵ زه د پادو، خرو،
پسونو، وزو، غلامانو او وینځو خاوند شوی یم. اوس مې خپل بادار
ته دغه پیغام ولېږه چې په ما باندې مهرباني وکړې.›»

۶ کله چې استازي بېرته یعقوب ته راستانه شول، هغوی وویل:
«مونږ ستا ورور عیسو ته لاړو او هغه د څلور سوه کسانو سره ستا
د لیدلو دپاره راروان دی.» ۷ نو یعقوب ډېر ووېرېد او پرېشانه شو.
هغه خپل خلک او رمې، پادې او اوښان په دوه ډلو باندې ووېشل.
۸ هغه فکر وکړ: «که چېرې عیسو په لومړنۍ ډلې باندې حمله
وکړي، نو بله ډله به وکولای شي چې وتښتي.»

۹ بیا یعقوب دعا وکړه: «ای زما د پلار ابراهیم خدایه او زما د
پلار اسحاق خدایه، ای څښتنه چې ماته دې وویل خپل وطن او
خپلو خپلوانو ته بېرته لاړ شه، زه به تا نېکمرغه کړم. ۱۰ زه د هغو
ټولو مهربانیو او وفاداریو وړ نه یم چې د خپل غلام سره دې کړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي. کله چې زه د اردن د سیند څخه تېرېدم، نو زما سره یوازې یوه
امسا وه. او اوس زه د دوو لویو ډلو خاوند یم. ۱۱ اوس سوال کوم
چې ما د خپل ورور عیسو له لاسه وژغوره، ځکه زه وېرېږم چې
هغه به راشي او په مونږ به حمله وکړي او مونږ به د ښځو او
ماشومانو سره له منځه یوسي. ۱۲ بلکې هغه وعده رایاده کړه چې تا
زما سره کړې وه چې ما سره به ښه کوې او زما اولاده به د بحیرې د
شګو په شان دومره زیاتوې چې ونه شمېرل شي.»

۱۳ هغه هلته شپه تېره کړه او هرڅه چې یې درلودل د هغو څخه
یې د خپل ورور عیسو دپاره سوغات غوره کړ: ۱۴ دوه سوه وزې او
شل سېرلي، دوه سوه مېږې او شل پسونه، ۱۵ دېرش اوښې د هغو د
بچیو سره، څلوېښت غواګانې او لس غویان، شل خرې او لس خره.
۱۶ هغوی یې په دوه ډلو ووېشل او خپلو غلامانو ته یې وسپارل او
هغوی ته یې وویل: «زما څخه مخکې ځئ او د ډلو ترمنځ فاصله
پرېږدئ.» ۱۷ یعقوب هغه غلام ته چې مخکې روان ؤ، حکم وکړ:
«کله چې زما ورور عیسو ستا سره مخامخ شي او پوښتنه وکړي چې
ستاسو بادار څوک دی؟ تاسو چېرې ځئ؟ او ستاسو په مخکې دا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حیوانات د چا دي؟ (۱۸) باید ووایې: ‹دا ستا د غلام یعقوب دي او هغه یې د سوغات په توګه خپل بادار عیسو دپاره لیږلي دي او په خپله یعقوب هم مونږ پسې راروان دی.›» (۱۹) همدارنګه هغه دوهم، دریم او ټولو پادوانانو ته امر وکړ: «کله چې د عیسو سره مخامخ شئ، نو همداسې به ورته وایئ. (۲۰) خامخا ووایئ چې ستا غلام یعقوب مونږ پسې راروان دی.» ځکه هغه فکر کاوه چې د دې سوغاتونو په وسیله به چې مخکې مې لیږلي دي د هغه قهر سوړ کړم او چې کله د هغه سره مخامخ شم، کېدای شي چې هغه ما وبخښي. (۲۱) نو د یعقوب سوغاتونه له هغه څخه مخکې لاړل، خو هغه شپه په کمپ کې تېره کړه.

## یعقوب په فنییل کې غېږه نیسي

(۲۲) په هماغه شپه یعقوب پاڅېد او خپلې دوه ښځې، دوه وینځې او خپل یوولس زامن یې واخیستل او د یبوق د سیند په ګودر باندې پورې وتل. (۲۳) وروسته له دې چې هغوی یې د سیند څخه پورې ویستل، هغه خپل مال او شتمني هم ولیږله. (۲۴) نو یعقوب یوازې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې شو او یو کس راغی او د هغه سره یې د سهار تر رڼایی پورې
غېړه ونیوله. ۲۵ نو کله چې هغه کس ولیدل چې په یعقوب باندې
بری نه شي موندلی، نو د یعقوب په ورون باندې یې ګوزار وکړ او د
هغه ورون له بنده وخوت. ۲۶ نو بیا هغه سړي وویل: «ما پرېږده
چې لاړ شم، ځکه چې لمر په راختلو دی.» خو یعقوب ځواب
ورکړ: «ترڅو چې ماته برکت رانه کړې، تا نه پرېږدم چې لاړ شې.»
۲۷ هغه کس د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ستا نوم څه دی؟» هغه
ځواب ورکړ: «یعقوب.» ۲۸ هغه کس وویل: «له دې وروسته به نور
ستا نوم یعقوب نه وي، بلکې اسراییل به وي، ځکه چې تا د خدای
او انسان سره غېړه ونیوله او بریالی شوې.» ۲۹ یعقوب وویل: «خپل
نوم دې ماته ووایه.» خو هغه ځواب ورکړ: «ولې زما د نوم پوښتنه
کوې؟» نو په هغه ځای کې یې یعقوب ته برکت ورکړ.

۳۰ نو یعقوب وویل: «خدای مې مخامخ ولیده او لا تراوسه هم
ژوندی پاتې یم.» نو یعقوب هغه ځای د فنییل په نوم یاد کړ. ۳۱ د
لمرخاته په وخت کې هغه د فنییل څخه تېر شو او د خپل ورون په
سبب یې ګوډ، ګوډ تګ کاوه. ۳۲ په همدې خاطر اسراییلیان تر نن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځې پورې هغه پله چې د ورون د بنده پورې نښتې ده نه خوري، ځکه چې د یعقوب د ورون همدې برخې ګوزار خوړلی ؤ.

## یعقوب د عیسو سره مخامخ کیږي

١ یعقوب ولیدل چې عیسو د خپلو څلور سوه کسانو سره راروان دی. نو هغه خپل اولادونه په راحیل او لیه او دوه وینځو باندې ووېشل. ٢ وینځې او د هغوی اولادونه یې مخکې کړل. لیه او د هغې اولادونه یې ورپسې کړل او راحیل او یوسف یې شاته کړل. ٣ په خپله یعقوب د هغوی څخه مخکې روان ؤ. څنګه چې خپل ورور ته ورنژدې شو، اووه ځلې هغه ته د درناوي په خاطر په ځمکه باندې پړمخې پرېوت. ۴ خو عیسو په منډه د یعقوب هرکلي ته ورغی او هغه یې په غېږ کې ونیوه. خپل لاسونه یې د هغه د غاړې څخه راتاو کړل او ښکل یې کړ او دواړو وژړل. ۵ بیا عیسو شاوخوا وکتل او ښځې او ماشومان یې ولیدل. هغه پوښتنه وکړه: «دا درسره څوک دي؟» یعقوب ځواب ورکړ: «دا زما اولادونه دي چې خدای په خپل فضل ماته راکړي دي.» ۶ بیا وینځې د خپلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولادونو سره راغلې او د درناوي په خاطر يې خپل سرونه ټيټ
کړل. ۷ بيا ليه او د هغې اولادونه راغلل او د ټولو څخه وروسته
يوسف او راحيل راغلل او ټولو خپل سرونه د درناوي په خاطر ټيټ
کړل.

۸ عيسو پوښتنه وکړه: «دا ټول حيوانات چې ماته دې رالېږلي
دي، د هغو څخه ستا مقصد څه دی؟» يعقوب ځواب ورکړ: «ای
باداره، دا د دې دپاره دي چې تاسو راباندې مهرباني وکړئ.» ۹
خو عيسو ووېل: «ای زما وروره، زما سره هرڅه ډېر دي. ستا سره
چې هرڅه دي، خپل ځان ته يې وساته.»

۱۰ يعقوب ځواب ورکړ: «نه! که په ما باندې مهربانه شوی يې، نو
زما سوغات قبول کړه. ځکه چې ستا د مخ ليدل زما دپاره لکه د
خدای د مخ د ليدلو په شان دي، په دې خاطر چې زه دې په
مهربانۍ سره قبول کړم. ۱۱ نو د مهربانۍ له مخې دا سوغاتونه چې
ستا دپاره مې راوړي دي قبول کړه، ځکه چې خدای په ما باندې
فضل کړی دی او هرڅه ته چې زه اړتيا لرم، هغه ټول يې ماته
راکړي دي.» يعقوب دومره ټينګار وکړ، تر هغې چې عيسو هغه قبول


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړل.

۱۲ عیسو وویل: «راځئ چې لاړ شو. زه به تاسو بدرګه کړم.»
۱۳ خو یعقوب هغه ته وویل: «زما بادار پوهیږي چې اولادونه مې
کمزوري دي او زه باید په دې مېږو او غواګانو باندې چې لنګې دي،
پام وکړم. که چیرې هغه په یوه ورځ کې سختې وځغلولې شي، نو
ټول به مړه شي. ۱۴ نو زما بادار دې زما څخه مخکې لاړ شي او زه
به ورو، ورو د اولادونو او حیواناتو په قدم درځم، ترڅو د خپل بادار
سره په ادوم کې یوځای شم.»

۱۵ عیسو وویل: «نو بیا اجازه راکړه چې د خپلو کسانو څخه یو
څو تنه ستا سره پریږدم.» یعقوب ځواب ورکړ: «د دې اړتیا نشته،
ځکه زه یوازې دا غواړم چې خپل بادار راباندې مهرباني وکړي.»
۱۶ په هماغه ورځ عیسو په خپله لاره روان شو او بېرته ادوم ته
ستون شو. ۱۷ خو یعقوب سوکوت ته لاړ او هلته یې د خپل ځان
دپاره کور جوړ کړ او د خپلو حیواناتو دپاره یې ځیرې جوړې کړې.
نو ځکه هغه ځای د سوکوت په نوم یاد کړای شو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ نو يعقوب د بين‌النهرين څخه په سلامتۍ سره د شکيم ښار ته
چې په کنعان کې دی، راغی او ښار ته نژدې يې په يو ځای کې
خېمې ودرولې. ۱۹ هغه ځمکه چې په هغې کې يې خېمې ودرولې
وې، هغه يې د شکيم د پلار حمور د اولادونو څخه د سپينو زرو په
سلو سکو واخيستله. ۲۰ هلته هغه د قربانۍ ځای جوړ کړ او هغه يې
د ايل الوهي اسراييل په نوم ياد کړ.

## د دينه بې‌عزته کېدل

۱ يوه ورځ د يعقوب او ليه لور دينه د ځينو کنعاني ښځو د ليدلو
دپاره لاړه. ۲ حمور حوي د هغې سيمې مشر ؤ. د هغه زوی شکيم
دينه وليدله، هغه يې راونيوله او بې‌عزته يې کړه. ۳ د هغه زړه د
يعقوب لور دينه يووړ او په هغې باندې مين شو. هغه هڅه کوله چې
د هغې زړه لاسته راوړي. ۴ شکيم خپل پلار حمور ته وويل: «دا
انجلۍ ماته وکړه.»

۵ يعقوب خبر شو چې د هغه لور دينه بې‌عزته شوې ده. خو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څرنګه چې د هغه زامن د خپلو پادو سره په صحرا کې وو، نو د
هغوی تر راتللو پورې يې هېڅ ونه کړل. ۶ د شکيم پلار حمور
راغی چې د يعقوب سره خبرې وکړي. ۷ د يعقوب زامن له صحرا
څخه راغلل او څنګه چې هغوی واورېدل چې څه پېښه شوې ده نو
ډېر خواشيني او سخت په قهر شول، ځکه چې شکيم داسې کار کړی
ؤ چې د کولو نه ؤ. هغه د يعقوب د لور په بې‌عزته کولو سره د
اسراييلو د قوم سپکاوی کړی ؤ. ۸ حمور هغه ته وويل: «زما زوی
شکيم ستا په لور باندې مين شوی دی. اجازه ورکړئ چې د هغې
سره واده وکړي. ۹ زمونږ سره خپلوي وکړئ. خپلې لورګانې مونږ
ته راکړئ او زمونږ لورګانې خپلو ځانونو ته وکړئ. ۱۰ تاسو کولای
شئ چې دلته په دې وطن کې زمونږ سره واوسېږئ او په هرځای کې
چې وغواړئ هلته اوسېدلی شئ. ازاد کاروبار په کې وکړئ او د
جايداد خاوندان شئ.»

۱۱ بيا شکيم د دينه پلار او ورونو ته وويل: «په ما باندې دا
مهرباني وکړئ او تاسو چې هرڅه وغواړئ زه به يې درکړم. ۱۲ ماته
ووايئ چې کوم سوغاتونه تاسو غواړئ او هرڅومره زيات مهر چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غواړئ هماغه شان يې وټاکئ او تاسو چې هرڅه زما څخه وغواړئ زه به يې درکړم. يوازې دا اجازه راکړئ چې د هغې سره واده وکړم.»

۱۳ د يعقوب زامنو د شکيم او د هغه د پلار حمور په ځواب کې په مکر سره خبرې وکړې، ځکه چې د هغوی خور دينه يې بې‌عزته کړې وه. ۱۴ هغوی ته يې وويل: «مونږ داسې کار نه شو کولای. مونږ نه شو کولای خپله خور هغه چاته ورکړو چې سنت شوی نه وي، ځکه چې دا زمونږ دپاره شرم دی. ۱۵ مونږ په يو شرط تاسو سره جوړه کوو چې ستاسو ټول نارينه دې زمونږ په شان سنت شي. ۱۶ هغه وخت به خپلې لورګانې تاسو ته درکړو او ستاسو لورګانې به خپلو ځانونو ته وکړو او تاسو سره به يوځای واوسېږو او يو قوم به شو. ۱۷ خو که چېرې زمونږ خبره قبوله نه کړئ او سنت نه شئ، مونږ به خپله خور واخلو او لاړ به شو.»

۱۸ دا شرط حمور او د هغه زوی شکيم ته مناسب ښکاره شو. ۱۹ هغه ځوان د دې کار په سرته رسولو کې ځنډ ونه کړ، ځکه چې هغه د يعقوب په لور باندې مين ؤ. هغه د خپل پلار په کورنۍ کې تر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو عزتمن سړی ؤ.

۲۰ حمور او د هغه زوی شکیم د ښار دروازې ته چې د غونډې
ځای ؤ، لاړل او د ښار د خلکو سره یې خبرې وکړې. ۲۱ هغوی
وویل: «دا خلک زمونږ دوستان دي. پرېږدئ چې زمونږ په خاوره
کې واوسېږي او کاروبار په کې وکړي. د هغوی دپاره ځمکه پراخه
ده. مونږ کولای شو چې د دوی د لورګانو سره ودونه وکړو او دوی
کولای شي چې زمونږ د لورګانو سره ودونه وکړي. ۲۲ نو هغوی
زمونږ سره یوازې په دې شرط جوړه کوي چې زمونږ سره واوسېږي
او راسره یو قوم شي، چې زمونږ ټول نارینه د دوی په شان سنت
شي. ۲۳ ایا د هغوی ټولې رمې او پادې او شتمني او د هغوی نور
شیان به زمونږ نه شي؟ نو راځئ چې د دوی سره موافقه وکړو چې
زمونږ سره واوسېږي.» ۲۴ ټولو ښاریانو د حمور او د هغه د زوی
شکیم وړاندیز قبول کړ او د ښار ټول نارینه سنت شول.

۲۵ په درېمه ورځ چې ټول خلک لا د سنت کېدلو له امله په درد
کې وو، د یعقوب دوه زامنو یعنې د دینه ورونو شمعون او لاوي
خپلې تورې واخیستلې او بې له دې چې څوک ورباندې پوه شي،


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښار ته ننوتل او ټول نارینه یې ووژل، ۲۶ چې په هغو کې حمور او د هغه زوی شکیم هم شامل وو. هغوی دینه د شکیم د کور څخه واخیستله او لاړل. ۲۷ د یعقوب نور زامن په مړو باندې راوختل او ښار یې لوټ کړ، ځکه چې د هغوی خور هلته بې‌عزته شوې وه. ۲۸ د هغوی رمې، پادې او خره او هرڅه چې په ښار او پټیو کې وو، هغه یې واخیستل. ۲۹ د هغوی ټوله شتمني یې واخیستله او اولادونه او ښځې یې اسیران کړل او هرڅه چې په کورونو کې وو هغه یې لوټ کړل.

۳۰ یعقوب شمعون او لاوي ته وویل: «تاسو زه د تکلیف سره مخامخ کړم. اوس به کنعانیان، فرزیان او همدارنګه د دې خاورې نور اوسېدونکي زما څخه کرکه کوي. زه ډېر کسان نه لرم او که چېرې هغوی زما په ضد راټول شي او په ما باندې حمله وکړي، زمونږ ټوله کورنۍ به له منځه لاړه شي.»

۳۱ خو هغوی ځواب ورکړ: «ایا دا لازمه وه چې هغه دې زمونږ د خور سره د یوې بدلمنې په شان چلند وکړي؟»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# یعقوب بیت‌ییل ته راستنیږي

۱ خدای یعقوب ته وویل: «پاڅه او بیت‌ییل ته لاړ شه او هلته
اوسېږه. ما یعني خپل خدای ته چې په هغه وخت کې چې د خپل
ورور عیسو څخه تښتېدلی درښکاره شو، د قربانۍ ځای جوړ کړه.»
۲ نو یعقوب خپلې کورنۍ او هغو ټولو خلکو ته چې د هغه سره
وو، وویل: «هغه بتان چې تاسو سره دي، هغه لېرې وغورځوئ.
خپل ځانونه پاک کړئ او پاک کالي واغوندئ. ۳ راځئ چې
بیت‌ییل ته لاړ شو او هلته د هغه خدای دپاره د قربانۍ ځای جوړ
کړو چې زما سره یې د سختۍ په وخت کې مرسته کړې وه او
هرچېرته چې زه تللی یم زما سره مل ؤ.» ۴ نو هغوی ټول بتان او
همدارنګه هغه غوږوالۍ چې د هغوی په غوږونو کې وې یعقوب ته
ورکړې او یعقوب هغه په شکیم کې د څېرۍ د ونې لاندې ښخ کړل.

۵ هغوی روان شول او په شاوخوا ښارونو باندې د خدای وېره
راغله. نو څکه هېڅوک په هغوی پسې نه شول. ۶ یعقوب د خپلو
ټولو خلکو سره لوز ته چې د بیت‌ییل په نوم مشهور دی او د کنعان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په خاوره کې دی، راغی. ۷ هلته هغه د قربانۍ ځای جوړ کړ او
هغه ځای یې د بیت‌ئیل د خدای په نوم یاد کړ، ځکه په هغه ځای
کې چې کله یعقوب د خپل ورور عیسو څخه تښتېده، خدای خپل
ځان هغه ته ښکاره کړی ؤ. ۸ د ربکا دایي دبوره مړه شوه او د
بیت‌ئیل څخه ښکته د څېړۍ د ونې لاندې یې ښخه کړه. نو هغه ونه
د ژړا د څېړۍ د ونې په نوم یاده شوه.

۹ کله چې یعقوب د بین‌النهرین څخه بېرته راستون شو، نو
خدای یوځل بیا هغه ته ښکاره شو او برکت یې ورته ورکړ. ۱۰
خدای هغه ته وویل: «ستا نوم یعقوب دی. خو له دې وروسته دې
ستا نوم یعقوب نه وي، بلکې ستا نوم دې اسراییل وي.» نو د هغه
نوم یې اسراییل کېښود. ۱۱ خدای هغه ته وویل: «زه مطلق قادر
خدای یم. ته دې د زیاتو اولادونو خاوند شې. ستا څخه به قومونه
پیدا شي او ستا د نسل څخه به پاچاهان پیدا شي. ۱۲ هغه ځمکه
چې ابراهیم او اسحاق ته مې ورکړې وه، هغه به تاته درکړم او ستا
څخه وروسته به یې ستا اولادې ته ورکړم.» ۱۳ نو خدای له هغه
ځای څخه چې د هغه سره یې خبرې وکړې، پورته وخوت. ۱۴


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یعقوب په هغه ځای کې چې خدای ورسره خبرې کړې وې، یوه
یادګاري تیږه ودروله او په هغې باندې یې د څښبلو نذرانه او د
زیتونو تیل واچول. ۱۵ یعقوب د هغه ځای نوم چې هلته خدای
ورسره خبرې کړې وې، بیت‌ییل کېښود.

## د راحیل مړینه

۱۶ نو بیا هغوی د بیت‌ییل څخه کډه وکړه. افراتې ته یو څه
فاصله پاتې وه چې د راحیل د ماشوم د زېږولو وخت راورسېد او د
هغې تکلیف زیات شو. ۱۷ څرنګه چې د ماشوم د زېږولو په وخت
کې هغه په ډېر سخت تکلیف کې وه، نو د هغې دایې ورته وویل:
«راحیل، مه وېرېږه، دا دې بل زوی دی.» ۱۸ خو هغه د مړینې په
حال کې وه او د ساه ورکولو په وخت کې یې د هغه نوم بن‌اوني
کېښود، خو یعقوب هغه بنیامین وباله.

۱۹ نو راحیل مړه شوه او هغه یې د افراتې لارې ته نژدې چې
اوس د بیت‌لحم په نوم یادېږي، ښخه کړه. ۲۰ یعقوب د هغې په قبر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې يادګاري تيږه ودروله او تر نن ورځې پورې هغه د راحيل د
قبر نښه ده. ۲۱ نو يعقوب بيا کډه وکړه او د عيدر د برج بلې خواته
يې خپلې خېمې ودرولې.

## د يعقوب زامن

**(لومړی تواريخ ۲:۱–۲)**

۲۲ هغه وخت چې يعقوب په هغې سيمه کې اوسېده، روبين لاړ
او د خپل پلار د وينځې بلهې سره يې زنا وکړه او يعقوب د دې
څخه خبر شو.

يعقوب دولس زامن درلودل. ۲۳ د ليه زامن: روبين د يعقوب مشر
زوی، شمعون، لاوي، يهودا، يساکار او زبولون. ۲۴ د راحيل زامن:
يوسف او بنيامين. ۲۵ د راحيل د وينځې بلهه زامن: دان او نفتالي.
۲۶ د ليه د وينځې زلفه زامن: جاد او اشير. دا د يعقوب زامن وو چې
په بين‌النهرين کې زېږېدلي وو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسحاق مړینه

٢٧ يعقوب خپل پلار اسحاق ته چې قريت‌اربع (حبرون) ته نژدې
په ممرې کې ؤ يعني هغه ځای ته چې ابراهيم او اسحاق په کې
اوسېدل، راغی. ٢٨ اسحاق يوسلو اتيا کاله ژوند وکړ. ٢٩ هغه په
پاخه عمر کې مړ شو او د خپلو نيکونو سره يوځای شو. د هغه زامنو
عيسو او يعقوب هغه ښخ کړ.

## د عيسو اولاده

(لومړی تواريخ ١:٣۴-٣٧)

١ دا د عيسو اولاده ده (عيسو د ادوم په نوم هم يادېده.) ٢
عيسو د کنعاني ښځو سره ودونه وکړل: عاده د حيتي ايلون لور،
اهوليبامه چې د عنه لور او د حوي صبعون لمسۍ وه ٣ او بسمه
چې د اسماعيل لور او د نبايوت خور وه. ۴ عادې اليفاز وزېږاوه او
بسمې رعوييل وزېږاوه. ۵ اهوليبامه يعوش، يعلام او قورح وزېږول.
دا د عيسو زامن وو چې په کنعان کې زېږېدلي وو.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ عیسو خپلې ښځې، زامن، لورګانې او د خپلې کورنۍ ټول
غړي او همدارنګه خپلې ټولې رمې او پادې او خپله ټوله شتمني
چې په کنعان کې یې لاسته راوړې وو، واخیستل او د خپل ورور
یعقوب څخه لرې ځه لېرې یې بلې سیمې ته کډه وکړه. ۷ هغه لاړ،
ځکه هغه ځمکه چې یعقوب او هغه په کې اوسېدل، دومره زیاته نه
وه چې دواړه سره یوځای واوسېږي، په دې خاطر چې هغوی زیاتې
رمې او پادې درلودلې. ۸ نو عیسو د ادوم په غرنۍ سیمه کې
اوسېده.

۹ دا د ادوم په غرنۍ سیمه کې د ادومیانو د نیکه عیسو اولاده
ده. ۱۰ د عیسو د زامنو نومونه دا دي: الیفاز د عیسو د ښځې عاده
زوی او رعوییل د عیسو د ښځې بسمې زوی. ۱۱ د الیفاز زامن:
تیمان، اومار، صفو، جعتام او قناز. ۱۲ تمناع د عیسو د زوی الیفاز
وینځه وه او د هغې څخه د هغه زوی عمالیق پیدا شو. دا د عیسو د
ښځې عادې لمسیان وو. ۱۳ د رعوییل زامن: نحت، زارح، شمه او
مزه. دا د عیسو د ښځې بسمې لمسیان وو.

۱۴ اهولیبامه د عنه لور او د صبعون لمسۍ وه چې د هغې څخه د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسو زامن یعوش، یعلام او قورح پیدا شول.

۱۵ د عیسو په اولادې کې دغه قبیلوي مشران وو: د عیسو د
مشر زوی الیفاز زامن: تیمان، اومار، صفو، قناز، ۱۶ قورح، جعتام او
عمالیق. دا په ادوم کې هغه قبیلوي مشران وو چې د الیفاز د اولادې
څخه دي او دوی د عادې لمسیان وو.

۱۷ د عیسو د زوی رعوییل زامن: نحت، زارح، شمه او مزه. دا په
ادوم کې هغه قبیلوي مشران وو چې د رعوییل د اولادې څخه دي.
دا د عیسو د ښځې بسمې لمسیان وو.

۱۸ د عیسو د ښځې اهولیبامه زامن: یعوش، یعلام او قورح. دا
هغه قبیلوي مشران وو چې د عنه د لور یعني د عیسو د ښځې
اهولیبامه د اولادې څخه دي. ۱۹ دا ټولې قبیلې د عیسو د اولادې
څخه وې.

## د سعیر اولاده

**(لومړی تواریخ ۱:‏۳۸–۴۲)**


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ دا د سعیر حوري زامن وو چې په هغې سیمه کې اوسېدل: لوتان، شوبال، صبعون، عنه، ۲۱ دیشون، ایصر او دیشان. دا په ادوم کې د سعیر زامن او د حوریانو مشران وو.

۲۲ د لوتان زامن: حوري او هومام. (تمناع د لوتان خور وه.)

۲۳ د شوبال زامن: علوان، مناحت، عیبال، شفو او اونام.

۲۴ د صبعون زامن: ایه او عنه. (دا هماغه عنه دی، کله چې هغه د خپل پلار صبعون خره څرول، نو په دښته کې یې د تودو اوبو چینې وموندلې.) ۲۵ د عنه اولادونه: دیشون او اهولیبامه د عنه لور.
۲۶ د دیشون زامن: حمدان، اشبان، یتران او کران.

۲۷ د ایصر زامن: بلهان، زعوان او عقان. ۲۸ د دیشان زامن: عوص او اران.

۲۹ دا د حوریانو مشران وو: لوتان، شوبال، صبعون، عنه، ۳۰ دیشون، ایصر او دیشان. دا د حوریانو قبیلې وې چې د ادوم په خاوره کې اوسېدلې.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ادوم پاچاهان

**(لومړی تواريخ ۱:۴۳-۵۴)**

۳۱-۳۹ له دې ښخه مخکې چا په اسراييلو باندې پاچاهي نه وه
کړې، لاندې ذکر شويو پاچاهانو په ترتيب سره د ادوم په هېواد
باندې پاچاهي وکړه:

- بالع د بعور زوی چې د دينهابه ښخه ؤ،
- يوباب د زارح زوی چې د بزرې ښخه ؤ،
- حوشام چې د تيمان د سيمې ښخه ؤ.
- حداد د بداد زوی چې د عويت ښخه ؤ (هغه مديانيانو ته د موآب په خاوره کې په جګړه کې ماتې ورکړه.)
- سمله چې د مسريقه ښخه ؤ.
- شاوول چې د رحوبوت د ښار ښخه ؤ او دا ښار د سيند په غاړه پروت دی.
- بعل‌حانان چې د عکبور زوی ؤ.


Copyrighted material from afghanibibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

- حداد چې د فاعو ښځه ؤ. (د هغه د ښځې نوم مهيتبييل ؤ چې د مطرد لور وه او د ميذاهب لمسۍ وه.)

۴۰-۴۳ دا د هغو قبيلوي مشرانو نومونه دي چې د عيسو د اولادې ښځه دي: تمناع، علوه، يتيت، اهوليبامه، ايله، فينون، قناز، تيمان، مبصار، مجدييل او عيرام. هغه سيمه چې دا هره قبيله په کې اوسېدله، د هماغې قبيلې په نوم يادېدله.

## د يوسف خوبونه

۱ يعقوب په کنعان کې په هغه ځای کې ژوند کاوه چېرته چې د هغه پلار اوسېدلی ؤ. ۲ دا د يعقوب د کورنۍ کيسه ده.

يوسف اوولس کلن ځوان ؤ او د خپلو ناسکه ورونو سره يې چې د بلهې او زلفې زامن وو رمې ساتلې. يوسف به خپل پلار د خپلو ورونو د بدو کارونو ښځه خبراوه. ۳ يعقوب د يوسف سره د خپلو نورو ټولو زامنو ښځه زياته مينه کوله، ځکه چې هغه ورته په زوړوالي کې پيدا شوی ؤ. د هغه دپاره يې ښکلې چپنه جوړه کړه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې اوږده لستوڼي يې درلودل. ۴ کله چې د هغه ورونه په دې پوه شول چې د هغوی پلار د يوسف سره د هغوی څخه زياته مينه کوي، نو د يوسف څخه يې ډېره کرکه کوله او په نرمه ژبه يې ورسره خبرې نه کولې.

۵ يوه شپه يوسف خوب وليده او هغه يې خپلو ورونو ته بيان کړ، نو د يوسف سره د هغوی کينه نوره هم زياته شوه. ۶ هغوی ته يې ووېل: «ما چې کوم خوب ليدلی دی هغه ته غوږ ونيسئ. ۷ مونږ په پټي کې د غلو دانو ګېډۍ تړلې او ناڅاپه زما ګېډۍ پورته شوه او نېغه ودرېدله او ستاسو ګېډۍ زما د ګېډۍ په شاوخوا باندې راټولې شوې او زما ګېډۍ ته يې د درناوي په خاطر سرونه ټيټ کړل.» ۸ د هغه ورونو پوښتنه وکړه: «ايا ته غواړې چې پاچا شې او په مونږ باندې حکومت وکړې؟» نو د يوسف د خوبونو په سبب او د هغو شيانو له امله چې د هغوی په اړه يې ووېل د هغه د ورونو کينه نوره هم زياته شوه.

۹ بيا يوسف بل خوب وليده او خپلو ورونو ته يې بيان کړ: «ما بل خوب وليده چې په هغه کې لمر، سپوږمۍ او يوولس ستورو د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درناوي په خاطر ماته خپل سرونه ټيټ کړل.» ۱۰ هغه دا خوب خپل پلار ته هم بيان کړ. د هغه پلار هغه ورټلو او ويې ويل: «دا څه ډول خوب دی چې تا ليدلی دی؟ ايا په رښتيا سره به زه، ستا مور او ستا ورونه تاته راځو او تاته به د درناوي سرونه ټيټوو؟» ۱۱ د يوسف ورونو د هغه سره کينه درلودله، خو د هغه پلار دا موضوع په خپل ذهن کې وساتله.

## يوسف د خپلو ورونو له خوا خرڅيږي

۱۲ يوه ورځ د يوسف ورونه د رمو د څرولو دپاره شکيم ته لاړل. ۱۳ يعقوب يوسف ته وويل: «ستا ورونه شکيم ته نژدې رمې څروي. زه غواړم چې تا هغوی ته ورولېږم.» هغه ځواب ورکړ: «ډېره ښه ده.»

۱۴ د هغه پلار وويل: «لاړ شه او وګوره چې ستا ورونه روغ رمټ دي او رمې روغې جوړې دي که نه، ماته بېرته خبر راوړه.» نو هغه يې د حبرون له درې څخه ولېږه. يوسف شکيم ته ورسېده ۱۵


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او په صحرا کې شاوخوا سرګردانه ګرځېده. يو سړي هغه وليده او پوښتنه يې ترې وکړه: «څه شی لټوې؟» ۱۶ هغه ځواب ورکړ: «زه خپل ورونه لټوم. ايا ماته ويلی شې چې هغوی چېرته خپلې رمې څروي؟» ۱۷ هغه سړي ځواب ورکړ: «هغوی پخوا له دې ځای نه تللي دي. د هغوی څخه مې واورېدل چې ويل يې، راځئ چې دوتان ته لاړ شو.» نو يوسف خپلو ورونو پسې لاړ او په دوتان کې يې هغوی پيدا کړل.

۱۸ هغوی يوسف د لېرې نه وليده او مخکې له دې چې يوسف دوی ته ورورسيږي، هغوی ورته دسيسه جوړه کړه چې ويې وژني. ۱۹ هغوی يو بل ته سره وويل: «هغه دی، خوب ليدونکی راروان دی. ۲۰ راځئ چې هغه ووژنو او په يوې وچې څاه کې يې وغورځوو او وبه وايو چې هغه يو داړونکي ځناور وخوړ. بيا به وګورو چې د هغه خوبونه څنګه کيږي.»

۲۱ کله چې روبين دا خبره واورېدله، هڅه يې وکړه چې هغه د خپلو ورونو د لاسونو څخه خلاص کړي، نو هغه وويل: «هغه به نه وژنو.» ۲۲ روبين هغوی ته وويل: «وينه مه تويوئ. هغه په دې څاه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کې چې دلته په دې دښته کې ده وغورځوئ، خو لاس ورته مه اچوئ.» هغه دا خبره د دې دپاره وکړه چې یوسف د دوی څخه خلاص کړي او بېرته یې خپل پلار ته بوځي. ۲۳ نو کله چې یوسف خپلو ورونو ته راغی، هغوی ورڅخه هغه ښکلې چپنه چې اوږده لستوڼې یې درلودل، وویستله. ۲۴ هغه یې ونیوه او په څاه کې یې وغورځاوه. څاه وچه وه او اوبه په کې نه وې.

۲۵ په هغه وخت کې چې دوی ډوډۍ خوړله، ناڅاپه یې ولیدل چې د اسماعیلیانو کاروان د جلعاد څخه راروان دی او د هغوی اوښان په مسالو، ملهمو او د مر کنډ باندې بار وو چې هغه مصر ته یوسي. ۲۶ یهودا خپلو ورونو ته وویل: «د خپل ورور د وژلو او د هغه د قتل د پټولو څخه به مونږ ته څه ګټه راورسیږي؟ ۲۷ راځئ چې هغه په اسماعیلیانو باندې خرڅ کړو. مونږ به هغه ته زیان نه رسوو، ځکه چې هغه زمونږ ورور او زمونږ خپله وینه او خپل هډوکی دی.» د هغه ورونه په دې رضا شول. ۲۸ نو کله چې سوداګران تېرېدل، د هغه ورونو یوسف له څاه څخه راوویست او هغه یې په اسماعیلیانو باندې سپینو زرو په شلو سکو خرڅ کړ.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی یوسف مصر ته یووړ.

۲۹ کله چې روبین بېرته څاه ته راغی او ویې لیدل چې یوسف هلته نشته، نو له غمه یې خپل کالي وشکول. ۳۰ هغه بېرته خپلو ورونو ته ورغی او ویې ویل: «هلک هلته نشته، څه وکړم؟»

۳۱ بیا هغوی یو سېرلی حلال کړ او د یوسف چپنه یې د هغه په وینه کې غوټه کړه. ۳۲ هغوی هغه چپنه بېرته خپل پلار ته یووړله او ویې ویل: «دا مونږ وموندله. وګوره چې دا ستا د زوی ده که نه؟» ۳۳ یعقوب هغه وپېژندله او ویې ویل: «دا زما د زوی چپنه ده! کوم داړونکي ځناور هغه خوړلی دی او په رښتیا سره یوسف ټوټې ټوټې شوی دی.» ۳۴ نو یعقوب له خفګانه خپل کالي وشکول. د ویر کالي یې واغوستل او ډېرې ورځې د خپل زوی دپاره غمجن ؤ. ۳۵ د هغه ټول زامن او لورګانې راغلې چې هغه ته تسلي ورکړي، خو هغه دا تسلي ونه منله او ویې ویل: «د خپل زوی دپاره به زه د دې غم سره قبر ته ځم.» نو پلار یې د هغه دپاره وژړل.

۳۶ په هغه وخت کې سوداګرانو یوسف په مصر کې په فوطیفار


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندۍ چې د فرعون د درباريانو څخه ؤ او د دربار د ساتونکو قوماندان ؤ، خرڅ کړ.

## يهودا او تامار

١ داسې وشول چې په هغه وخت کې يهودا خپل ورونه
پرېښودل او د حيره په نوم يو سړي سره چې د عدولام د ښار څخه
ؤ، پاتې شو. ٢ هلته يهودا د شوعه په نوم د يو کنعاني د لور سره
مخامخ شو. يهودا د هغې سره واده وکړ او ورسره يوځای شو. ٣
هغه اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه او په هغه باندې يې عير نوم
کېښود. ٤ هغه بيا اميدواره شوه او زوی يې وزېږاوه. په هغه باندې
يې اونان نوم کېښود. ٥ هغې بل زوی وزېږاوه او په هغه باندې يې
شيله نوم کېښود. يهودا په کزيب کې ؤ چې هلک پيدا شو.

٦ يهودا خپل مشر زوی ته ښځه وکړه او د هغې نوم تامار ؤ.
٧ د عير چلند د څښتن په نظر کې بد ؤ. نو څښتن هغه مړ کړ. ٨
هغه وخت يهودا د عير ورور اونان ته وويل: «لاړ شه او د خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورور د کونډې سره يوځای شه او د هغې د مېړه د ورور په توګه دې خپل مسووليت ترسره کړه، ترڅو ستا ورور هم اولادونه ولري.» ⑨ خو اونان په دې پوهېده چې دا به د ده اولادونه نه وي. نو کله به چې هغه د خپلې کونډې ورېنداري سره څملاست، خپل ځان به يې په ځمکه باندې انزال کاوه او نه يې غوښتل چې د خپل ورور دپاره اولاد راوړي. ⑩ څه چې هغه کول هغه د څښتن په نظر کې بد ښکاره کېدل. نو څښتن هغه هم وواژه. ⑪ نو يهودا خپلې انږور تامار ته وويل: «د خپل پلار په کور کې د کونډې په توګه اوسېږه، تر هغې پورې چې زما زوی شيله لوی شي.» ځکه هغه وېرېده چې شيله به هم د خپلو ورونو په شان مړ شي. نو تامار لاړه چې د خپل پلار په کور کې واوسيږي.

⑫ څه موده وروسته د يهودا ښځه يعني د شوعه لور مړه شوه. کله چې د غم وخت تېر شو، نو يهودا د خپل دوست حيره عدولامي سره د تمنه ښار ته چې هلته د هغه پسونه سکولول کېدل، لاړ. ⑬ کله چې تامار خبره شوه چې د هغې خسر د خپلو پسونو د سکولولو دپاره تمنې ته روان دی، ⑭ نو هغې خپل د کونډتوب کالي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وویستل، خپل مخ یې په ځادر کې پټ کړ او د عینایم په دروازه کې چې د تمنې په لاره کې وه، کښېناستله. هغې دا کار په دې خاطر وکړ چې د یهودا کشر زوی لوی شوی ؤ، خو یهودا دا پلان نه درلود چې تامار ورته په نکاح کړي. (۱۵) کله چې یهودا هغه ولیدله، په هغې یې د بدلمنې ګومان وکړ، ځکه چې مخ یې پټ ؤ. (۱۶) هغه پوه نه شو چې هغه د ده انږور ده. هغه د لارې په غاړه باندې هغې ته ورغی او ورته یې ویل: «راشه، چې درسره څملم.» هغې پوښتنه وکړه: «ماته به څه راکړې چې درسره څملم؟» (۱۷) هغه وویل: «زه به د خپلې رمې څخه تاته یو سېرلی درولېږم.» هغې پوښتنه وکړه: «تر هغې پورې چې ته هغه رالېږې، ماته به څه شی د ضمانت په توګه پرېږدې؟» (۱۸) هغه وویل: «څه شی درته د ضمانت په توګه درکړم؟» هغې ځواب ورکړ: «مهر، د هغه مزی او دا امسا چې ستا په لاس کې ده.» نو هغه دا هرڅه هغې ته ورکړل او ورسره څملاست او تامار د هغه څخه امیدواره شوه. (۱۹) تامار کور ته لاړه. خپل ځادر یې لرې کړ او خپل د کونډتوب کالي یې واغوستل.

(۲۰) نو یهودا د خپل عدولامي دوست په لاس سېرلی ورولېږه،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو د هغې ښځې څخه د ضمانت شیان بېرته واخلي. خو هغه يې پیدا نه کړه. ۲۱ ده د عنايم له خلکو څخه پوښتنه وکړه: «هغه بدلمنه چې دلته په لاره کې ناسته وه، چېرته ده؟» هغوی وويل: «دلته هېڅ وخت بدلمنه ښځه نه وه.» ۲۲ هغه بېرته يهودا ته ورغی او ويې ويل: «ما هغه پیدا نه کړه. برسېره پردې د هغه ځای خلکو وويل چې دلته هېڅ بدلمنه ښځه نه وه.» ۲۳ نو يهودا وويل: «پرېږده چې هغه شيان خپل ځانته وساتي. مونږ نه غواړو چې د خلکو د خندا شو. دا دی ما هغې ته دغه سېرلی ورولېږه، خو تا هغه پیدا نه کړه.»

۲۴ درې مياشتې وروسته يهودا ته خبر ورسېده: «ستا انږور تامار د یوې بدلمنې په شان عمل کړی دی او هغه اوس امیدواره ده.» يهودا وويل: «هغه دباندې راوباسئ او ويې سوځوئ چې مړه شي.» ۲۵ څنګه يې چې هغه دباندې راوويستله، خپل خسر ته يې پيغام ورولېږه ويې ويل: «زه د هغه سړي څخه امیدواره شوې یم چې د دې شیانو خاوند دی.» هغې زياته کړه: «وګوره. دا مهر، د هغه مزی او دا امسا وپېژنه چې د چا دي.» ۲۶ يهودا هغه وپېژندل او ويې ويل: «هغه په حقه ده. زه د هغې سره په خپل لوظ کې ناکام شوم. ما


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باید هغه خپل زوی شیله ته واده کړي وای.» یهودا بیا د هغې سره یوځای نه شو.

٢٧ کله چې د تامار د اولاد د زېږولو وخت راورسېد، نو د هغې په ګېډه کې غبرګوني وو. ٢٨ د زېږولو په وخت کې د هغو څخه یو خپل لاس راوویست، نو دایي یو سور مزی واخیست او د هغه په مړوند باندې یې وتاړه او ویې ویل: «دا لومړی راووت.» ٢٩ خو کله چې هغه خپل لاس بېرته کش کړ د هغه ورور راووت او هغې وویل: «ته څرنګه راووتلې!» او په هغه باندې یې فارص نوم کېښود. ٣٠ له هغې وروسته د هغه ورور چې په مړوند باندې یې سور مزی ؤ، راووت او هغه یې د زارح په نوم یاد کړ.

## یوسف او د فوطیفار ښځه

١ اسماعیلیانو یوسف مصر ته یووړ او په فوطیفار باندې یې خرڅ کړ چې نوموړی د فرعون د درباریانو څخه ؤ او د دربار د ساتونکو قوماندان ؤ. ٢ څښتن د یوسف سره مل ؤ او هغه یې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بریالی کړ. هغه د خپل مصري بادار په کور کې اوسېده. ۳ بادار یې ولیدل چې څښتن د یوسف سره مل دی او په هر کار کې هغه ته بری ورکوي. ۴ فوطیفار د هغه څخه خوشحاله ؤ او هغه یې خپل شخصي نوکر ونیوه او هرڅه یې چې خپل کور کې درلودل، ټول یې هغه ته وسپارل. ۵ د هماغه وخت څخه څښتن د یوسف له سببه د دې مصري خاندان ته برکت ورکړ او د هغه په ټولو شیانو باندې که د هغه په کور کې وو او که د هغه ځمکه وه، د څښتن برکت ؤ. ۶ فوطیفار چې هرڅه درلودل هغه یې یوسف ته وسپارل چې څارنه یې وکړي. هغه له خوراک څخه پرته نور د هېڅ شي سره کار نه درلود.

یوسف ډېر ښایسته ؤ او ښکلی اندام یې درلود. ۷ څه موده وروسته د یوسف سره د فوطیفار د ښځې مینه پیدا شوه او ورته ویې ویل: «راشه، زما سره څمله.» ۸ خو هغه انکار وکړ او هغې ته یې وویل: «ګوره، هرڅه چې زما د بادار په کور کې دي د هغو په اړه هغه اندېښنه نه لري، ځکه چې زه دلته یم. هرڅه چې هغه یې لري ماته یې راسپارلي دي. ۹ زه په دې کور کې داسې اختیار لرم لکه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې هغه يې لري او زما بادار پرته له ستا چې د هغه ښځه يې، نور هېڅ شی زما څخه نه دی سپمولی. نو بيا زه څنګه کولای شم چې داسې بد کار وکړم او د خدای په وړاندې ګناه وکړم؟» ۱۰ که څه هم هغې به هره ورځ ټينګار کاوه، خو يوسف د هغې خبرې نه منله چې ورسره څملې يا ورنژدې شي.

۱۱ خو يوه ورځ کله چې يوسف کور ته ننوت چې خپل کار وکړي، د کور د نوکرانو له جملې څخه هلته هېڅ څوک نه ؤ. ۱۲ هغې يوسف له چپنې څخه ونيوه او ورته ويې ويل: «زما سره څمله.» خو هغه خپله چپنه د هغې په لاس کې پرېښودله او د کور څخه دباندې وتښتېد. ۱۳ کله چې هغې وليدل چې هغه خپله چپنه د هغې په لاس کې پرېښودله او د کور څخه وتښتېد، ۱۴ نو د خپل کور نوکرانو ته يې غږ وکړ او ويې ويل: «وګورئ! دغه عبرانی سړی چې زما مېړه کور ته راوستلی دی، غواړي زمونږ بې‌عزتي وکړي. هغه زما کوټې ته راننوت چې ماته لاس راواچوي، خو ما په لوړ اواز سره چيغې ووهلې. ۱۵ کله چې هغه زما چيغې واورېدلې، نو وتښتېد او خپله چپنه يې زما سره پرېښودله.» ۱۶ هغې د يوسف


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چپنه د ځان سره وساتله، تر هغې پورې چې مېړه یې کور ته راغی.
۱۷ بیا هغې فوطیفار ته دا کیسه بیان کړه: «هغه عبرانی غلام چې
مونږ ته دې راوستلی دی، زما کوټې ته راننوت چې ما بې‌عزته کړي.
۱۸ خو څنګه چې ما د مرستې دپاره چیغې ووهلې، خپله چپنه یې
زما سره پرېښودله او د کور څخه وتښتېد.»

۱۹ کله چې د یوسف بادار دغه کیسه واورېدله چې د هغه ښځې
ورته بیان کړه، هغه د قهره سور شو. ۲۰ د یوسف بادار هغه ونیوه او
په هغه زندان کې یې واچاوه چې د پاچا بندیان به په کې ساتل کېدل
او هغه هلته پاتې شو. ۲۱ خو څښتن د یوسف سره مل ؤ. هغه ته یې
برکت ورکړ، نو د زندان مشر د هغه څخه خوشحاله ؤ. ۲۲ هغه
یوسف د نورو ټولو بندیانو مشر وټاکه او هغه ته یې د هغو ټولو
کارونو مسوولیت ور په غاړه کړ چې په زندان کې به کېدل. ۲۳ د
زندان مشر د هغو شیانو په هکله چې یوسف ته سپارل شوي وو
اندېښنه نه درلودله، ځکه چې څښتن د یوسف سره مل ؤ او کوم
کارونه چې هغه کول څښتن ورته په هغو ټولو کې بری ورکاوه.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# يوسف د بنديانو خوبونه تعبيروي

١ څه موده وروسته د مصر د پاچا يعني فرعون د ساقيانو او
نانوايانو د مشرانو څخه د پاچا په وړاندې غلطي وشوه. ٢ فرعون
په دې دواړو درباريانو باندې په قهر شو ٣ او هغوی يې په هغه
زندان کې واچول چې د دربار د ساتونکو د قوماندان په کور کې ؤ
يعني په هماغه زندان کې چې يوسف په کې بندي ؤ. ٤ هغوی
زيات وخت په زندان کې تېر کړ او د ساتونکو قوماندان هغوی
يوسف ته وسپارل او هغه د دوی خدمت کاوه.

٥ د ساقيانو او نانوايانو مشرانو چې په زندان کې وو، په يوه
شپه دواړو خوب وليده او هر يو خوب خپله معنی درلودله. ٦ کله
چې سهار يوسف هغوی ته ورغی، ويې ليدل چې هغوی خفه وو. ٧
نو هغه ورڅخه پوښتنه وکړه: «تاسو نن ولې دومره خفه يئ؟» ٨
هغوی ځواب ورکړ: «مونږ دواړو خوبونه ليدلي دي، خو څوک نشته
چې هغه تعبير کړي.» يوسف هغوی ته وويل: «د خوبونو تعبيرول د
خدای کار دی. خپل خوبونه ماته ووايئ.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ نو د ساقیانو مشر خپل خوب یوسف ته بیان کړ. هغه ته یې
وویل: «په خوب کې مې خپلې مخې ته د انګورو تاک ولیده. ١٠ په
تاک کې درې څانګې وې. څنګه چې غوټۍ یې وکړې، نو هغه
وغوړېدلې او د انګورو وږي پاخه شول. ١١ د فرعون پیاله مې په
لاس کې وه. نو انګور مې واخیستل او په پیاله کې مې وزبېښل او
پیاله مې د فرعون په لاس کې ورکړه.» ١٢ یوسف وویل: «د هغه
تعبیر دا دی: درې څانګې درې ورځې دي. ١٣ په دې درې ورځو
کې به فرعون تا ازاد کړي او وبه دې بخښي او بیرته به دې په خپل
کار باندې مقرر کړي. ته به د پخوا په شان لکه څنګه چې د هغه
ساقي وې، د فرعون پیاله به د هغه په لاس کې ورکوې. ١۴ خو کله
چې داسې وشي، ما در په یاد کړه او زما سره احسان وکړه. فرعون
ته زما په اړه یادونه وکړه او له دې زندان څخه مې وباسه. ١۵ ځکه
چې زه د عبرانیانو د وطن څخه په زور تښتول شوی یم او دلته مې
هم هیڅ داسې کار نه دی کړی چې ما دې په زندان کې واچوي.»

١۶ کله چې د نانوایانو مشر ولیدل چې ښه تعبیر دی، نو یوسف
ته یې وویل: «ما هم خوب ولیده چې د ډوډیو درې ټوکرۍ مې په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سر وي. ۱۷ په پاسنۍ ټوکرۍ کې د فرعون دپاره هر ډول ډوډۍ وې
او مرغانو به هغه د دې ټوکرۍ څخه خوړلې.» ۱۸ یوسف په ځواب
کې وویل: «د دې تعبیر دا دی: درې ټوکرۍ درې ورځې دي. ۱۹ په
دې درې ورځو کې به فرعون ستا سر پرې کړي او تا به په ونه کې
ځوړند کړي او مرغان به ستا غوښه وخوري.»

۲۰ په دریمه ورځ د فرعون د زیږېدلو کالیزه وه. هغه خپلو
درباریانو ته مېلمستیا ورکړه او د ساقیانو او نانوایانو مشران یې ازاد
کړل او د خپلو درباریانو په مخکې یې حاضر کړل. ۲۱ هغه د
ساقیانو مشر په خپل پخواني کار باندې مقرر کړ او پیاله یې یوځل
بیا د فرعون په لاس کې ورکړه. ۲۲ خو د نانوایانو مشر یې په دار
وځړاوه، لکه څنګه چې یوسف هغوی ته تعبیر کړی ؤ. ۲۳ خو د
ساقیانو مشر یوسف رایاد نه کړ او هغه یې بېخي هېر کړ.

## یوسف د فرعون خوبونه تعبیروي

۱ پوره دوه کاله تېر شوي وو چې فرعون خوب ولیده چې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نيل د سيند په غاړه ولاړ ؤ. ٢ ناڅاپه اووه ښې او چاغې غواګانې د
سيند څخه راووتلې او په لوخوکې څرېدلې. ٣ د هغو څخه
وروسته نورې اووه غواګانې چې بدرنګې او ډنګرې وې، راووتلې او
د سيند په غاړه د هغو ترڅنګه ودرېدلې. ٤ بدرنګو او ډنګرو
غواګانو هغه ښې او چاغې غواګانې وخوړلې. بيا فرعون راويښ شو.
٥ هغه بيا ويده شو او بل خوب يې وليده چې د غلو دانو اووه ډک
او پاخه وږي په يوه ډنډر کې راشنه شول. ٦ له هغو څخه وروسته
د غلو دانو نور اووه نري او د دښتې باد سوځولي وږي راشنه شول.
٧ د غلو دانو اوو نريو وږو هغه ډک او پاخه وږي روغ تېر کړل. بيا
فرعون راويښ شو او پوه شو چې هغه خوب ليدلی دی. ٨ په سهار
کې د هغه فکر پرېشانه ؤ. هغه د مصر ټول جادوګران او حکيمان
راوغوښتل. هغه خپل خوبونه هغوی ته بيان کړل، خو هېڅ يو ونه
شو کولای چې هغه فرعون ته تعبير کړي.

٩ په دې وخت کې د ساقيانو مشر فرعون ته وويل: «نن راته
راياد شول چې زما څخه خطا شوې ده. ١٠ يوځل فرعون په خپلو
نوکرانو باندې په قهر شوی ؤ او زه او د نانوايانو مشر يې د دربار د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساتونکو د قوماندان په کور کې په زندان کې واچولو. ١١ مونږ دواړو په یوه شپه خوب ولیده او هر یو خوب ځانته خپله معنی درلودله.
١٢ په هغه ځای کې یو عبرانی ځوان چې د دربار د ساتونکو د قوماندان غلام ؤ، زمونږ سره ؤ. مونږ خپل خوبونه هغه ته بیان کړل او هغه زمونږ خوبونه زمونږ دپاره تعبیر کړل. ١٣ لکه څنګه چې هغه تعبیر کړی ؤ، کټ مټ هماغسې وشول. زه بېرته په خپل ځای مقرر شوم او هغه بل سړی په دار وځړول شو.»

١٤ نو فرعون یوسف راوغوښت او هغه یې ډېر زر د زندان څخه راوویست. یوسف خپل سر او ږیره وخرایله، خپل کالي یې بدل کړل او د فرعون حضور ته راغی. ١٥ فرعون یوسف ته وویل: «ما خوب لیدلی او څوک نشته چې هغه تعبیر کړي. خو ما ستا په هکله اورېدلي دي چې کله خوب واورې، نو تعبیر یې کولای شې.» ١٦ یوسف فرعون ته په ځواب کې وویل: «اعلیحضرته، زه یې نه شم کولای، خو خدای به ښه تعبیر درکړي.» ١٧ فرعون یوسف ته وویل: «ما خوب ولیده چې زه د نیل د سیند په غاړه ولاړ وم، ١٨ په دې وخت کې اووه چاغې او ښې غواګانې د سیند څخه راووتلې او په


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لوخو کې څرېدلې. ۱۹ د هغوی څخه وروسته نورې اووه غواګانې
راووتلې چې داسې ډنګرې او بدشکله وې چې ما د مصر په ټول
هېواد کې هېڅکله نه وې لیدلې. ۲۰ ډنګرو او بدشکله غواګانو هغه
لومړنۍ چاغې غواګانې وخوړلې. ۲۱ خو د خوړلو څخه وروسته هم
څوک نه پوهېدل چې دوی به څه خوړلي وي، ځکه چې هغوی د
پخوا په شان ډنګرې ښکاره کېدلې. نو په دې وخت کې زه راویښ
شوم. ۲۲ همدارنګه ما په خوب کې ولیدل چې د غلو دانو اووه ډک
او پاخه وږي په یوه ډنډر کې راشنه شول. ۲۳ د هغو څخه وروسته
نور اووه نري او د دښتې باد سوځولي وږي راشنه شول. ۲۴ اووه
نریو وږو هغه ډک وږي روغ تېر کړل. نو ما خپل خوب جادوګرانو
ته وویل، خو هېچا ونه شو کولای چې هغه ماته تعبیر کړي.»

۲۵ نو یوسف فرعون ته وویل: «د دواړو خوبونو معنی یوه ده.
څه چې خدای غواړي ویې کړي، هغه یې تاسو ته څرګند کړل. ۲۶
اووه ښې غواګانې اووه کاله دي او د غلو دانو اووه ډک وږي هم
اووه کاله دي، هغوی یوشان معنی لري. ۲۷ اووه ډنګرې او بدرنګه
غواګانې چې د هغو څخه وروسته راووتلې او د غلو دانو اووه نري


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او د دښتې باد سوځولي وږي د قحطۍ اووه کاله دي. ۲۸ دا هماغه څه دي چې تاسو ته مې وويل. څه چې خدای غواړي ويې کړي، تاسو ته يې ښکاره کړي دي. ۲۹ اووه کاله به د مصر په ټول هېواد کې ډېره پرېماني راشي. ۳۰ خو له هغې وروسته به د اوو کالو دپاره داسې قحطي راشي چې د مصر په ملک کې به هغه ټوله پرېماني هېره شي، ځکه چې قحطي به هېواد تباه کړي ۳۱ او پرېماني به په هېواد کې بيخي هېره شي، ځکه چې هغه قحطي چې په هغې پسې راځي، هغه به ډېره سخته وي. ۳۲ دا چې تاسو دوه خوبونه ليدلي دي، د هغو معنی دا ده چې دا د خدای پرېکړه ده چې دا کار وکړي او هغه به زر داسې وکړي.

۳۳ اوس بايد تاسو يو پوه او د حکمت لرونکی سړی پيدا کړئ او هغه د مصر د هېواد دوهم واکمن وټاکئ. ۳۴ تاسو بايد په ټول هېواد کې مامورين وټاکئ چې د اوو کالو پرېمانۍ په موده کې د مصر د حاصلاتو څخه پنځمه برخه راټوله کړي. ۳۵ هغوی ته امر وکړئ چې د پرېمانۍ په کلونو کې غله راټوله کړي او هغوی ته اختيار ورکړئ چې هغه په ښارونو کې ذخيره کړي او هغه وساتي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ هغه باید د هېواد دپاره ذخیره شي چې د اووه کالو د قحطۍ په موده کې چې په مصر باندې راتلونکې ده ورڅخه کار واخیستل شي، ترڅو هېواد د قحطۍ له امله وران نه شي.»

۳۷ دغه وړاندیز د فرعون او د هغه د ټولو درباریانو په نظر کې ښه ښکاره شو. ۳۸ نو فرعون د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ایا کولای شو چې د یوسف په شان یو څوک راپیدا کړو چې د خدای روح په کې دی؟» ۳۹ نو فرعون یوسف ته وویل: «څرنګه چې خدای دا هرڅه تاته ښودلي دي، نو ستا په شان د حکمت خاوند او پوه سړی نشته. ۴۰ زه به تا د خپل هېواد دوهم واکمن کړم او زما ټول قوم به ستا حکمونه مني او په واک کې به ته زما څخه وروسته دوهم کس یې.»

## یوسف د مصر دوهم مشر

۴۱ نو فرعون یوسف ته وویل: «په دې ډول مې ته د مصر د ټول هېواد دوهم واکمن وټاکلې.» ۴۲ فرعون د خپلې ګوتې څخه هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګوته راوویستله چې په هغې کې د پاچاهۍ مهر لګېدلی ؤ او هغه یې یوسف ته ور په ګوته کړه. هغه یوسف ته د ډېر ښه کتان څخه یوه چپنه ورواغوستله او د سرو زرو زنځیر یې د هغه په غاړه کې واچاوه. ۴۳ فرعون هغه ته خپله دوهمه شاهي ګاډۍ ورکړه چې په کې سپور شي او خلکو د هغه په مخکې نارې وهلې: «لاره پرېږدئ! لاره پرېږدئ!» په دې ډول یې یوسف د مصر د ټول هېواد دوهم مشر وټاکه. ۴۴ فرعون یوسف ته وویل: «زه فرعون یم، خو هېڅوک به ستا له اجازې څخه پرته په ټول مصر کې هېڅ نه شي کولای.» ۴۵ فرعون په یوسف باندې صفنات فعنیح نوم کېښود او د اون د کاهن فوطيفارع لور اسنات یې هغه ته په نکاح ورکړه. نو په دې ډول یوسف د مصر په ټول هېواد باندې واک ترلاسه کړ. ۴۶ یوسف دېرش کلن ؤ چې د مصر د پاچا یعنې فرعون په خدمت کولو یې پیل وکړ. یوسف د فرعون د حضور څخه لاړ او په ټول مصر کې وګرځېد. ۴۷ د اووه کالو پرېمانۍ په موده کې ځمکې ډېر زیات حاصلات ورکړل. ۴۸ په دې موده کې یوسف په مصر کې ټول خوراکي مواد راټول کړل او هغه یې په ښارونو کې ذخیره کړل او د هر ښار د شاوخوا ځمکو خوراکي مواد یې په هماغه ښار کې ذخیره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړل. ۴۹ یوسف لکه د بحیرې د شګو په شان ډېره زیاته غله ذخیره کړه او هغه دومره زیاته وه چې د حساب شخه وتلې وه.

۵۰ د قحطۍ د کلونو د راتللو شخه مخکې د اون د کاهن فوطيفارع لور اسنات یوسف ته دوه زامن وزېږول. ۵۱ یوسف د خپل مشر زوی نوم منسي کېښود، نو ځکه یې وویل: «خدای زما ټولې سختۍ او زما د پلار ټوله کورنۍ زما شخه هېره کړه.» ۵۲ او بیا د دوهم زوی نوم یې افرایم کېښود او ویې ویل: «دا ځکه چې خدای ماته په هغه وطن کې اولادونه راکړل چې زه په کې په تکلیف وم.»

۵۳ نو هغه پرېماني چې د اووه کالو دپاره په مصر کې وه، پای ته ورسېدله. ۵۴ لکه شنګه چې یوسف ویلي وو، د قحطۍ اووه کاله پیل شول. په نورو ټولو هېوادونو کې قحطي وه، خو په ټول مصر کې غله وه. ۵۵ کله چې مصریان وږي شول، نو د ډوډۍ دپاره یې فرعون ته فریاد وکړ. نو فرعون ټولو مصریانو ته وویل: «یوسف ته ورشئ او هرڅه چې تاسو ته وایي هغه وکړئ.» ۵۶ قحطي ډېره سخته شوه او په ټول هېواد کې خپره شوه، نو یوسف ګودامونه پرانیستل او په مصریانو باندې یې غله خرڅوله. ۵۷ د ټولو هېوادونو خلک مصر ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راتلل چې د یوسف څخه غله واخلي، ځکه چې په ټوله دنیا کې سخته قحطي وه.

## د یوسف ورونه د غلو دانو اخیستلو دپاره مصر ته ځي

١ کله چې یعقوب خبر شو چې په مصر کې غلې دانې شته، نو هغه خپلو زامنو ته وویل: «تاسو ولې هسې ناست یئ او یو بل ته ګورئ؟ ٢ ما اورېدلي دي چې په مصر کې غلې دانې شته. هلته لاړ شئ او زمونږ دپاره یو څه واخلئ چې له لوږې څخه مړه نه شو.» ٣ نو د یوسف لس ورونه د غلو دانو د اخیستلو دپاره مصر ته لاړل. ٤ خو یعقوب د یوسف ورور بنیامین د هغوی سره ونه لېږه، ځکه چې هغه وېرېده چې کوم زیان ورته ونه رسیږي.

٥ نو د یعقوب زامن هم د هغو کنعانیانو په ډله کې وو چې د غلې د اخیستلو دپاره راغلي وو، ځکه چې په کنعان کې هم قحطي وه. ٦ یوسف د مصر د دوهم مشر په توګه د ټولې دنیا په خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې غله خرڅوله، نو کله چې د یوسف ورونه راورسېدل، هغه ته یې د درناوي په خاطر خپل سرونه ټيټ کړل. (۷) څنګه چې یوسف خپل ورونه ولیدل هغوی یې وپېژندل، خو ځان یې هغوی ته لکه د یو پردي په شان وښود او د هغوی سره یې په سخته لهجه خبرې وکړې. هغه پوښتنه ورځخه وکړه: «له کوم ځای څخه راغلي یئ؟» هغوی ځواب ورکړ: «مونږ د کنعان څخه راغلي یو چې يو څه غله واخلو.»

(۸) که څه هم یوسف خپل ورونه وپېژندل، خو هغوی یوسف ونه پېژانده. (۹) په دې وخت کې یوسف خپل هغه خوبونه راياد کړل چې د هغوی په اړه يې ليدلي وو او هغوی ته يې وويل: «تاسو جاسوسان یئ! تاسو د دې دپاره راغلي یئ چې وګورئ زمونږ په هېواد کې د کوم ځای امنیت کمزوری دی.» (۱۰) هغوی ځواب ورکړ: «نه زما باداره، ستا غلامان د غلې د اخیستلو دپاره راغلي دي. (۱۱) مونږ ټول ورونه یو. مونږ جاسوسان نه یو، مونږ صادق خلک یو.» (۱۲) یوسف هغوی ته وویل: «نه! تاسو د دې دپاره راغلي یئ چې وګورئ زمونږ په هېواد کې د کوم ځای امنیت کمزوری دی.» (۱۳) هغوی ځواب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړ: «ستا غلامان دولس ورونه د یو سړي زامن یو چې هغه د
کنعان په خاوره کې اوسیږي. یو ورور مو مړ شوی دی او کشر ورور
اوس زمونږ د پلار سره دی.» ۱۴ یوسف هغوی ته وویل: «دا همدا
خبره ده لکه څنګه چې ما درته ویلي وو. تاسو جاسوسان یئ. ۱۵
اوس به تاسو په دې ډول وازمایلی شئ. زه د فرعون په ژوندون
باندې قسم خورم چې تاسو به هېڅکله له دې ځای نه لاړ نه شئ،
تر هغې پورې چې ستاسو کشر ورور دلته رانه شي. ۱۶ ستاسو څخه
دې یو تن لاړ شي چې ستاسو ورور راولي او پاتې به په زندان کې
وساتل شي، ترڅو ستاسو خبره وازمایلی شي چې تاسو رښتیا وایئ
او که نه. که داسې نه وي، نو د فرعون په نامه باندې قسم خورم چې
تاسو جاسوسان یئ.» ۱۷ بیا یې هغوی درې ورځې په زندان کې
وساتل.

۱۸ په درېمه ورځ یوسف هغوی ته وویل: «زه له خدایه وېرېږم.
زه به تاسو په یو شرط ژوندي پرېږدم، ۱۹ که چېرې تاسو صادقان
یئ، نو ستاسو د ورونو څخه دې یو کس په زندان کې پاتې شي او
نور کولای شي چې لاړ شي او خپلو وږیو کورنیو ته غله یوسي. ۲۰


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو تاسو خامخا خپل کشر ورور ماته راولئ، نو ستاسو خبره به ثابته شي چې رښتیا وایئ او تاسو به مړه نه شئ.» هغوی رضا شول
٢١ او یو بل ته یې وویل: «اوس مونږ دغه تکلیف د هغه کار په نتیجه کې وینو چې د خپل ورور سره مو کړی دی. مونږ ولیدل چې هغه په لوی مصیبت کې ؤ او مونږ ته یې د خپل ژوند دپاره زاري کوله، خو مونږ قبوله نه کړه. په همدې سبب دغه مصیبت په مونږ باندې راغلی دی.»

٢٢ روبین ځواب ورکړ: «ایا تاسو ته مې ونه ویل چې د دې هلک په وړاندې گناه مه کوئ؟ خو تاسو زما خبره ونه منله! اوس به مونږ د هغه د وینې حساب ورکوو.» ٢٣ هغوی ته معلومه نه وه چې یوسف د هغوی په خبرو باندې پوهیږي، ځکه چې دوی د هغه سره د ترجمان په وسیله خبرې کولې. ٢٤ یوسف د هغوی څخه لیرې لاړ او په ژړا شو. خو بیرته دوی ته راستون شو او بیا یې د هغوی سره خبرې وکړې. د هغوی څخه یې شمعون ونیوه او د هغوی په مخکې یې وتاړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د یوسف ورونه کنعان ته ورستنیږي

۲۵ یوسف امر وکړ چې د هغوی بوجۍ دې د غلو دانو څخه ډکې
شي او د هر کس پیسې دې بېرته د هغه په بوجۍ کې کېښودلې شي
او هغوی ته دې د سفر دپاره خواړه ورکړای شي. نو همداسې یې
ورسره وکړل. ۲۶ هغوی غله په خپلو خرو باندې بار کړه او روان
شول. ۲۷ په هغه ځای کې چې هغوی د شپې تېرولو دپاره پاتې
شول، یو تن خپله بوجۍ خلاصه کړه چې خپل خره ته خوراک
ورکړي، نو خپلې پیسې یې ولیدلې چې د بوجۍ په خوله کې وې.
۲۸ هغه خپلو ورونو ته وویل: «زما پیسې یې بېرته ماته راکړې دي
او دلته زما په بوجۍ کې دي.» د هغوی زړونه ولوېدل او په رپېدلو
یې یو بل ته مخ واړاوه او ویې ویل: «دا څه دي چې خدای زمونږ
سره وکړل؟»

۲۹ کله چې هغوی خپل پلار یعقوب ته د کنعان خاورې ته
راغلل، نو هغه څه چې په هغوی باندې تېر شوي وو، هغه ته یې بیان
کړل او ویې ویل: ۳۰ «د مصر دوهم مشر زمونږ سره په سخته لهجه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې وکړې او په مونږ باندې يې دا تور ولګاوه چې مونږ د هغه په خاوره کې جاسوسي کوو. ۳۱ خو مونږ هغه ته ووېل چې مونږ صادق خلک يو، مونږ جاسوسان نه يو. ۳۲ مونږ دولس ورونه او د يو پلار زامن يو. زمونږ يو ورور مړ شوی دی او کشر ورور مو په کنعان کې زمونږ د پلار سره دی. ۳۳ د مصر دوهم مشر په ځواب کې ووېل: ‹هغه وخت به زه پوه شم چې تاسو صادقان يئ چې د خپلو ورونو څخه يو دلته زما سره پرېږدئ او د خپلو وږيو کورنيو دپاره غله واخلئ او لاړ شئ. ۳۴ خو خپل کشر ورور ماته راولئ، نو زه به پوه شم چې تاسو جاسوسان نه يئ، بلکې صادقان يئ. بيا به هغه وخت تاسو ته خپل ورور بېرته درکړم او تاسو به وکولای شئ چې دلته پاتې شئ او سوداګري وکړئ.›»

۳۵ نو څنګه چې هغوی خپلې بوجۍ خالي کړې، د هر کس په بوجۍ کې د هغه د پيسو کڅوړه وه. کله چې هغوی او د هغوی پلار د پيسو کڅوړې وليدلې، نو ووېرېدل. ۳۶ د هغوی پلار يعقوب هغوی ته ووېل: «تاسو زه د خپلو اولادونو څخه بې‌برخې کړم، يوسف نور نشته او شمعون هم نور نشته. اوس غواړئ چې بنيامين بوځئ. دا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هرڅه زما سره کيږي!»

۳۷ په دې وخت کې روبين خپل پلار ته وويل: «که بنيامين مې
بېرته تاته رانه‌ووست، زما دواړه زامن ووژنه. هغه ماته وسپاره زه به
يې بېرته راولم.» ۳۸ خو يعقوب وويل: «زما زوی به تاسو سره هلته
نه ځي. د هغه ورور مړ شوی دی او هغه يوازې پاتې دی. که چېرې
په لاره کې په هغه باندې څه پېښه وشي، نو زه زوړ سړی يم، له
غمه به مړ شم او تاسو ټول به ملامته شئ.»

## مصر ته دوهم سفر

۱ په کنعان کې قحطي نوره هم سخته شوه. ۲ نو کله چې
هغوی هغه ټوله غله چې د مصر څخه يې راوړې وه وخوړله، نو
يعقوب خپلو زامنو ته وويل: «بېرته لاړ شئ او لږه نوره غله زمونږ
دپاره واخلئ.» ۳ خو يهودا هغه ته وويل: «هغه سړي مونږ ته په
ټينګه خبرداری راکړی دی چې ترڅو پورې چې ستاسو ورور
ستاسو سره نه وي، زما مخ به بيا ونه وينئ. ۴ که زمونږ ورور دې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ سره ولېږه، نو مونږ به لاړ شو او ستا دپاره به خواړه واخلو.
٥ خو که هغه دې ونه لېږه نو مونږ نه ځو، ځکه چې هغه سړي
مونږ ته وويل چې ترڅو پورې ستاسو ورور ستاسو سره نه وي، نو
نور به زما مخ ونه وينئ.»

٦ يعقوب وويل: «زه مو ولې د داسې سخت تکليف سره مخامخ
کړم چې هغه سړي ته مو وويل چې ستاسو بل ورور هم شته؟» ٧
هغوی ځواب ورکړ: «هغه سړي په ډېر غور سره زمونږ او زمونږ د
کورنۍ په اړه زمونږ څخه پوښتنې وکړې ويې ويل: ‹ايا ستاسو پلار
تراوسه پورې ژوندی دی؟ ستاسو بل ورور شته؟› مونږ يوازې د هغه
پوښتنو ته ځواب ورکړی دی. مونږ څه پوهېدلو چې هغه به مونږ ته
ووايي چې خپل ورور دلته راولئ.»

٨ يهودا خپل پلار يعقوب ته وويل: «هلک زما سره ولېږه. مونږ
به سمدلاسه لاړ شو چې مونږ او تاسو او زمونږ ماشومان ژوندي
پاتې شو او له لوږې څخه مړه نه شو. ٩ زه به خپله د هغه د
سلامتيا ضمانت کوم. ته کولای شې چې د هغه مسووليت زما په
غاړه واچوې. که چېرې هغه تاته رانه ولم او ستا په مخکې يې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

حاضر نه کړم، زه به تاته د تل دپاره ملامت یم. ۱۰ که چېرې مونږ
ځنډ نه وای کړی، نو تراوسه پورې به مونږ دوه ځلې تللي او بېرته
به راغلي وای.»

۱۱ بیا د هغوی پلار یعقوب هغوی ته وویل: «که داسې وي، نو دا
کار وکړئ. د خپل هېواد د ډېرو ښو پیداوارو څخه یو څه واخلئ او
په خپلو بوجیو کې یې واچوئ او لږ څه ملهم، شات، مساله، د مر
کنډ، پسته او بادام هغه سړي ته د سوغات په توګه یوسئ. ۱۲ دوه
چنده پیسې د ځان سره واخلئ، ځکه هغه پیسې چې بېرته ستاسو د
بوجیو په خولو کې اېښودل شوې وې، باید بېرته ورکړئ. کېدای شي
چې د هغوی څخه سهوه شوې وي. ۱۳ خپل ورور هم واخلئ او
سمدلاسه بېرته هغه سړي ته ورشئ. ۱۴ مطلق قادر خدای دې هغه
سړی په تاسو باندې مهربانه کړي، ترڅو هغه بنیامین او ستاسو بل
ورور بېرته تاسو ته درکړي. که چېرې زه بې‌اولاده کېږم، نو بې‌اولاده
دې شم.»

۱۵ نو هغو ورونو سوغاتونه او دوه چنده پیسې واخیستلې او د
بنیامین سره مصر ته روان شول او هغوی خپل ځانونه یوسف ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورحاضر کړل. ۱۶ کله چې يوسف د هغوی سره بنيامين وليده، نو د
خپل کور ناظر ته يې وويل: «دا خلک زما کور ته بوځه او يو حيوان
حلال کړه او تيار يې کړه چې دوی به غرمه زما سره ډوډۍ
خوري.» ۱۷ لکه څنګه چې يوسف امر کړی ؤ، هغه سړي هماغه
شان وکړل او هغه خلک يې د يوسف کور ته راوستل.

۱۸ کله چې هغوی د يوسف کور ته راوستل شول، نو ووېرېدل.
دوی فکر کاوه: «مونږ د هغو پيسو په سبب چې په لومړي ځل
زمونږ په بوجيو کې بېرته اېښودل شوې وې، دلته راوستل شوي يو.
هغه غواړي چې مونږ بنديان کړي، مونږ خپل غلامان کړي او زمونږ
څخه خره واخلي.» ۱۹ نو هغوی د يوسف ناظر ته ورغلل او د کور
په دروازه کې يې د هغه سره خبرې وکړې. ۲۰ هغوی وويل: «ای
باداره! مونږ دلته يوځل مخکې د غلو دانو د اخيستلو دپاره راغلي
وو، ۲۱ خو کله چې په يو ځای کې د شپې تېرولو دپاره ودرېدلو،
مونږ خپلې بوجۍ پرانيستلې او هر يو خپلې پيسې په هماغه خپله
اندازه د خپلو بوجيو په خولو کې وموندلې. نو مونږ هغه بېرته د خپل
ځان سره راوړې دي. ۲۲ همدارنګه مونږ نورې پيسې هم د ځان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره راوړې دي چې نوره غله واخلو. مونږ نه پوهیږو چې چا زمونږ په بوجیو کې هغه پیسې ایښې وې.» ۲۳ ناظر وویل: «اندېښنه مه کوئ او مه وېرېږئ. ستاسو او ستاسو د پلار خدای ستاسو په بوجیو کې تاسو ته خزانه ایښې ده. ستاسو پیسې ماته راورسېدلې.» نو شمعون یې هغوی ته راوست. ۲۴ ناظر د یوسف ورونه د هغه کور ته دننه بوتلل او هغوی ته یې اوبه ورکړې چې خپلې پښې ووینځي او د هغوی خرو ته یې واښه ورکړل. ۲۵ هغوی سوغاتونه تیار کړل چې یوسف به غرمې ته راشي، ځکه چې دوی ته ویل شوي وو چې ډوډی به هلته وخوري.

۲۶ کله چې یوسف کور ته راغی، نو دوی هغه سوغاتونه چې کور ته یې راوړي وو، هغه ته وړاندې کړل او هغه ته یې د درناوي په خاطر خپل سرونه ټیټ کړل. ۲۷ هغه د دوی د روغتیا په هکله پوښتنه وکړه او بیا یې وویل: «ستاسو زوړ پلار چې تاسو د هغه په اړه ویلي وو، څنګه دی؟ ایا هغه تراوسه پورې ژوندی دی؟» ۲۸ هغوی وویل: «ستا غلام یعنې زمونږ پلار تراوسه پورې ژوندی دی او ښه دی.» دوی د هغه په وړاندې د درناوي په خاطر خپل سرونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیت کړل او پړمخې پرېوتل.

۲۹ کله چې یوسف خپل سکه ورور بنیامین ولیده، هغه پوښتنه
وکړه: «ایا ستاسو کشر ورور چې تاسو ماته د هغه په اړه ویلي وو دا
دی؟ ای زما زویه! خدای دې تاته برکت درکړي.» ۳۰ یوسف
سمدلاسه لاړ، ځکه چې د خپل ورور په لیدلو باندې ډېر احساساتي
شو او د ژړا ځای یې لټاوه. هغه خپلې شخصي کوټې ته ننوت او
هلته یې وژړل. ۳۱ وروسته له هغې چې خپل مخ یې وینځه،
دباندې راووت. خپل ځان یې کنترول کړ او ویې ویل: «ډوډۍ
راوړئ.» ۳۲ یوسف ته یې په یو دسترخوان باندې ډوډۍ ورکړه او د
هغه ورونو ته یې په بل دسترخوان باندې. مصریانو ته یې چې هلته
یې ډوډۍ خوړله بېله کېښودله، ځکه چې هغوی به د عبرانیانو سره
ډوډۍ نه خوړله. مصریانو د عبرانیانو سره ډوډۍ خوړل حرام ګڼل.
۳۳ د هغه ورونه د هغوی د عمر له مخې د مشر څخه تر کشره پورې
د یوسف په مخکې کېښنول شول او هغوی په حیرانتیا سره یو بل ته
کتل. ۳۴ هغوی ته د یوسف د دسترخوان څخه ډوډۍ ورکړای شوه
او د بنیامین برخه د نورو ټولو څخه پنځه چنده زیاته وه. نو هغوی د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوسف سره وخوړل او ويې ښنبل او خوشحالي يې وکړه ترڅو چې نشه شول.

## د يوسف د سپينو زرو جام

١ يوسف د خپل کور ناظر ته امر وکړ: «د دې خلکو بوجۍ د غلو دانو څخه دومره ډکې کړه چې څومره دوی وړلی شي او د هر کس پيسې د هغه د بوجۍ په خوله کې کېږده. ٢ زما د سپينو زرو جام د کشر ورور د بوجۍ په خوله کې د هغه د غلو دانو د پيسو سره کېږده.» نو څنګه چې يوسف هغه ته ويلي وو، همداسې يې وکړل. ٣ سهار وختي د يوسف ورونه د خپلو خرو سره په خپله لاره رخصت کړای شول. ٤ هغوی لا د ښار څخه دومره لېرې نه وو تللي چې يوسف د خپل کور ناظر ته وويل: «پاڅه او هغو خلکو پسې ورشه او کله چې هغوی ته ورسېدلې ورته ووايه چې تاسو ولې د نېکۍ په بدل کې بدي وکړه؟ ٥ تاسو ولې زما د بادار د سپينو زرو جام چې هغه په کې ښنبل کوي او فال ورباندې ګوري، غلا کړ؟ تاسو ډېر بد کار وکړ.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶ کله چې ناظر هغوی ته ورورسېده، نو دا خبرې يې هغوی ته
تکرار کړې. ۷ خو هغوی ورته ځواب ورکړ: «ای زمونږ باداره، ولې
داسې خبرې کوې؟ مونږ قسم خورو چې مونږ داسې کار نه دی
کړی. ۸ ګوره! هغه پيسې چې مونږ د خپلو بوجيو په خولو کې پيدا
کړې بېرته مو د کنعان د خاورې څخه تاسو ته راوړلې، نو څنګه به
ستا د بادار د کور څخه سره زر يا سپين زر غلا کړو؟ ۹ که هغه په
مونږ کې د کوم يو سره پيدا شي، هغه دې ووژل شي او مونږ دې ستا
غلامان شو.»

۱۰ بيا ناظر وويل: «ډېر ښه، خو يوازې هغه چا سره چې جام
پيدا شي هغه به زما غلام شي او تاسو نور به د ملامتيا څخه خلاص
شئ.» ۱۱ هغوی هر يو زر زر خپله بوجۍ ښکته کړه او هغه يې
پرانيستلې. ۱۲ بيا ناظر شروع وکړه او د مشر څخه نيولې تر کشره
پورې يې په غور سره ولټول او جام د بنيامين په بوجۍ کې وموندل
شو. ۱۳ په دې وخت کې هغوی له غمه خپل کالي وشکول، خپل
خره يې بار کړل او ښار ته راستانه شول.

۱۴ کله چې يهودا او د هغه ورونه د يوسف کور ته راغلل، هغه لا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هلته ؤ او هغوی د یوسف په مخکې پړمخې پرېوتل. ۱۵ یوسف
هغوی ته وویل: «تاسو څه وکړل؟ ایا تاسو نه پوهېدلئ چې زما په
شان سړی کولای شي چې د فال په وسیله شیان راپیدا کړي؟» ۱۶
یهودا ځواب ورکړ: «ای باداره، تاسو ته څه ووایو؟ مونږ څه ویلی
شو؟ خپله بې‌ګناهي څرنګه ثابته کړو؟ خدای زمونږ ګناه ښکاره کړه.
اوس به مونږ ټول او هغه چې جام ورسره پیدا شوی دی، ستاسو
غلامان شو.» ۱۷ خو یوسف وویل: «نه! زه به هېڅکله داسې ونه
کړم! یوازې هغه څوک به زما غلام شي چې جام ورسره موندل
شوی دی او تاسو نور په خیر سره بېرته خپل پلار ته لاړ شئ.»

## یهودا د بنیامین دپاره زاري کوي

۱۸ بیا یهودا یوسف ته ورغی او ویې ویل: «ای باداره، زه پوهېږم
چې تاسو د فرعون په شان قدرت لرئ، نو په ما باندې په قهر نه
شئ او د مهربانۍ له مخې اجازه راکړئ چې تاسو سره سپینې خبرې
وکړم. ۱۹ زما باداره، تاسو زمونږ څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو پلار
یا بل ورور شته؟ ۲۰ مونږ ځواب ورکړ چې زمونږ پلار زوړ دی او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کشر ورور هم لړو چې هغه ته په سپين‌ږيرتوب کې پيدا شوی دی. د هلک ورور مړ شوی دی او هغه د خپلې مور د اولادونو څخه يوازينی زوی دی چې ژوندی دی او پلار يې ورسره زياته مينه کوي. ۲۱ باداره، تاسو مونږ ته وويل چې هغه دلته راولئ چې په خپله يې ووينم. ۲۲ مونږ تاسو ته وويل چې هغه هلک د خپل پلار څخه نه شي بېلېدلی او که چېرې بېل شي، نو پلار به يې مړ شي. ۲۳ خو تاسو مونږ ته وويل چې تر هغې پورې چې ستاسو کشر ورور تاسو سره رانه شي، نو زما مخ به بيا ونه وينئ.

۲۴ نو کله چې مونږ خپل پلار ته ورغلو، ستاسو خبرې مو ورته بيان کړې. ۲۵ نو زمونږ پلار وويل: ‹بېرته لاړ شئ او لږې نورې غلې دانې واخلئ.› ۲۶ خو مونږ ځواب ورکړ: ‹مونږ نه شو تللی. خو که زمونږ کشر ورور زمونږ سره وي، نو لاړ به شو. که زمونږ کشر ورور راسره نه وي، نو د هغه سړي مخ نه شو ليدلی.› ۲۷ زمونږ پلار مونږ ته وويل: ‹تاسو پوهېږئ چې ماته زما د ښځې راحيل څخه يوازې دوه زامن پيدا شوي دي. ۲۸ د هغوی څخه يو يې ورک شوی دی. هغه به خامخا د کوم داړونکي ځناور له خوا ټوټې ټوټې شوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي او له هغه وخت راهیسې مې نه دی لیدلی. ۲۹ نو که تاسو دا هم زما څخه بوځئ او په هغه باندې څه وشي، نو څرنګه چې زه سپینږیری یم د هغه غم له امله به چې تاسو مې ورباندې اخته کوئ مړ شم.›

۳۰ نو اوس که چېرې زه بېرته خپل پلار ته ورشم او هلک زمونږ سره نه وي، نو که زما پلار چې ژوند یې د هلک د ژوند سره تړلی دی ۳۱ وګوري چې هلک نشته هغه به مړ شي. هغه دومره زوړ دی چې هغه غم چې مونږ یې په هغه باندې راولو، هغه به ووژني. ۳۲ ما خپل پلار ته د دې هلک د ساتنې ضمانت ورکړی دی او ویلي مې دي: ‹که هغه مې بېرته تاته رانه‌ووست، نو زه به ټول عمر تاته ملامت یم.› ۳۳ نو اوس ای باداره، زه به د هلک په ځای ستاسو د غلام په توګه دلته پاتې شم. هغه پرېږدئ چې د خپلو ورونو سره بېرته لاړ شي. ۳۴ که هلک زما سره نه وي، خپل پلار ته به څنګه بېرته ورشم؟ زه دا نه شم زغملی چې هغه بدبختي چې زما په پلار باندې به راشي، ووینم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# یوسف خپل ځان خپلو ورونو ته ورپېژني

۱ یوسف نور د خپلو نوکرانو په مخکښې ځان ټینګ نه کړای شو.
هغه چیغې کړې: «ټول د کوټې څخه ووځئ!» نو کله چې یوسف
خپل ځان خپلو ورونو ته وروپېژانده هلته بل څوک نه ؤ. ۲ هغه په
داسې لوړ اواز سره وژړل چې مصریانو دا ژړا واورېدله او د فرعون
درباریانو هم دا خبره واورېدله. ۳ یوسف خپلو ورونو ته وویل:
«زه یوسف یم! ایا زما پلار لا تراوسه پورې ژوندی دی؟» خو کله
چې د هغه ورونو دا خبره واورېدله، ډېر سخت ووېرېدل. ورونو یې
نه شو کولای چې هغه ته ځواب ورکړي. ۴ بیا یوسف خپلو ورونو
ته وویل: «ماته رانژدې شئ.» کله چې هغوی ورنژدې شول، هغه
وویل: «زه ستاسو ورور یوسف یم، هغه یوسف چې تاسو د نورو په
لاس په مصر کې خرخ کړی ؤ. ۵ اوس مه پرېشانه کېږئ او خپل
ځانونه په دې باندې مه ملامتوئ چې زه تاسو دلته خرخ کړم، ځکه
چې خدای زه ستاسو څخه مخکښې د خلکو د ژوند د ژغورلو دپاره
دلته رالېږلی یم. ۶ ځکه چې دوه کاله کېږي چې په دې هېواد کې
قحطي ده او د راتلونکو پنځو کالو دپاره به دلته کرل او رېبل نه وي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ خو خدای زه ستاسو څخه مخکې راولېږلم چې تاسو په يوه
عجيبه طريقه وژغورې چې تاسې او ستاسو اولاده ژوندي پاتې شي.
٨ نو په رښتيا سره تاسو زه دلته نه يم رالېږلی، بلکې خدای رالېږلی
يم. هغه زه د فرعون ډېر لوړرتبه درباري وټاکلم او زه د ټول هېواد
دوهم واکمن يم.

٩ اوس زر شئ، زما پلار ته بېرته ورشئ او هغه ته ووايئ چې
ستا زوی يوسف داسې وايي چې خدای زه د مصر دوهم مشر کړی
يم. بې له کومه ځنډه ماته راشئ. ١٠ تاسو به د جوشن په سيمه کې
اوسېږئ، ترڅو تاسو، ستاسو اولادونه، ستاسو لمسيان، ستاسو رمې
او پادې او خپلو ټولو شيانو سره چې درسره دي زما سره نژدې
اوسئ. ١١ زه به هلته په تاسو پام کوم، ځکه چې د قحطۍ پنځه کاله
لا پاتې دي. که تاسو رانه شئ نو تاسو، ستاسو کورنۍ او ستاسو
حيوانات به له لوږې څخه مړه شي. ١٢ تاسو په خپله او همدارنګه
زما ورور بنيامين وينې چې په رښتيا سره دا زه يم چې تاسو سره
خبرې کوم. ١٣ نو زما پلار په مصر کې زما د عزت او هغه څه څخه
چې تاسو وليدل، خبر کړئ او زر هغه دلته راولئ.» ١٤ بيا هغه خپل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لاسونه د خپل ورور بنیامین څخه راتاو کړل او ویې ژړل او بنیامین
هغه په غېږ کې ونیوه او ویې ژړل. ۱۵ هغه خپل ټول ورونه ښکل
کړل او ورته ویې ژړل. له هغې نه وروسته ورونو یې ورسره خبرې
وکړې.

۱۶ کله چې د فرعون ماڼۍ ته د یوسف د ورونو د راتللو خبر
ورسېده، نو فرعون او د هغه ټول درباریان خوشحاله شول. ۱۷
فرعون یوسف ته وویل: «خپلو ورونو ته ووایه چې داسې وکړئ،
خپل حیوانات بار کړئ او د کنعان خاورې ته ستانه شئ. ۱۸ خپل
پلار او خپلې کورنۍ ماته راولئ. هغوی ته به د مصر تر ټولو ښه
ځمکه ورکړم او هغوی به د خپل ژوندانه د اړتیا څخه زیات ولري.
۱۹ تاته زما امر دی چې هغوی ته ووایه: ‹داسې وکړئ چې د مصر
څخه د خپلو اولادونو او خپلو ښځو دپاره ګاډۍګانې بوځئ او خپل
پلار د ځان سره راواخلئ او راشئ. ۲۰ د هغو شیانو په اړه چې
تاسو یې د ځان سره نه شئ راوړلی هېڅ اندېښنه مه کوئ، ځکه چې
د مصر تر ټولو ښه ځمکه به ستاسو وي.›»

۲۱ نو د یعقوب زامنو همداسې وکړل او لکه څنګه چې فرعون


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

امر کړی ؤ، يوسف هغوی ته ګاډۍګانې ورکړې او هغوی ته يې د
سفر خواړه هم ورکړل. ۲۲ هغوی هر يو ته يې يوه يوه جوړه کالي
ورکړل، خو بنيامين ته يې درې سوه د سپينو زرو سکې او پنځه
جوړه کالي ورکړل. ۲۳ او خپل پلار ته يې د مصر تر ټولو ښو شيانو
څخه د خرو لس باره او په ډوډۍ، غلو دانو او نورو خوړو باندې بار
لس خرې د هغه د سفر دپاره ولېږلې. ۲۴ بيا هغه خپل ورونه
رخصت کړل او څنګه چې روان شول، نو هغوی ته يې وويل: «په
لاره کې شخړه مه کوئ.»

۲۵ نو دوی د مصر څخه ووتل او په کنعان کې خپل پلار يعقوب
ته راغلل. ۲۶ هغه يې خبر کړ: «يوسف تراوسه پورې ژوندی دی او
د مصر دوهم واکمن دی.» يعقوب هک حيران شو او د هغوی په
خبره يې باور ونه کړ. ۲۷ خو کله چې هغوی د يوسف ټولې خبرې
يعقوب ته بيان کړې او هغه ګاډۍګانې يې چې يوسف د هغه د
راوستلو دپاره رالېږلې وې وليدلې، نو د هغوی په پلار يعقوب کې
بېرته ساه راپيدا شوه. ۲۸ يعقوب وويل: «زه اوس کولی شم باور
وکړم چې زما زوی يوسف تراوسه پورې ژوندی دی. زه به لاړ شم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خپل مرګ څخه مخکې به هغهووینم.»

## يعقوب د خپلې کورنۍ سره مصر ته ځي

١ يعقوب چې هرڅه درلودل هغه يې واخيستل او بيرشبع ته لاړ
او هلته يې د خپل پلار اسحاق خدای ته قرباني وړاندې کړې. ٢
خدای د يعقوب سره د شپې په رويا کې خبرې وکړې او ورته ويې
ويل: «ای يعقوبه، ای يعقوبه!» هغه ځواب ورکړ: «زه حاضر يم.» ٣
هغه وويل: «زه خدای يم، ستا د پلار خدای. مصر ته د تللو څخه
مه ويرېږه، ځکه چې هلته به ستا څخه يو لوی قوم جوړ کړم. ٤ زه
به ستا سره مصر ته لاړ شم او په يقين سره به ستا اولاده بېرته دې
وطن ته راولم. کله چې ته مړ شوې، نو يوسف به دې ښخ کړي.»

٥ نو يعقوب د بيرشبع څخه روان شو. د هغه زامنو خپل پلار
يعقوب، خپل اولادونه او خپلې ښځې واخيستلې او په هغو ګاډيو کې
يې سپرې کړلې چې فرعون د هغوی د راوستلو دپاره لېږلې وې. ٦
همدارنګه هغوی خپل حيوانات او شتمني چې په کنعان کې يې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګټلي وو، واخيستل او يعقوب او د هغه ټوله اولاده مصر ته لاړل. ۷
نو هغه د ځان سره خپل زامن، لمسيان، خپلې لورګانې، لمسيانې او
خپله ټوله اولاده مصر ته بوتلل.

۸ د يعقوب د کورنۍ غړي چې د هغه سره مصر ته راغلل دا
دي: د يعقوب مشر زوی روبين. ۹ د روبين زامن: حنوک، فلو،
حزرون او کرمي. ۱۰ شمعون او د هغه زامن: يموييل، يامين، اوحد،
ياکين، صوحر او شاوول د کنعانۍ ښځې زوی. ۱۱ لاوي او د هغه
زامن: جرشون، قهات او مراري. ۱۲ يهودا او د هغه زامن: عير، اونان،
شيله، فارص او زارح. (خو عير او اونان په کنعان کې مړه شوي وو.)
د فارص زامن حصرون او حامول وو. ۱۳ يساکار او د هغه زامن:
تولاع، فوه، يوب او شمرون. ۱۴ زبولون او د هغه زامن: سارد، ايلون
او ياحلييل. ۱۵ دا د ليه زامن وو چې په بين‌النهرين کې يې يعقوب
ته وزېږول چې په هغو کې د هغې لور دينه هم شامله وه. د ليه د
اولادې ټول شمېر دري دېرش تنه وو.

۱۶ جاد او د هغه زامن: صفيون، حجي، شوني، اصبون، عيري،
ارودي او اريېلي. ۱۷ اشير او د هغه زامن: يمنه، يشوه، يشوي، بريعه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوی خور سارح وه. او د بريعه زامن حابر او ملکييل وو. ۱۸
دغه شپاړس تنه د يعقوب اولاده وه چې د زلفې څخه پيدا شوي وو
او زلفه هغه وينځه وه چې لابان خپلې لور ليه ته ورکړې وه.

۱۹ د يعقوب د ښځې راحيل زامن: يوسف او بنيامين. ۲۰ په مصر
کې د اون د کاهن لور اسنات يوسف ته منسي او افرايم وزيږول. ۲۱
بنيامين او د هغه زامن: بالع، باکر، اشبيل، جيرا، نعمان، ايحي، رش،
مفيم، حفيم او آرد. ۲۲ دغه څوارلس تنه د يعقوب اولاده وه چې د
راحيل څخه پيدا شوي وو.

۲۳ دان او د هغه زوی حوشيم. ۲۴ نفتالي او د هغه زامن:
يحصييل، جوني، يصر او شليم. ۲۵ دغه اووه تنه د يعقوب اولاده وه
چې د بلهې څخه پيدا شوي وو او بلهه هغه وينځه وه چې لابان
خپلې لور راحيل ته ورکړې وه.

۲۶ د هغو کسانو شمېر چې په خپله د يعقوب د نسل څخه وو او
د هغه سره مصر ته تللي وو، ټول شپږشپېته تنه وو چې په هغو کې د
يعقوب د زامنو ښځې شاملې نه وې. ۲۷ د يوسف زامن چې په مصر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کې پیدا شول دوه تنه وو. نو د یعقوب د کورنۍ غړي چې مصر ته
تللي وو ټول اویا تنه وو.

## یعقوب او د هغه کورنۍ په مصر کې

۲۸ یعقوب یهودا د ځان څخه مخکې یوسف ته ولیږه چې د
جوشن لاره ورته وروښايي. کله چې هغوی د جوشن سیمې ته
ورسېدل، ۲۹ یوسف خپله جنګي ګاډۍ تیاره کړه او جوشن ته د
خپل پلار د لیدلو دپاره روان شو او څنګه چې یې هغه ولیده، په غېږ
کې یې ونیوه او ډېر یې وژړل. ۳۰ یعقوب یوسف ته وویل: «اوس زه
مرګ ته تیار یم، ځکه چې ته مې ولیدلې او پوه شوم چې تراوسه
پورې ژوندی یې.»

۳۱ نو بیا یوسف خپلو ورونو او د خپل پلار کورنۍ ته وویل: «زه
ځم او د فرعون سره خبرې کوم او ورته به ووایم چې زما ورونه او
زما د پلار ټوله کورنۍ چې په کنعان کې اوسېدل، ماته راغلي دي.
۳۲ دا خلک شپانه دي او حیوانات ساتي او خپلې رمې، پادې او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرڅه چې یې درلودل د ځان سره یې راوړي دي. ۳۳ کله چې
فرعون تاسو راوغواړي او پوښتنه درڅخه وکړي چې تاسو څه
کسب کوئ، ۳۴ نو تاسو باید ځواب ورکړئ چې مونږ د هلکتوب
څخه د خپلو نیکونو په شان تراوسه پورې حیوانات ساتو. نو بیا به
تاسو ته اجازه درکړي چې د جوشن په سیمه کې واوسېږئ.» یوسف
دا خبره په دې خاطر وکړه چې مصریان د شپنو څخه کرکه کوي.

۱ نو یوسف لاړ او فرعون ته یې وویل: «زما پلار او زما ورونه
د خپلو رمو، پادو او خپلو ټولو شیانو سره چې درلودل یې د کنعان
څخه راغلي دي او اوس د جوشن په سیمه کې دي.» ۲ هغه د
خپلو ورونو څخه پنځه تنه غوره کړل او فرعون ته یې وروپېژندل.
۳ فرعون د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «تاسو څه کار کوئ؟» هغوی
ځواب ورکړ: «مونږ د خپلو نیکونو په شان شپانه یو. ۴ مونږ راغلي
یو چې د یو څه مودې دپاره په دې وطن کې واوسېږو، ځکه چې د
کنعان په خاوره کې ډېره سخته قحطي ده او هلته زمونږ د رمو دپاره
څړځای نشته. نو اوس مونږ ته اجازه راکړئ چې د جوشن په سیمه
کې واوسېږو.» ۵ فرعون یوسف ته وویل: «اوس چې ستا پلار او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورونه تاته راغلي دي، ۶ د مصر ځمکه ستا په واک کې ده. پرېږده
چې هغوی د جوشن په سیمه کې چې د دې هېواد تر ټولو ښه ځمکه
ده، واوسیږي. همدارنګه زه غواړم چې ستاسو ډېر ښه شپانه دې زما
پسونه او وزې وساتي.»

۷ بیا یوسف خپل پلار یعقوب راوست او فرعون ته یې
وروپېژانده. یعقوب فرعون ته برکت ورکړ. ۸ فرعون د یعقوب څخه
پوښتنه وکړه: «ستا عمر څومره دی؟»

۹ یعقوب ځواب ورکړ: «زما د عمر یوسلو دېرش کاله شوي
دي او د یو ځای څخه مې بل ځای ته کډه کړې ده. زما پلرونو او
نیکونو هم د یو ځای څخه بل ځای ته کډه کړې ده. خو هغوی اوږد
عمر درلود او د هغوی ژوند زما د ژوند په شان سخت نه ؤ.» ۱۰
یعقوب یوځل بیا فرعون ته برکت ورکړ او د هغه د حضور څخه
لاړ. ۱۱ نو یوسف د فرعون د امر سره سم خپل پلار او ورونو ته په
مصر کې ډېر ښه ځای چې د رعمسیس ښار ته نژدې ؤ، ورکړ. ۱۲
یوسف خپل پلار، خپلو ورونو او د خپل پلار ټولې کورنۍ ته د
هغوی د اولادونو د شمېر سره سم خواړه برابرول.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# قحطي

١٣ قحطي دومره سخته شوه چې په ټوله سيمه کې ډوډۍ نه وه
او د کنعان او مصر خلک د لوږې له لاسه کمزوري شول. ١۴ د مصر
او کنعان د خلکو سره چې څومره پيسې وې هغه ټولې يې د غلو د
اخيستلو په بدل کې يوسف ته ورکړې او يوسف هغه پيسې
واخيستلې او د فرعون په خزانه کې يې کېښودلې. ١۵ کله چې د
مصر او د کنعان د خلکو پيسې خلاصې شوې، نو ټول مصريان
يوسف ته راغلل او ويې ويل: «زمونږ ټولې پيسې خلاصې شوې،
مونږ ته غلې دانې راکړې. دې ته مو مه پرېږدئ چې تاسو راته
ګورئ او مونږ مړه کېږو.»

١۶ يوسف ځواب ورکړ: «که چېرې ستاسو پيسې خلاصې شوې
وي، نو خپل حيوانات راولئ. زه به ستاسو د حيواناتو په بدل کې په
تاسو باندې غلې دانې خرڅې کړم.» ١٧ نو هغوی يوسف ته خپل
حيوانات راوستل او يوسف د هغوی د اسونو، پسونو، وزو، غويانو او
خرو په بدل کې ورته غله ورکړه او په هغه کال يې هغوی ته د دوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د ټولو حیواناتو په بدل کې غله ورسوله.

١٨ کله چې هغه کال تېر شو، د قحطۍ په بل کال هغوی یوسف
ته راغلل او ویې ویل: «باداره، ستاسو څخه دا حقیقت نه شو پټولی
چې زمونږ ټولې پیسې خلاصې شوې دي او زمونږ حیوانات هم
ستاسو شول. زمونږ سره د خپل ځان او ځمکې څخه پرته نور څه نه
دي پاتې چې تاسو ته یې درکړو. ١٩ مونږ دې ته مه پرېږدئ چې
مړه شو! مه پرېږدئ چې زمونږ ځمکه شاړه شي. مونږ او زمونږ
ځمکه د غلو دانو په بدل کې واخلئ. مونږ به د فرعون غلامان شو او
هغه به زمونږ د ځمکې خاوند شي. مونږ ته غله راکړئ چې ژوندي
پاتې شو او تخم راکړئ چې خپلې ځمکې وکرو.»

٢٠ نو یوسف د مصر ټوله ځمکه فرعون ته واخیستله. مصریانو
هر یو خپله ځمکه خرڅه کړه، ځکه چې سخته قحطي شوه او ټوله
ځمکه د فرعون شوه. ٢١ یوسف د مصر د یو سر څخه تر بل سر
پورې خلک غلامان کړل. ٢٢ یوازېنۍ ځمکه چې یوسف په بیه نه
وه اخیستې، هغه د کاهنانو ځمکه وه، ځکه چې کاهنانو ته به د
فرعون له خوا یو څه ورکول کېدل چې خپل ژوند ورباندې وکړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په دې سبب هغوی خپله ځمکه خرڅه نه کړه. ۲۳ یوسف خلکو ته وویل: «اوس چې ما ستاسو ځمکې او تاسو د فرعون دپاره اخیستې یئ، دا دی تخم ستاسو دپاره چې په خپلو ځمکو کې یې وکرئ. ۲۴ خو کله چې د حاصل وخت راشي، نو تاسو به د هغې څخه پنځمه برخه فرعون ته ورکړئ او پاتې څلور برخې د ځمکو د تخم او خپل ځان، خپلو کورنیو او خپلو ماشومانو ته د خوراک دپاره وساتئ.» ۲۵ هغوی وویل: «باداره، تاسو زمونږ سره نېکي وکړه او زمونږ ژوند مو وژغوره. نو مونږ به د فرعون غلامان یو.» ۲۶ نو یوسف د مصر په خاوره کې دا قانون وټاکه چې د محصولاتو پنځمه برخه به د فرعون وي. دغه قانون تر نن ورځې پورې په خپل قوت پاتې دی. یوازې د کاهنانو ځمکه د فرعون جایداد نه شو.

## د یعقوب اخرنی غوښتنه

۲۷ نو اسراییلیان په مصر کې د جوشن په سیمه کې اوسېدل. په هغه ځای کې دوی شتمني لاسته راوړله او د ډېرو اولادونو خاوندان شول. ۲۸ یعقوب په مصر کې اوولس کاله ژوند وکړ او په یوسلو اووه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلوېښت کلنی کې مړ شو. ۲۹ کله چې د یعقوب د مرګ وخت
رانژدې شو، هغه خپل زوی یوسف راوغوښت او هغه ته یې وویل:
«که چیرې زه درباندې په ریښتیا ګران یم، نو خپل لاس دې زما د
ورون لاندې کېږده او زما سره قسم وخوره چې ما به په مصر کې نه
ښخوې. ۳۰ زه غواړم په هغه ځای کې ښخ کړای شم چې زما
نیکونه په کې ښخ دي. ما د مصر څخه یوسه او په کوم ځای کې
چې هغوی ښخ شوي دي هلته مې ښخ کړه.» یوسف ځواب ورکړ:
«څنګه چې ته وایې همداسې به وکړم.»

۳۱ یعقوب وویل: «ماته قسم وخوره چې ته به دا کار کوې.»
یوسف قسم وخوړ او یعقوب په خپل کټ باندې سر ټیټ کړ او شکر
یې ادا کړ.

## یعقوب افرایم او منسي ته برکت ورکوي

۱ څه موده وروسته یوسف ته خبر ورسېده چې پلار یې ناروغ
دی. نو هغه خپل دواړه زامن منسي او افرایم د ځان سره واخیستل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خپل پلار ليدلو ته ورغی. ۲ کله چې يعقوب خبر شو چې د
هغه زوی يوسف د هغه د ليدلو دپاره راغلی دی، نو هغه د خپل ټول
قوت څخه کار واخيست، ترڅو په خپل کټ باندې کښېناست. ۳
يعقوب يوسف ته ووېل: «مطلق قادر خدای ماته د کنعان په وطن
کې په لوز کې رابښکاره شو او برکت يې راته راکړ. ۴ ماته يې
ووېل: ‹تاته به زيات اولادونه درکړم. ستا د نسل څخه به زيات
قومونه جوړ کړم او دغه ځمکه به ستا څخه وروسته ستا اولادې ته
د هغوی د تلپاتې ملکيت په توګه ورکړم.›

۵ نو اوس ستا دوه زامن چې زما د راتللو څخه مخکې په مصر
کې زېږېدلي وو، هغوی زما دي. افرايم او منسي د روبين او شمعون
په شان زما زامن دي. ۶ له دوی څخه وروسته چې ستا کوم
اولادونه پيدا کيږي هغه به ستا وي او د هغوی ميراث به د افرايم او
منسي څخه وي. ۷ کله چې زه د بين‌النهرين څخه راتللم، نو په
خواشينۍ سره راحيل د کنعان په خاوره کې افراتې ته نژدې په لاره
کې مړه شوه. نو هغه مې د افراتې د لارې ترڅنګه ښخه کړه.» (هغه
ځای اوس د بيت‌لحم په نوم ياديږي.)


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۸ کله چې یعقوب د یوسف زامن ولیدل، هغه پوښتنه وکړه: «دا
څوک دي؟» ۹ یوسف خپل پلار ته وویل: «دا زما زامن دي چې
خدای ماته دلته په مصر کې راکړي دي.» بیا یعقوب وویل: «هغوی
ماته راوله چې زه ورته برکت ورکړم.» ۱۰ د یعقوب سترګې د
زوړوالي له امله دومره کمزورې شوې وې چې څه شی ورته سم نه
ښکاره کېده. نو یوسف خپل زامن هغه ته ورنژدې کړل او د هغه پلار
هغوی ښکل کړل او په خپل غېږ کې یې ونیول. ۱۱ یعقوب یوسف ته
وویل: «ما هېڅکله دا هیله نه درلودله چې ستا مخ به بیا ووینم او
اوس خدای زه دې ته پرېښودم چې ستا اولادونه هم ووینم.» ۱۲ بیا
یوسف هغوی د خپل پلار د زنګنونو څخه لیرې کړل او د درناوي په
خاطر یې هغه ته خپل سر ټیټ کړ.

۱۳ یوسف افرایم د یعقوب چپ لاس ته او منسي یې د هغه ښي
لاس ته نژدې راوستل. ۱۴ خو یعقوب خپل ښي لاس اوږد کړ او
هغه یې د افرایم په سر باندې کېښود، که څه هم هغه کشر ؤ او خپل
چپ لاس یې د منسي په سر باندې چې مشر ؤ، کېښود. ۱۵ بیا هغه
یوسف ته برکت ورکړ او ویې ویل: «هغه خدای چې زما پلرونو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ابراهيم او اسحاق يې خدمت کړی دی، هغه دې دغو هلکانو ته
برکت ورکړي! هغه خدای چې تر دې ورځې پورې يې زما
لارښوونه کړې، هغوی ته دې برکت ورکړي! ۱۶ هغه فرښته دې
هغوی ته برکت ورکړي چې زه يې د ټولو بديو څخه ژغورلی يم!
زما او زما د نيکونو ابراهيم او اسحاق نومونه دې د دوی په وسيله
ژوندي وساتل شي او هغوی دې ډېره اولاده ولري.»

۱۷ کله چې يوسف وليدل چې پلار يې خپل ښي لاس د افرايم
په سر باندې کېښود هغه خفه شو. نو د خپل پلار لاس يې ونيوه چې
د افرايم له سر څخه يې د منسي سرته راواړوي. ۱۸ يوسف هغه ته
وويل: «نه پلاره، دغه مشر دی. خپل ښي لاس دې د هغه په سر
باندې کېږده.» ۱۹ د هغه پلار انکار وکړ او ويې ويل: «ای زويه، زه
پوهېږم! زه پوهېږم چې د منسي څخه به هم يو لوی قوم جوړ شي.
خو د هغه کشر ورور به د هغه څخه لوی سړی شي، ځکه چې د
هغه د اولادې څخه به لوی قومونه پيدا شي.»

۲۰ په هغه ورځ يعقوب هغوی ته برکت ورکړ او ويې ويل: «د
اسراييلو قوم به يو بل ته ستاسو په نوم برکت غواړي او داسې به


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وايي چې خدای دې تا د افرایم او منسي په شان کړي.» په دې ډول
یعقوب افرایم ته په منسي باندې د لومړي‌توب حق ورکړ.

٢١ بیا یعقوب یوسف ته وویل: «ګوره، زه مرګ ته نژدې یم، خو
خدای به تاسو سره مل وي او تاسو به بېرته د خپلو نیکونو وطن ته
بوځي. ٢٢ د شکیم هغه حاصلخېزه سیمه چې ما د اموریانو څخه د
خپلې تورې او لیندې په زور نیولې ده، ستا ورونو ته نه، بلکې تا ته
درکوم.»

## د یعقوب اخرنی خبرې

١ یعقوب خپل زامن راوغوښتل او ورته ویې ویل: «راټول شئ،
ترڅو تاسو له هغه څه څخه خبر کړم چې په راتلونکې کې به په
تاسو باندې پېښ شي.

٢ د یعقوب زامنو سره راټول شئ واورئ

غوږ مو ونیسئ خپل پلار اسراییل ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ ای روبینه! زما مشر زویه

زما قوت یې ته زما د نارینتوب یې لومړنی نښه

یې په عزت کې بهتر او په قدرت کې بهتر

۴ یې بې‌کنټروله د سېلاب په شان

نور به د ټولو نه بهتر نه یې

په دې خاطر چې زما وینځې سره څملاستلې

او تا کړ ناپاکه د خپل پلار کټ

۵ دې شمعون او لاوي دواړه سره ورونه

خپلو وسلو نه هغوی کار اخلې چې ظلم وکړي

۶ شریک به نه شمه د دوی پټو خبرو کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه به د دوی په مجلسونو کې زه برخه واخلم

په دې خاطر چې په خپل قهر کې یې خلک ووژل

او په ملنډو یې غویان ګوډ کړل

٧ لعنت دې وي د دوی په قهر باندې

ځکه چې ډېر سخت ؤ

او په غضب د هغوی چې ډېر ؤ بې‌رحمه

د دوی نسل به په ټولو اسراییلو کې زه خپور کړم

او زه به یې خپاره کړم د خپل قوم په منځ کې

٨ ستا ستاینه به کوي ستا ورونه ای یهودا

خپل دښمنان به له ورمېږه نیسې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل سرونه به کړي ټيټ تاته ستا ورونه

٩ ای يهودا! ته د زمري بچی يې

چې خپل ښکار ووژني او شي راستون

خپل غار ته هغه

د زمري په شان ټيټيږي او څملي

هېڅوک نه شي کړای جرات هغه ناارام کړي

١٠ يهودا سره به وي شاهي امسا

تل به يې حکومت کړي اولاده

ټول قومونه به راوړي هغه ته باج

د ده په مخکې ټيټوي به هغوی د اطاعت سرونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ د انګور تاک پورې تړي به خپل خر

په ډېر ښه شاخ پورې به کوتې تړي

هغه کالي خپل په شرابو وينځي

هغو شرابو کې چېنه وينځي چې دي د وينو په شان

١٢ له شرابو څخه سرې دي د ده سترګې

له شيدو څخه دي سپين د ده غاښونه

١٣ زبولون به د درياب په غاړه اوسي

وي به بندر د کشتيګانو

تر صيدونه به يې سيمه ورسيږي

١٤ يساکار دی په مثال د قوي خر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې پرېوځي دی د دوه خورجينو منځ کې

۱۵ دی چې وګوري چې ځای د اوسېدو يې ښه دی

او ده خوشحالوونکې هغه خاوره

دی به بار ته خپله ملا کاندي راټيټه

د غلام په شان به کار ته شي مجبوره

۱۶ دان به کاندي په خپل قوم حکومت

وي به د اسراييلو د نورو قبيلو په شان هغوی

۱۷ دان به وي د سرک د غاړې مار

دی به په لاره کې وي منګری مار

هغه به پوندې د اسونو چيچي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ترخو ولويږي سپور کس يې له شا

۱۸ ستا د خلاصون په انتظار

يمه زه ای ښبتنه

۱۹ په جاد به وشي يرغل د يرغلګرو له خوا

دی به له شا نه په هغوی باندې يرغل وکړي

۲۰ د اشير ځمکه به وي ښه حاصلخېزه

ښه خوندور شاهي خواړه به يې تيار کړي

له حاصله ځخه

۲۱ نفتالي هغه هوسۍ ده چې وهي ازادې منډې

زېږوي ښکلي بچي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ دی یوسف یو حاصلخېزه تاک

یو مېوه‌داره ونه چې وي چینې په غاړه

چې يې څانګې وي ختلې په دېوال باندې

٢٣ کوي ده باندې سخته حمله خپل دښمنان

د خپلو غشو او لیندو سره په ده پسې شول

٢٤ خو لینده د هغه پاتې شوه ثابته

او شوې قوي د هغه متې

د یعقوب د قادر خدای په قدرت

په وسیله د هغه شپونکي

چې ساتندوی دی د اسراییلو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ دا دی خدای د ستا د پلار چې کړي کومک درسره
مطلق قادر خدای دی چې برکت درکوي
برکتونه د باران درکوي پاس له اسمانه څخه
او د چینو له اوبو چې دي د ځمکې لاندې
برکتونه به د ډېرو اولادونو او پادو درکړي
۲۶ ستا پلار چې کوم برکتونه دي موندلي
خپلو نیکونو څخه
هغه ډېر لوی دي او لوی دي له هغو
کوم چې راځي له ابدي غرونو
برکتونه دې دا ټول وي د یوسف په سر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د هغه چا په تندي چې شاهزاده دی
د خپلو ورونو منځ کې

۲۷ بنیامین دی په مثال د داړونکي لېوه
په سهار کې دی خوري ښکار خپل
په ماښام کې هغه وېشي غنيمت خپل»

۲۸ دا ټولې د اسراییلو دولس قبیلې دي او دا هغه څه وو چې د
هغوی پلار دوی ته د برکت ورکولو په وخت کې وویل او هر یو ته
یې هغه برکت ورکړ چې ورسره مناسب ؤ.

## د یعقوب مړ کېدل

۲۹ بیا یعقوب هغوی ته دغه وصیت وکړ: «زه به زر مړ شم او د
خپلو نیکونو سره به یوځای شم. ما د خپلو نیکونو سره په هغې
سمڅې کې ښخ کړئ چې د حیتي عفرون په پټي کې ده. ۳۰ دا هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سمخه ده چې د مکفیلې په پټي کې ممري ته مخامخ د کنعان په
خاوره کې پرته ده او ابراهیم هغه د پټي سره د عفرون څخه د
هدیرې دپاره اخیستې وه. ۳۱ دا هغه ځای دی چې ابراهیم او د هغه
ښځه ساره او اسحاق او د هغه ښځه ربکا په کې ښخ شوي وو او
هلته مې لیه هم ښخه کړه. ۳۲ هغه پټی او سمخه د حیتیانو څخه
اخیستل شوي وو.» ۳۳ کله چې یعقوب خپلو زامنو ته دا وصیت
وکړ، هغه بېرته خملاست او مړ شو او د خپلو نیکونو سره یوځای
شو.

۱ یوسف په خپل پلار باندې ورپرېوت او په هغه باندې یې
وژړل او ښکل یې کړ. ۲ بیا یوسف خپلو هغو ډاکترانو ته چې د
هغه خدمت یې کاوه حکم وکړ چې د هغه پلار یعقوب مړی مومیایي
کړي. نو ډاکترانو هغه مومیایي کړ. ۳ په دې کار باندې پوره
څلوېښت ورځې ولګېدلې او د مصر خلک اویا ورځې په هغه باندې
ویر وکړ.

۴ کله چې د هغه د ویر کولو ورځې تېرې شوې، نو یوسف د
فرعون درباریانو ته وویل: «که په ما مهرباني کوئ، نو زما په خاطر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فرعون سره خبرې وکړې او هغه ته ووایې: ۵ زما پلار ماته قسم راکړی دی چې: ‹زه مړ کېږم. ما د کنعان په خاوره کې په هغه قبر کې چې پخوا جوړ شوی ؤ، ښخ کړه.› اوس ماته اجازه راکړې چې لاړ شم او پلار مې ښخ کړم. بیا به بېرته راشم.» ۶ فرعون ځواب ورکړ: «لاړ شه او لکه څنګه چې پلار دې درته قسم درکړی دی، هغه ښخ کړه.»

۷ نو یوسف روان شو چې خپل پلار ښخ کړي. د فرعون ټول درباریان، د دربار لوړرتبه مامورین او د مصر ټول مشران د یوسف سره لاړل. ۸ د دوی سره د یوسف د کورنۍ ټول غړي، د هغه ورونه او د هغه د پلار کورنۍ هم لاړل. یوازې د هغوی اولادونه، رمې او پادې په جوشن کې پاتې شول. ۹ جنګي ګاډۍګانې او په اسونو باندې سپاره خلک هم د هغوی سره لاړل او دا یوه لویه قافله وه.

۱۰ کله چې دوی د اطاد درمند ځای ته چې د اردن د سیند په لمرخاته کې دی ورسېدل، نو ډېر سخت او په لوړ اواز یې وژړل او یوسف په هغه ځای کې د خپل پلار دپاره اووه ورځې د مړینې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مراسم ونیول. ۱۱ کله چې د هغه ځای اوسېدونکو کنعانیانو دا ولیدل، نو هغوی وویل: «مصریان ډېر سخت ویر او ماتم کوي.» نو ځکه هغه ځای چې د اردن د سیند په لمرخاته کې دی، د آبل مصرایم په نوم یاد کړای شو.

۱۲ نو څنګه چې یعقوب وصیت کړی ؤ، زامنو یې هماغسې وکړل. ۱۳ هغوی هغه د کنعان خاورې ته یووړ او ممرې ته نژدې یې د مکفیله د پټي په سمخه کې چې ابراهیم هغه د پټي سره د حیتي عفرون څخه د هدیرې دپاره اخیستې وه، ښخ کړ. ۱۴ یوسف د خپل پلار د ښخولو څخه وروسته د خپلو ورونو او هغو ټولو خلکو سره چې د جنازې دپاره د هغه سره تللي وو، بېرته مصر ته راستون شو.

# یوسف خپلو ورونو ته تسلي ورکوي

۱۵ کله چې د یوسف ورونو ولیدل چې د هغوی پلار مړ شو، نو هغوی وویل: «که چېرې یوسف زمونږ څخه لا تراوسه هم کرکه کوي او وغواړي چې د ټولو هغو بدیو بدله چې مونږ ورسره کړي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دي زمونږ څخه واخلي، نو بیا به څه کوو؟» ۱۶ نو هغوی یوسف ته
پیغام ورولیږه او ویې ویل: «زمونږ پلار د خپل مرګ څخه مخکې
دغه حکم کړی دی: ۱۷ یوسف ته به داسې ووایئ چې زه ستا څخه
دا غوښتنه کوم چې د خپلو ورونو ګناهونه او خطاګانې او هغه بد
چلند چې ستا سره یې کړی دی، وبخښه. اوس زمونږ یعنې د خپل
پلار د خدای د غلامانو ګناهونه وبخښه.» کله چې یوسف د هغوی
پیغام ترلاسه کړ، نو ویې ژړل.

۱۸ بیا د هغه ورونه په خپله راغلل او د هغه په وړاندې یې خپل
سرونه ټیټ کړل او ویې ویل: «مونږ ستا غلامان یو.» ۱۹ خو یوسف
هغوی ته وویل: «مه ویریږئ. ایا زه خدای یم؟ ۲۰ تاسو زما په
خلاف د بدو پلان درلود، خو خدای هغه په نیکۍ باندې بدل کړ د
دې دپاره چې د ډیرو خلکو ژوند وژغوري او لکه څنګه چې وشول
هغوی نن ژوندي پاتې دي. ۲۱ نو بیا مه ویریږئ. زه به په تاسو او
ستاسو په اولادونو باندې پام کوم.» نو هغوی ته یې تسلي ورکړه او
په مهربانۍ سره یې ورسره خبرې وکړې.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د یوسف مړینه

۲۲ یوسف د خپل پلار د ټولې کورنۍ سره په مصر کې پاتې شو.
هغه یوسلو لس کاله ژوند وکړ. ۲۳ یوسف د افرایم د اولادونو او
لمسیانو د لیدلو پورې ژوندی ؤ او همدارنګه هغه تر هغې پورې
ژوندی ؤ چې د منسي د زوی ماخیر اولادونه یې هم په خپله کورنۍ
کې ولیدل. ۲۴ یوسف خپلو ورونو ته وویل: «زه مرګ ته نژدې
شوی یم. خو بې له شکه چې خدای به تاسو وساتي او تاسو به له
دې وطن څخه هغه وطن ته بوځي چې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب
سره یې قسم خوړلی دی.» ۲۵ یوسف د یعقوب د کورنۍ خلکو ته
قسم ورکړ او ورته ویل: «زما سره دا وعده وکړئ کله چې خدای
تاسو هغه هېواد ته بیایي، نو زما مړی به له ځان سره وړئ.» ۲۶ نو
یوسف د یوسلو لس کالو په عمر په مصر کې مړ شو. وروسته له دې
چې هغه یې مومیایي کړ، په تابوت کې یې کېښود.

afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳